
متخصصه
ناول
لیکوال فیصل جان ستومان
0774077555
HTTPS://CHAT.WHATSAPP.COM/
KJL9WZCA4FNDJ5KSHIBDPB
لیکوال : فیصل جان ستومان

# اوله برخه

عملیات خونې ته راننوته

یوه ډاکټره او دوه نرسانې یې شاته ودریدې

سپینه چپنه شنې نرۍ جامې د وریښمنو جوړ مړوندونه او د سترګو یې هیڅ د اظهار توري نۀ پیدا کیدل

سلام یې وکړ او زیاته یې کړه نوکریوال انستیزیلوګ څوک دی؟

ما سترګې ور پورته کړې نوکریوال زه یم

ویل یې سمه ده نو کار دې شروع کړه

انستیزیلوګ ناروغ ته د عملیاتو مخکې نشه ورکوونکې ته وایي

نن شنبه وه نو عملیاتونه هم زیات وو

متخصصه تازه راغلې وه اولنۍ متخصصه وه چې له دې مخکې موږ په روغتون کې ښځینه متخصصه نۀ درلوده

د متخصصې راتګ او بیا داسې متخصصه لکه په روغتون چې خدای ج ځانګړی رحم کړی وي

اول نمبر عملیات خانه کې مو د یوې مېرمنې عملیات پیل کړل خو زما ټول پام د متخصصې جرات ادب زړورتیا او کار ته ؤ

د ښځینه ناروغانو د عملیاتو پر مهال د ډاکټرو او نارینه انستیزیلوګ تر منځ یوه وړه پرده موجوده وي چې انستیزیلوګ باید د ناروغ عملیاتو برخې و نه ویني ځکه چې استیزیلوګ یوازې د ناروغ سر ته ولاړ وي او د ناروغ د اکسیجن او وینې کمیدنې مسوولیت لري

چون بیا هم د ډاکټرې حرکات د لاسونو ورل راوړل او د هغې فعالیت معلومیږي

نه پوهېږم د نن مخکې زه هیڅ د داسې چا تر تاثیر لاندې نه وم راغلی ځکه چې د روغتون په چاپیریال کې ما هم یو ښه نوم درلود چې کله کله به مې خلکو یو بل ته کیسې کولې ترڅنګ یې روغتون سپیڅلی او د دې ټول خبرو ور پورې ځای ؤ زموږ کار یوازې د ناروغ سره مرسته وه

مګر بیا هم نن یې ارادې وم نه پوهیدم چې ولې

متخصصه اخته ده او زه یې د کار په ننداره یم فزیکي قوت د لاسونو طاقت ذهني جوړښت دا ټول هغه څه وو چې ما تر اوسه په بله ښځینه ډاکټره کې نه وو لیدلي

د طب د برخې یو څو ځانګړې وصول دا دي چې د فکري او ذهني مهارتونو ترڅنګ به د فزیکي ښه جوړښت څخه هم برخمن یې لکه د متخصصې زړورې او غښتلي مټې د سترګو په رپ کې د یو ناروغ کمیاب عملیات ترسره شول ناروغ ریکورۍ ته ولیږل شو او موږ د دوهم ناروغ د عملیاتو لپاره په تیاري اخته شوو

ریکوري هغه خونه ده چې ناروغ د عملیاتو وروسته د څلورویشتو ساعتونو لپاره پکې ساتل کیږي

متخصصه د عملیات خونې د لاسونو منځلو ځای ته لاړه د لاسونو یې سپین دستکش لرې کړل لاسونه یې پریمنځل او بېرته دروازې ته راوګرځیده

اچولی ماسک یې برابر کړ سترګې یې راپورته کړې ووښئ ستاسو نوم څۀ دی؟

زیاته مې کړه مننه اغلې زما نوم خیبر دی او د پنځو کالونو راهیسې د ملکي روغتون سره یم

ویل یې ډېر ښهٔ دا خو پوره تجربه کاره یې

بیا مې مننه وکړه او د متخصصې نوم مې ووپوښت تر هغې یې د عملیات خونې په عمومي دروازه دوهم ناروغ را د ننه کړ ور مخکې شوم او ناروغ مو دوهم نمبر عملیات خونې ته داخل کړ

ناروغ ته مې د نشې ورکولو کار پیل کړ زما کار په ختمیدو ؤ چې متخصصه راننوته څنګه شو خیبره؟

ما ویل اغلې بس ناروغ د نشې اخیستلو پهٔ خال کې دی کولای شو چې عملیات شروع کړو

متخصصې بسم الله کړه او عملیات مو شروغ کړل

د تېرو عملیاتو پهٔ شان بیا هم متخصصه اخته شوه ته وا دوه سوه لاسونه یو ځای عملیات ترسره کوي

زه همغه شان د متخصصې د کار او ځیرکتیا پهٔ ننداره یم چې متخصصې راغږ کړ خیبره څنګه دی د ناروغ حالت

زیاته مې کړه بیخي نورمال حالت لري تاسو خپل کار ته ادامه ورکړئ

چون د دې ناروغ حالت له مخکې یو څه خراب ؤ ځکه یې د اکسیجن اخیستلو پوښتنه کوله

دوهم ناروغ هم د ریکورۍ په طرف روخصت شو متخصصه بیا د لاسونو د منځلو په طرف روانه شوه لاسونه یې وومنځل ځان یې برابر کړ او زما خواته راغله

ووبښئ چې په ناروغ اخته شوو زما نوم وړانګه دی د کابل د طب پوهنځۍ مې ویلي او په پلاني روغتون کې مې دوه کاله وړاندې تخصص کړی شخصي دنده د بې سرخده روغتون سره لرم او اوس تازه ملکي روغتون ته د ټرینرې په صفت راغلي یم

ټرینره هغه متخصصې ته ویل کیږي چې نورو ابم ډې ډاکټرو ته کار ور زده کوي

مننه مې وکړه او زیاته مې کړه د خدای ج پیروزینه ده چې ملکي روغتون ته ستاسو په شان متخصصه راغله باور وکړئ چې زه مو کار او ځیرکتیا ته حیران پاتې یم نه پوهېږم کوم ډول به ستاسو ستاینه پر ځای شي

وو یې ویل هیله کوم ستاسو لطف دی چېرته مو درسونه ویلي؟

وو مې ویل کلونه وړاندې د ښوونځي د اخیرنۍ دورې پر مهال یوه شخصي روغتون ته راغلم هغوی سره مې د نرس په صفت د کار زده کول پیل کړل لنډه موده کې په ډېر څه پوه شوم د هغې وروسته ملکي روغتون ته د نرس په صفت راغلم او بیا د انستیزۍ برخې ته رابدل شوم اوس دلته د ملکي روغتون سره یم او بعد له وخت د شخصي پوهنتون ته ځم چې د طب مې اخیرنی کال دی

څو ځلې یې ماشاءالله وویل او د بریاوو هیله یې راته وکړه نن مو مثلثل څو عملیاتونه ترسره کړل اخیرنی ناروغ هم عملیات شو او ریکورۍ ته ولیږل شو

متخصصې سترګې راپورته کړې لکه چې ستړی شوې عملیات ډېر وو

ما ویل نه اغلې همدا مو مسوولیت دی

ویل یې هو مسوولیت خو دی مګر ته هم ډېر تکړه یې د عمر له لحاظه هم کم ښکارې او بیا با استعداده هم یې

د متخصصې د خولې داسې ډاډ اوریدل هم د اختر کم نه وو خوشاله شوم او مننه مې وکړه

متخصصې په سر ترل شوی سپین پلاستیک لرې کړ ګیډۍ ګیډې زلفې یې په مخ راړنګې شوې دوو نرسو ته یې د عملیات شویو ناروغانو د پاملرنې سپارښتې وکړې په تلو کې یې خدای پاماني واخیسته او د ښځینه واټ په لور روانه شوه

# دوهمه برخه

د عملیات خونې د عمومي دروازې ترڅنګ د معلوماتو ورکولو او عملیات خانونې تر منځ په کوچنۍ دیوالګۍ مې دواړه لاسونه ورکېښودل عجیب فکر او احساس واخیستم څو شیبې وروسته دوهم نوکریوال په مټ لاس راکېښود خیېره په کومو خیالونو کې تللی یې؟

مخ مې ورتاو کړ وویښه بې فکره شوی وم

و یې خندل ښهٔ چې خیرت وي نور یې غم مهٔ کوه نور نوکریوالان راغلل راځه چې زه او ته هم د تګ تیاری ونیسو د هو په مانا مې سر ووښوځوو او روان شوو

څو کتابونه او کمپیوټر مې راواخیستل د روغتون راووتو

پهٔ لاره هم د عجیبو خیالونو مل وم

لکه څهٔ مې چې ورک کړي وي

ښار ته ورسیدو د ملګري د موټر ښکته شوم او کور ته روان شوم شیبه وروسته کور ته ورسیدم

کتابونه او کمپیوټر مې کېښودل او خپله پر کټ وغځیدم د متخصصې زوروې چارې بار بار ذهن ته راتلې

دومره تکړه والی دومره ځیرکتیا او نور

په همدې سوچونو کې ویده شوی وم چې راپورته شوم بیخي ناوخت ؤ

د کور عمومي اطاق ته لاړم مور سره مې روغبړ وکړ او تر هغې یې ډوډۍ راوړه

ډوډۍ مې ووخوړه او بېرته د مور په اجازه خپل اطاق ته لاړم د ماسختن لمونځ مې ادا کړ او خپل کټ ته پورته شوم کتاب مې راوخېست مطالعه مې پیل کړه خو د مطالعې مخه مې و نه لیده بېرته مې کتاب بند کړ په موبایل کې مې فسبوک راخلاص کړ څو ځلې پکې ښکته پورته شوم هغې هم خوند رانکړ

سندره مې چالان کړه د نصرت فتح علي خان غږ او بیا د شعر انتخاب بیخي ځانګړی کیف لري

سوچتا هو کې وو کِتنا معصوم تې

کیا سې کیا هوګیا دیکهتې دیکهتې

زما ذوق طبیعي د داسې سندرو او کهاوالیو مل ؤ ګني تر اوسه مې د مینې په نوم څهٔ نه پېژندل

له اوله مې د ادبیاتو سرهٔ جوړه وه کله کله به مې یو نیم غزل یا نظمونه هم لیکل خو د کورنۍ غوښتنه دا وه چې زه باید طب وو وایم

شپه تر لسو واوښته خو زما خوب داسې ورک ؤ لکه د تنبل شاګرد چې په پارچه کې ځوابونه ورک وي

لټ په لټ اوړم خوب قسم کړی چې نهٔ درځم ګني زه به د شپې د لسو بجو مخکې ویده کیدم

دوولس بجې شوې ناست یم او فکرونه کوم جالبه یې دا وه چې د بې خوبۍ سبب هم نه ؤ معلوم

نۀ پوهېږم څنګه او کله به ویده شوی وم خو چې سهار راپورته شوم د بې خوبۍ احساس مې کاؤ

پوهنتون ته د تګ تیاری مې وکړ او روان شوم

صنف ته ننوتم پر چوکۍ کېناستم استاد راغی او پر پرونۍ موضوع یې خبرې شروع کړې

زه عاجز نور د موضوع نه یم خبر شوی چې استاد څۀ وویل او نوي یې پکې څه تشریح کړل

اصف په ځنګ ووهلم خیبره چې شد؟

اصف مې همصنفي ؤ ډېر شوخ ؤ اکثره وخت به یې د انګلیسي او دري جملې د شوخۍ لپاره کارولې

جټکه مې ووخوړه او بیدار شوم

بیا یې وویل تاته وایم نن ښۀ نه یې

و مې خندل او زیاته مې کړه یاره بې خوبه یم بیګا مې خوب نۀ دی کړی ځکه داسې بې مزې یم

اصف وخندل واټ ابز دبس ته خو وختي ویده کېږې ولې بې خوبه یې؟

وو مې ویل نه پوهېږم بیګا هیڅ خوب نه راتلو

اصف د ناز څپېړه راکړه ملګریه چتي وتي خو څوک نه بې خوبه کیري مین شوی خو نه یې؟ هسې نه په کومه همصنفۍ دې زړه بایللی وي

ما ویل نه سړیه زه او زړه بایلل سره لرې خبره ده

زیاته یې کړه نو بیا ولې بې خوبه یې او ستونزه څۀ ده؟

ما وې پرېږده یاره د استاد نوي خبرې راته وکړه پرونۍ موضوع کې یې څۀ اضافه کړل

اصف بیا کټ کټ وخندل یاره نو چې سړی دې روغ رالاندې کړې ولې موضوغ ته غوږ نۀ ږدې

وو مې ویل ته اوس دا تورې سپینې پرېږده د استاد موضوع راته تشریح کړه

اصف اخته شو استاد د زړه د زربان او دریدلو په اړه وغږېد او د هغې مهم سببونه یې بیان کړل

بعضې شیان مې نوټ کړل او بل استاد راغی

همداسې مثلثل ساعتونه تېر شول د اصف سره یو ځای د پوهنتون راووتم اصف ویل چې ښار ته ځې که روغتون ته ما ویل زه ځم روغتون ته او ته ښار ته لاړ شه

ویل یې سمه ده خو تاته مې اندیښنه شوه هسې نه څه ستونزه وي او ماته یې نه وایې

ما وې نه یاره هیڅ هم نشته ورځه لاړ شه

ویل یې سمه ده په ځان پام کوه

روغتون ته ورسیدم لباس مې بدل کړ او عملیات خونې ته ننوتم برخال نوکریوال لاس کړ ویل یې ته راغلې زه به نور درڅخه لاړ شم

ما ویل سمه ده ته ورځه هغې روخصت واخیست او لاړ

د عملیات خونې هرې خواته مې وکتل خو نن ټول نارینه پرسونل ؤ

نوکریوال ډاکټر راغی ویل يې چې ډوډۍ به ووخورو د لمنځونو وروسته به کار شروع کړو

ما ویل سمه ده

نن دوه عملیاتونه وو يو د پنډېکس ناروغ ؤ او بل کوچنی ماشوم چوره شوی ؤ

عملیات مو ترسره کړل او نور خپل اطاق ته لاړم

نني عملیات د پرون په شان جالب نه وو

د عملیاتو خوښ نه وم په کومه وجه نه پوهیدم

خفه او تغیر غوندې وم

ډېر کوشش مې وکړ چې د دې ذهني سټرېا او روان حالت سبب پیدا کړم خو نه به توانیدم

په همدې کشمکش کې وم چې د ښځینه واټ حالا راغله سلام يې وکړ او زیاته يې کړه ښځینه واټ کې يو ناروغ لرو او لږ وروسته يې عملیات ترسره کوي ډاکټرې ویل چې دوی ته خبر ورکړه

ما ویل سمه ده زه تیاری نیسم

حالا لاړه او زه په لومړنیو ترتیباتو اخته شوم نه پوهیدم چې نوکریواله ډاکټره به کومه يوه وي چې عملیات ترسره کوي

شل دقیقې وروسته د عمومي دروازې د لرې کیدو غبږ راغی په بیړه د عملیات خونې سالون ته راووتم

د مخامخ دروازې متخصصه راننوته همغه پرونۍ ډاکټره

سټرګې مې وغړیدې تازه غوندې شوم لکه د کوم کس چې تازه تبه وتلې وي ور مخکې شوم او متخصصې ته مې ښه راغلاست وکړ

هغې مننه وکړه ویل يې ته ښه يې ورځ دې ښه وه

الحمدالله مې وویل او زیاته مې کړه ستاسو ورځ ښه وه

ویل يې هو شکر ډېره ښه وه

تر هغې درې غبرګې نرسانې راغلې د متخصصې څنګ ته ودریدې

یوې يې وویل د ناروغ پیواز بې درکه دی چې ګوته ولګوي تر هغې به انتظار شو

متخصصې سر ووخوځوو اخته شوه دا څنګه پیوازان دي چې ناروغ يې عملیات کیږي او دوی بې درکه دي

خبره کې ور ولویدم ووبښئ زه به د روغتون دروازه کې ساتونکي ته د پیواز نوم ورکړم چې لوډسپیکر کې غږونه پرې وکړي

ویل يې سمه ده خو ته مه ځه حالا ته يې مخ ورتاو کړ چې لاړه شه ساتونکي ته د پیواز نوم ور کړه

حالا لاړه متخصصې ماته راوکتل نن مو عملیات وو؟

وو مې ویل هو زه غرمې ناوخت د پوهنتون راغلم خو دوه عملیاتونه مو ترسره کړل

ویل يې ډېر ښه درسونه دې څنګه دې؟

# دریمه برخه

ویل یې ډېر ښه درسونه دې څنګه دي؟

زیاته مې کړه ښهٔ دي روان دي

و یې خندل چې ښهٔ دي که پوره یې تعقیبوې

ما ویل نه ډېر کوشش کوم

ویل یې ډېر ښه تکړه شه ستا راتلونکی روښانه دی

مننه مې وکړه او نږدې چوکۍ ته مې اشاره وکړه چې اغلې تر هغې دلته کېنئ

متخصصه په چوکۍ کېناسته موبایل یې راواخېست شیبه وروسته یې وویل چې دلته خو د موبایل انتن هم کار نه کوي لکه چې عملیات خونه ډېره ښکته ده

ما ویل هو دلته موبایل سم کار نه کوي

شیبه غلې وه نرسې ته یې غږ کړ ته ووګوره چې د ناروغ پیواز پیدا شو که تر اوسه ورک دی

نرسه د عملیات خونې ووته متخصصې بېرته ماته مخ راتاو کړ تاته خو به کومه ستونزه نه وي چې روغتون ته راځې؟

ما ویل نه اغلې ډاکټرې کله کله ناځاپي زنګ راشي د پوهنتون راووځم ګني هومره ستونزهنه وي

ویل یې ښهٔ ته دې د موبایل شماره راکړه موږ به ستا د درس وروسته د عملیاتو ناروغ نیسو

شماره مې ورکړه او ثبت یې کړه

د ناروغ پیواز راغی ګوته مو ترې ولګوله او ناروغ عملیات شو ډاکټرې لاسونه وومنځل د عملیات خونې راووته او زیاته یې کړه چېرته اوسېږې؟

وو مې ویل ښار کې ژوند کوو د ښار په څنډه کې که بده یې نه ګڼئ تاسو چېرته اوسېږئ؟

ویل کومه خبره نه ده زه د ښار په یوه فامیلي ټاور کې اوسېږم اصل کې زه د کابل ولایت یم خو دلته مسافره یم

ما ویل نور څوک درسره نشته د کورنۍ غړي؟

ویل یې نه یوازې یم

ما ویل دا خو سخته ده

نرۍ مسکا یې وکړه خیر دا مسوولیتونه دي د خلکو خدمت او راتلونکی جوړول د داسې مبارزو تر چتر لاندې وي

وو مې ویل هو بالکل مبارزه او خدمتونو مو یوه نمونه ده ښاده او اباده اوسې

د منني په کولو یې د خولې ماسک لرې کړ کثافت دانۍ ته ورټیټه شوه د مبارکې خولې لاړې یې ور تو کړې

ما یې یوازې سترګې لیدلې وې خو د مخ لیدل یې د ورځې د سپوږمۍ لیدل وو هومره نور او جمال پکې ؤ چې حق پق پاتې شوم

هغې بېرته ماسک اچولی ؤ خو زه په خپل خال نه وم څو ځلې یې د خیبر خیبر غږ کړی لاس یې زما سترګو ته مخته کړ هیلو اورې؟

جیټکا مې ووخوړه وو مې وویل ووبښئ اغلې

ویل یې بیخي بې پامه شوې خیرت خو به وي؟

زیاته مې کړه بیگا مې تر ډېره مطالعه کړي بې خوبه وم ممکقن د هغې اثر وي

ویل یې سمه ده خو ارام او خوب ته وخت ورکوه او مطالعه هم په خپل وخت کوه

نرسانې د عملیات خونې رابهر شوې د متخصصې ترڅنگ راغلې ویل یې کارخلاص شو

متخصصې ماته وکتل بیگا ته نوکري یې؟

ما وې هو اغلې

زیاته یې کړه شاید نور عملیات ونلرې لاړشه ارام وکړه

ما ویل سمه ده مننه

متخصصې نرسانو ته د تگ اشاره وکړه ویل یې د اوس لپاره ښه وخت

ما هم د ښه وخت وویل او دوی د عملیات خونې ووتې

زه عاجز بیا د فکرونو او خیالونو بادونو ته پاتې شوم څو شیبې هلته پر چوکۍ کېناستم د هغې وروسته اطاق ته لاړم زما د اطاق کړکۍ د مرده خانې دروازې ته مخامخ وه د کړکې پرده مې پورته کړه او بهر مې وکتل

د مرده خانې تر مخې دوه درې تابوتونه ایښودل شوي وو چې وارثینو یې د وړلو لارې چارې سمولې

هغه ټپه رایاده شوه چې

ما ویل چې زه به درته ژاړم

تا د بازاره سترگې سرې راوړي دینه

ما فکر کوؤ چې د اطاق بهر به ووگورم گوندې یو څه ذهني سکون ووم خو هلته بیا د ژړاگانو او خفگانونو دُنیا روانه وه بېرته مې کړکۍ بند کړه او پرده مې واچوله

پر خپل ځای وغځیدم فکر مې وکړ چې ولې داسې یم یعنې ځان مې ووپوښت ایا کورنۍ ستونزې لرم؟ نه

ایا اقتصادي ستونزې لرم؟ نه

ایا کوم څوک مو وفات شوي؟ نه

ایا دنده کې کومه نیمگړتیا او ستونزه رامنځته شوې؟ نه

د دې ټولو پوښتنو ځواب نه ؤ مگر بیا هم ستونزه وه ځکه بغېر د ستونزې ولې د داسې حالت سره مخ شم

همدا کشمکش کې اخته وم چې ویده شوی وم

# څلورمه برخه

دروازه راوټکېده سترګې مې وغړولې ساعت مې وکتل تقریباً د شپې اته بجې وې پورته شوم او د دروازې پهٔ طرف روان شوم تر هغې بیا دروازه وټیکده غږ مې کړ صبر درغلم

دروازه مې خلاصه کړه د روغتون اشپاز ولاړ ؤ ویل یې ډوډۍ دې تیاره ده یو ځل مخکې هم راغلم خو دروازه دې خلاصه نهٔ کړه

ما وې ووبښه ویده شوی وم

ویل یې خدای ج دې ووبښه دلته ډوډۍ درته راوړم که د اشپاز خونې سالون ته راځې

ما ویل که زحمت نه وي دلته یې راوړه

اشپاز روان شو او زه د اطاق په برابرولو اخته شوم شیان یوې او بلې خواته پراته وو

لاړم اودس مې وکړ تر هغې اشپاز ډوډۍ راوړه

ډوډۍ ته کېناستم خو زړه ته مې نه کیده د ډوډۍ پنځه برخه به مې خوړلي وي نور مې پرېښوده

د عملیات خونې دوهم نوکریوال راغی زیاته یې کړه

ماښام مې ولټولې خو نه ښکاریدې

و مې ویل یاره ویده شوی وم لږ مخکې راپورته شوم

موږ به کله کله د مازدیګره د روغتون تر مخې چپس خوړل یا به د روغتون پهٔ نورو برخو راګرځیدو

دوهم نوکریوال د چایو پیاله راډکه کړه او وو یې ویل

خیبره دغه نوي متخصصه خو بیخي په لوړه سطخه ده د هرې نګاه په زړه پورې ده

ما ویل څنګه؟

ویل یې بیخي عالي ده زیاتې خوبۍ لري زه به یې کومه درته بیان کړم

ما وې بیا هم لکه څهٔ ډول

و یې خندل او زیاته یې کړه نو غل تر کوره مه ځغلوه خو تکړه ښایسته او هر څهٔ ده

ما ویل هو خود به داسې وي اخِر متخصصه ده

دوهم نوکریوال ته د روغتون صفاکار راغږ کړ چې یو ناروغ مرستې ته اړتیا لري هغه ناروغ پسې ورغی او ما کور ته د زنګ وهلو کوشش وکړ زما اطاق کې هم د شبکې پیدا کول اسان نه وو خو پیدا شوه د کور اخوال مې واخېستو نور بهر راووتم

عاجلې خونې ته ورسیدم ناڅاپي مې پر عمر سترګې ولګیدې ورغلم سلام عمره څنګه راغلی یې روغتون ته؟

ویل یې وراره مې راوړی یو څهٔ سینه بغل ؤ تاته مې زنګونه وکړل خو موبایل دې بند ؤ

ما وې زه عملیات خونه کې وم هلته موبایل سم کار نهٔ کوي نو ځکه به بند وي

عمر مې د ترور زوی ؤ

تر ډېره بهٔ یو بل سره وو او ملګرتیا مو د خپلوۍ پاخه وه زما اکثره ستونزې او د مشورو شریک کول هم د عمر سره وو

عمر ویل زموږ ماشوم اوس ښهٔ دی نور کور ته ځو

ما وې نور څوک درسره دي؟

ویل یې دوه وروڼه مې راسره دي

ما ویل که ستونزه نهٔ وي ته نن ما سره روغتون کې پاتې شه زړه مې خفه دی

یو څو کمزورې بهانې یې وکړې خو اخِر مې رضا کړ

د عمر وروڼه او وراره مو روخصت کړل زه بېرته د عمر سره خپل اطاق ته راپورته شوم

عمر ته مې د ډوډۍ وویل ویل یې خوړلي مې ده ما د چای پیاله ور ډکه کړه

عمر پوښتنه وکړه تا هلته د زړه د خفګان خبره وکړه ته او خفګان سره لرې نه یې؟

و مې خندل ولې تاته زه کانی ښکارم؟

ویل یې نه خو ستا تل د خپلې دندې او درسونو سره فکر وي ځکه مې وویل

ما ویل عمره دنده دې څنګه ده؟

سوړ اصویلی یې وکړ غلی ؤ او زیاته یې کړه پوښتنه یې مه کوه د دندې د لاسه د پرون راهیسې لیونتون ته نږدې شوی یم

عمر د ښځو چارو ریاست مالي مسوؤل ؤ

ما ورته لنډۍ وویله چې

زما پهٔ خپله زړه نری دی

ستا غریو نیولی غږ مې زړه سوری کوینه

عمر په خندا کې وویل یاره یو خو ته زموږ د ادبیاتو ځهٔ غواړې خپل طبابت دې کوه

ورغبرګه مې کړه کیسه دې وکړه د دندې ولې خفه یې؟

ویل یې اوږده کیسه ده پرېږده یې

ما ویل نه راته ووایه

ویل یې تېره اونۍ د مستوفیت څخه خپل ریاست ته روان شوم او پروني زموږ ریسې د ریاست ساتونکي هم د دندو لرې کړي وو

د ریاست دروازې ته چې ورسیدم په دروازه کې نوی کس ناست ؤ پوښتنه یې وکړه چېرې ځې؟

ما ورته وویل چې ریاست ته ځم همدلته مې دنده

کس ښښنه ووغوښته ویل یې زه نوی یم او نن راغلی یم

ما ویل ستونزه نشته او د ننه روان شوم کس بیا راپسې غږ کړ ته لږ ودرېږه دلته یوه نجلۍ راغلې ده غواړي چې د ریاست د ریسې او کارمندانو سره ووګوري

زه د نجلۍ په طرف ورغلم نجلۍ د ساتونکو په وړه غورپه کې ناسته وه تقریباً پنځلس کلنه به وه نرۍ ټیکرۍ تنګې جامې او د حسن پرې ړنګه وه

نجلۍ ته مې سلام وکړ او وو مې پوښتل ته څوک یې او څۀ غواړې

نجلۍ یریدلې وه په لړزیدلي انداز یې وویل زه د ریاست د ریسې سره وینم

ما ویل څۀ خبره ده خو ماته ووایه

ویل یې نۀ د ریسې او یا نورو کارمندو سره ګورم

ما ویل سمه ده زه ریاست ته داخل شوم او مخامخ د دوهم منزل ریسه راښکته شوه سترې مه شې مو وکړه او ریسې زیاته کړه معاشونه جمعه شول؟

ما ویل هو اغلې ریسې سبا ورځ یې اخیستلی شی

ویل یې افرین هغه نورې خوالې څنګه شوې؟

ما وې په هغې هم کار روان دی ان شاءالله ژر به وشي

ریسې د ډوډۍ خوړلو راته وویل چې ورشه ډوډۍ دې ووخوره

ما بېرته ورغبرګه کړه ووبښئ بهر یوه نجلۍ راغلې ده غواړي چې تاسو سره ووینې

ریسې ویل ستونزه یې څۀ ده؟

ما ویل نۀ پوهېږم تا سرۀ ګوري

ریسې وویل یو خو د رسمیاتو وخت نه دی او بل یې ستونزه نۀ ده معلومه ورشه ترې ووپوښته چې څۀ وایي

زه بیا نجلۍ پسې ور ووتم

نجلۍ ته مې وویل اوس غرمه ده د ډوډۍ او لمنځونو وخت دی او بل دا چې ته څۀ مشکل لرې؟

نجلۍ غبرګې اوښکې د نرې ټیکرې په پیڅه ورپاکې کړې سرې سترګې یې راپورته کړې

زه ښار ته د نږدې کلي یم د نهم صنف زده کوونکې یم او په کلي کې مې یو هلک خوښ دی هلک راسره اول د واده کولو وعدې کولې خو اوس وایي چې زه تا سره واده نۀ کوم ماته دا خبرې د زغم وړ نه وې کورنۍ ته مې لیکلی خط پرېښود او زه ښار ته راغلم غواړم چې دغه ریاست کې غریضه پرې وکړم

ما ویل هلک درسره کوم تصدیق کړی ؤ؟

نجلۍ ویل نۀ؟

ما وې نو بیا څنګه غریضه پرې کوې؟

نجلۍ سلګو واخیسته کوشش یې وکړ چې سلګۍ پټې کړي خو درد پټول هم ستونزمن کار دیل

# پنځمه برخه

خو نجلۍ ته مې بېرته کور ته د تګ وویل خو هغې انکار وکړ ویل یې که بېرته لاړم وژني مې

ما ویل صبر زه یو ځل د ریاست د کارمندو سره ګورم

زه بېرته ریاست ته د ننه شوم

ریسې پوښتنه وکړه چې نجلۍ څنګه شوه

ریسې ته مې د نجلۍ خبره وکړه

هغې ویل توبه دا نو اوس کړنه یا خبره ده د دې نجلۍ لپاره مونږ هیڅ نشو کولای زمونږ ټولنه ټولنیزه او فرهنګي ده که د نجلۍ رسمي عریضه واخلو د دې نجلۍ ژوند تبا کیږي یا به امنیه قومندانۍ کې ساتل کیږي او یا به مرکز کابل ته د امن کور ته وړل کیږي د دې دا ښۀ ده چې نجلۍ بېرته کور ته ولاړه شي

ریسې د لږ فکر وروسته وویل چې ته ورشه نجلۍ راوله ممکن کور ته د بېرته تګ قناعت ورکړو

زه لاړم نجلۍ ته ورغلم نجلۍ ته مې وویل چې ګوره خپل ژوند پۀ خپل لاس مۀ تبا کوه راځه مونږ به ستا د کورنۍ سره اړیکه ونیسو شاید هغوی خبره وومني

نجلۍ پورته شوه کور ته د بېرته تګ خبرې خوند ورنکړ او روانه شوه په تلو کې یې وویل چې ته راته د موټر کرایه راکړه زه به کابل ته د خپلې خور کور ته لاړه شم

ما ورته وویل چې کرایه اسانه ده مګر ته ښۀ نه کوې کم عمره یې هیله کوم کور ته لاړه شه

ویل یې نۀ ځم ته صرف دومره مرسته راسره وکړه چې کابل ته د خور کور ته ځان ورسوم او بوټان مې شکیدلي دي دا هم راته جوړ کړه

ما وې ته لږ صبر وکړه زه راځم

زه بیا ریاست د ننه شوم ریسې ته مې وویل چې نجلۍ کور ته نه ځي او نه دلته د ننه راځي

ریسه دروازې ته پسې ورغله خو نجلۍ نه غوښتل همغسې روانه شوه

زه وږی وم ډوډۍ مې هم نه وه خوړلې غوښتل مې چې ډوډۍ ووخورم خو فکر مې نجلۍ سره شو که بدو کسانو ته په لاس ورغله ممکن ناوړه استفاده ترې وشي

بېرته راووتم نجلۍ زمونږ د دروازې یو څه لرې ولاړه وه ورنږدې شوم څه فکر دې وکړ راځه د ریسې سره ووګوره نجلۍ همغه ضد کوو چې نه ورسره ګورم

ما وې نو څۀ کول غواړې؟

ویل یې همغه خبره چې مخکې مې وکړه تر کابل کرایه راکړه او بوټان راته جوړ کړه

ما ویل راځه زه مخکې او نجلۍ شاته راپسې روانه ده

لږ مزل وروسته لاس کې منه راسره وه نجلۍ ته مې ونیوه ما ویل وږې به وې دا ووخوره

ویل یې نه زما روژه ده

ما وخندل چې دا خو پاخه بزرګه یې

نجلۍ غلې وه

د ښار اولنې څلور لارې ته نږدې شوو نجلۍ غلی راغږ کړ

ما ویل بیا څهٔ دي؟

ویل یې چې زه کابل ته هم نهٔ ځم ته مې خپل کور ته بوځه

ما ویل استعغفرالله څنګه دې خپل کور ته بوځم څهٔ مې کیږې دا هیڅ امکان نهٔ لري

په لاره تیریدونکې هر کس نجلۍ ته ګوري نجلۍ ښایسته کم عمره او نازولې وه

لږ مخکې راباندې یو ملګری هم راغی چې سلام مو سره وکړ

زما ناڅاپي فکر شو چې یاره عمره د پردی نجلۍ سره په لاره روان یې که د کورنۍ غړي یې درباندې راورسیږي ښه او بد دې ولاکه ووګوري مخې سره به یې دربولی یې

دا او دېته ورته نور فکرونه راولویدل د خپلې ښیګړې او انساني ترحم ترسره کول راته اور شول

هیڅ نه پوهیدم چې څهٔ وکړم که هر څو زما احساسات او فکر سپیڅلي وو مګر ټولنه پښتنه وه

دوهم دا چې که کوم خپل پردی یار دوست راباندې راشي څه فکر به کوي چې مېرمن یې ده خور یې ده او که بل څهٔ ځکه چې نجلۍ هیڅ حجاب نه درلود وړوکی ټیکری او نرۍ جامې او بیا په داسې ټولنه کې

دواړه روان یو د سل او زر فکرونو ملګری یم اخِر مې فکر وکړ چې یو ملګري ته به زنګ ووهم هغه په ښار کې کور درلود ما وې تر هغې به یې د ده په کور کې کېنوو او موږ به یې کورنۍ سره تماس ونیسو که هر څه کیدل خدای ج مهربان ذات دی

خو داسې بد قسمتي وه چې یوه ملګري هم زنګ نه پورته کولو خپل کور ته خو مې بیولی نشوه

نجلۍ وویل چې څه فکر دې وکړ ما ویل هیڅ فکر نه شم کولای ته ووایه څه وکړو

نجلۍ بیا ویل چې ستاسو کور ته مې بوځه

ما ویل څنګه دې بوځم هیڅ امکان نه لري رب ته ووګوره یو تصمیم ونیسه چې زه درڅخه لاړ شم

نجلۍ هیڅ تصمیم نه درلود

زما هم لار ورکه وه فکر مې کوو چې هسې نه خپله ښیګړه راته بلا شي

نجلۍ وویل چې قومندانۍ ته مې وسپاره

ما ویل چې زه د سپارلو مسوولیت نه لرم دا هر څه ته خپله کولای شې

ویل یې سمه ده قومندانۍ خواته مې بوځه

ما ویل سمه ده

که رښتیا ووایم د قومندانۍ خبره زما هم خوښه شوه ځکه چې امنیه قومندانۍ به د ښځو حقوقي او ټولنیزې قضیې ښېرته موږ ته رسمې رالیږلې

تر ډېره به موږ هم کوشش کولو چې داسې موضوعات د کورنیو تر منځ غیرې رسمي حل او فصل کړو

نجلۍ ته مې د امنیه قومندانۍ دروازه ور ووښوده او زه ښېرته خپل ځای ته ستون شوم

زه که خفه وم خو یو څه ډاډه هم وم چې قضیه پر سبا ښېرته ته موږ ته راځي

## شپږمه برخه

بې فکره وم ډېره تلوسه مې معصومې نجلۍ ته وه هیڅ مې د ذهن نه وتله

شپه تېره شوه پر سبا دفتر ته راغلم

د سهار تر نهو بجو دفتر کې وم د هغې وروسته د مستوفیت ریاست ته لاړم څه کارونه وو هغه مې ترسره کړل د غرمې دوولس بجې ښېرته دفتر ته راغلم

بار بار مې دروازې ته کتل خو د پرونۍ معصومې نجلۍ هیڅ درک نه ؤ

ماسپیښین شو د دروازې مخې ته راووتم او ښه شیبه کېناستم مگر د نجلۍ د راوړلو څرک نه لیدل کیدو

ان د روخصتۍ وخت شو فکر مې وکړ چې ممکن سبا د نجلۍ قضیه راشي

اوس نو زما د فکر ملگري همدا کیسه وه د نجلۍ معصومیت او د نه پوهیدنې کړنه

بس نو د سبا په هیله کور ته روان شوم

کور کې مې مور او کورنۍ ته د نجلۍ کیسه وکړه مور مې ویل چې راوستلې به دې وای

ما وې زه ډاریدم نن سبا ښه کول هم کله کله بد تمامیږي

شپه تېره شوه سبا بیا دفتر ته لاړم همغه شان تر مازدیگره انتظار وم خو نه نجلۍ وه او نه یې قضیه

مسلسل څو ورځې ووتې د نجلۍ هیڅ معلومات ونشول

نور نو زما هم هېره شوه ځکه چې خپل مسوولیتونه هم ډېر وو

د جمعې ورځ راغله یو ملگري مې زنگ راوکړ چې د جمعې د لمانځه وروسته لږ چکر وهو ما ویل سمه ده

د لمانځه وروسته په موټرسیکل روان شوو څو ځایه وگرځیدو اخیري ځای مو ښار ته نږدې یو کلی ؤ

مازدیگر ؤ ملگري مې وویل چې راځه د مازدیگر لمونځونه به دا جومات کې ادا کړو نور به کورونو ته ځو

جومات ته ورښکته شوو مگر جومات کې فاتحه ناسته وه زموږ په لیدو ټول راپورته شول مخې ته راغلل سترې مشي یې راسره وکړه

ملګري مې ورته وويل چې موږ لمنځونه کوو تاسو کېنئ

د فاتحې ولا فکر کړی چې دا خلک فاتحې ته راغلي

لمنځونه مو ادا کړل لاړو يوې خواته کېناستو

مُلا د دعا لپاره قرآت پيل کړ

ملګري ته مې پټ غوږ کې وويل چې وه وروره اوس د قرآت وروسته دې خلکو ته څه وايو سړی مړ دی ښځه مړه ده او که ماشوم به وي

ملګري مې وويل چې بس تش ووګوزنېږه يا سر ووخوځوه نور يې څه کوې

قرآت ختم شو ملا دعا ته لاس پورته کړ دعا ترسره شوه موږ هم ناستو کسانو ته سرونه ووخوځول چې خدای ج دې يې ووبښي

دوی مننه وکړه او ملا ته يې غږ کړ ملا صيب دوی ته هم د راتک دعا وکړه

ملا صيب بيا لاس پورته چې رب دې اجرونه ورکړي هر قدم يې د نيکۍ په تله بدل شه

موږ راپورته شوو ټول کسان راسره پورته شول ويل يې چې پاتې شی شپه وکړئ

مننه مو وکړه او روخصت مو واخېست

لږ مزل وروسته مې ملګري ته خندل چې د فاتحې ولا لکه چې د کومو خپلوانو ګمان رباندې وکړ

هغې هم خندل ويل يې بله چاره نه وه بايد دعا مو کړې وه

د جومات به سل متره تېر شوي وو يو چې همصنفي راباندې راغی ستړي مشي مو وکړه ويل يې دلته څهٔ کوی؟

ما ويل چکر ته راغلي وو خو هغه جومات کې په فاتحه ور برابر شو د فاتحې ولا فکر وکړ چې خپلوان يې يو

همصنفي مې زياته کړه هو جومات کې فاتحه پرته ده نن يې دريمه ورځ ده

ما ويل څوک مړه وو ښځه وه که سړی يا ماشوم ؤ؟

ويل يې نه نجلۍ مړه وه څو ورځې وړاندې د کوره پټه وتلې وه امنيه قومندانۍ سره وه کورنۍ يې د قومندانۍ راوسته دوه ورځې مخکې مړه شوه خپله به يې ځان وژلی وي که کورنۍ به وژلې وي

اووف دا خبره لکه قيامتونه تندرونه او د کاڼو باران ؤ

هيڅ په ځان نه يم پوهيدلی دا همغه نجلۍ وه چې زموږ دفتر ته راغلې وه

د همصنفي سره مو روخصت واخېست او خپلو کورونو ته ولاړو خو زه د جهان تر ټولو ستر درد او غم ته ورولويدم کله به مې ځان مجرم ګڼلو او کله به مې ځان ته تسلي ورکوله چې زما څومره وس ؤ نجلۍ سره مې وکړ

د دندې مې زړه موړ شو هيڅ کوم څه خوند نه راکولو او نه تر اوسه د ذهني کشمکشونو خلاص يم

د عمر خبره پای ته ورسيده خو د خپل غم ترځنګ د دوهم غم ملګری هم شوم زما په ذهن کې هم مړه شوي نجلۍ کېناسته عمر ته مې ډاډ ورکړ چې ستا ګرمه نشته تا چې څه کولای شول هغه دې کړي نور فکرونه مه کوه

عمر دردناکه مسکا وکړه دوه غبرګې اوښکې يې پر لمنه پرېوتې ويل يې خيبره تا د خپل خفګان لپاره پاتې کړم خو لکه چې ما بل غم هم درکړ

# اوومه برخه

ما ویل دا خو ده ښه شوه چې سره یو ځای یو شپه ډېره ده یو بل ته به ښه زړونه تش کړو

عمر پورته شو ویل یې د ماسختن لمونځ مې نه دی کړی هغه په لمانځه ودرېد او زه د څنګ اطاق ابم ډي نوکریوال ډاکټر ته ورغلم هغه سره څو شیبې کېناستم بېرته خپل اطاق ته راغلم تر هغې عمر لمونځ هم کړی ؤ

عمر د سګرټ څکولو عادت درلود ویل یې راځه د روغتون بهر به زه یو سګرټ وڅکوم

بهر راووتو عمر سګرټ بل کړ او زیاته یې کړه ستا څه کیسه ده چې نن د زړه خفه ؤ؟

غلی وم شیبه وروسته مې وویل عمره زما داسې غم دی چې سبب یې نه دی معلوم

و یې خندل ایا بې سببه غمونه هم شته؟

ما ویل که نه وو دا دی پیدا شول زه خفه یم خو سبب یې نشته

عمر د سګرټ لوګی د خولې ویست سګرټ ته یې څنډ ورکړ لوګی شوي ایرې زمکې ته ولویدې مخ یې راتاو کړ خیره د خفګان سبب شته خو تا درک کړی نه دی

ورغبرګه مې کړه دا دوه ورځې د درک کولو هڅه کوم هر ځل ناکام یم ته زما ټول ښه او بد پېژنې فعل حال هیڅ کورنۍ اقتصادي او شخصي ستونزه نۀ لرم

عمر د سګرټ کش ته خوله جوړه کړه خو بېرته یې سګرټ ښکته کړ زیاته یې کړه د کومې شیبې یا کړنې وروسته د داسې حالت سره مخ یې د کومې ورځې؟

ما ویل څه وورایم مشخص وخت راته نه معلومیږي خو تقریباً دوه ورځې کیږي چې داسې یم

عمر څو شیبې غلی شو اسمان ته یې وکتل سپوږمۍ تازه راځرګنده وه د سګرټ اخیري لوګی یې د اسمان په طرف ورخوشی کړ همغه شان د اسمان په ننداره ؤ نه پوهیدم چې ستوري ګوري که سپوږمۍ

وو مې پوښت څه ګورې د څه پۀ ننداره یې؟

په غریو نیولي انداز یې وویل د معصومې نجلۍ روح مې لټولو ما وې ګوندې اسمان کې یې پیدا کړم

په مټ مې لاس ورکېښود راځه چې اطاق ته ځو نورې خبرې به هلته کوو تر اطاقه دواړه غلي وو

اطاق ته ورسیدو غلي مې وویل عمره تا ویل چې خپل طبابت دې کوه زموږ په ادبیاتو کار مه لره خو ګوره کله کله د مجبورۍ د شعر او لنډیو په ژبه دردونه بیانولی شو

عمر ترخه مسکا وکړه ویل یې یاره خیره ته هم عجیبه یې تر اوسه دې هغه خبره په زړه ده

ما ویل خود مې په زړه ده پاتې کړی مې د خپل خفګان لپاره یې او ته په اسمانونو کې د نجلۍ روح لټوې

عمر د ممتاز اورکزي لاندې بیت وویلو

غرونه غرونه ظلم وينم بيا هم يم ژوندی

زه د کرش ماشين يمه ډېرې تېروم

ويل يې بس سمه ده نور د ځوانيمرګې نجلۍ فکرونه نه کوم شايد د خدای ج به همدا رضا وه

ما ويل افرين داسې تکړه شه

زياته يې کړه راځو ستا خفګان ته تا خو به کوم خفه فلم يا کومه خفه کيسه نه وي لوستي کله کله د بعضې فلمونو غمجنې صحنې يا د کتابونو غمجنې کيسې د انسان په ذهن تر لنډې مودې ناستې وي

ما ويل نه ياره زه فلمونه ډېر نه ګورم او نه مې داسې کتاب لوستی دا څو ورځې خو مې بيخي نه دي کتلي

بيا يې وويل د عملياتو پر مهال به دې په کوم ناروغ زړه نه وي بد شوی چې بد تاثير يې دربانديې کړی وي؟

ما ويل نه عمره موږ يکې عادت يو

و يې خندل چې دا ټول شيان نه دي نو بيا په کومه نرسه مين شوی يې او ته خبر هم نه يې

ټک زړه ته متخصصه راولويده فکر مې شو چې د متخصصې د راتګ وروسته د داسې حالت سره مخ يم

عمر ته مې وکتل ما ويل ياره دا دوه درې ورځې کيږي چې روغتون ته نوي متخصصه راغلې ده دوه ځلې مې شريک عمليات ورسره وکړل مګر هومره تکړه ده چې هيڅ انداز نه لري زه بيخي ترې متاثره يم ان ډېر وخت يې په اړه فکرونه هم کوم

عمر په اول ځل کټ کټ وخندل او زياته يې کړه خيبره سبب دې پيدا شو بس ورځه متخصصه د لمنې راونيسه چې زما د خفګان سبب جانه ته چېرته ورک وې

ما ويل څه مانا

ويل يې ته د متخصصې سره ارام وې؟

ما ويل هو

بيا يې ووې د متخصصې په تګ نارام يې؟

ما ويل هو

لاسونه يې کړس وهل تندي ته يې ټس ورکړ او د مجيد قرار بيت يې راته وويلو

دا خو يو ته وې چې په روغ زړه او دماغ ګرځيدې

ته هم مين شولې خيبره سړی څه ووايي

ما ويل توبه ته هم په سړي نخرې کوې زه صرف د متخصصې د کار او ځيرکتيا متاثره يم مين د کومه شوم

عمر په خندا ويل د مينتوب ښکر نه وي چې وليدل شي همدا مينتوب دی چې په ليدو يې ارام احساسوې او په تګ يا نشتون يې خفګان محسوسوې

د عمر خبرو شکمن کړم چې ياره يو څه خو همداسې يم د کومې ورځې مې چې متخصصه ليدلې خوبونه او ارام راڅخه ګډه شوي

زه په همدې فکرونو کې وم چې عمر پوښتنه وکړه خيبره متخصصه څوک او د کوم ځای ده

ما ویل متخصصه د کابل ده خو ژوند او وظیفه دلته کوې ډېره په لوړه سطخه ده

عمر بیا د رحمان بابا بیت زمزمه کړ

نه شي د ملنګو د خانانو سره کلي

چرته عزیز خان چرته ملنګ عبدالرحمان

## اتمه برخه

ما وویل چې عمره دا بیت پۀ څه مانا؟

عمر زیاته کړه خیبره موږ او تاسې نورمال او عادي ژوند لرو ټول فوکس مو پر کورنۍ زده کړو او دنده وي هسې نه د متخصصې ګرانښت دې د دې ټولو ووباسي

ما ویل یاره دا خو ده خو ګرانښت یا متاثره کیدل د خپلې خوښې کار نه دی فکر کوم ګرانښت طبیعي دی

ویل یې هو مګر متوجې اوسه

ما ویل سمه ده

عمر وویل چې ناوخت دی نور به ویده شو

عمر ته مې ځای برابر کړ د اطاق ګروپ مو بند کړ پر خپلو ځایونو پرېوتو

زه نو اوس سم د متخصصې فکرونو ته وزګار شوم پوره باوري شوم چې زما د زړه د متخصصې سره یو څه لار بالکل شته

په همدې فکرونو کې ویده شوی وم

سهار راپورته شوو د لمنځونو او ناشتې وروسته عمر روخصت واخېست زه په دې تمه شوم چې دوهم نوکریوال راشي او زه پوهنتون ته لاړ شم

تر هغې دوهم نوکریوال راغی ما پوهنتون ته حرکت وکړ

تر دوولسو بجو پوهنتون کې وم

د پوهنتون راووتو اصف وویل ته چېرته ځې؟

ما ویل زه روغتون ته ځم

روخصت مو واخېست زه په سړک د ریکشې په تمه شوم د لږ انتظار وروسته ریکشه راغله او ورپورته شوم

روغتون په رسیدو وم چې زنګ راغی و مې کوت نامعلومه شماره وه

زنګ مې اوکې کړ او سلام مې وکړ

هغې ویل وعلیکم سلام وړانګه یم د ښځینه واړ متخصصه

ما ویل مننه اغلې تاسې ښۀ یاست

ویل یې الحمدالله ستاسو روغتیا غواړم

ما ویل شکر چې ښه یاستی

پوښتنه یې وکړه چې پوهنتون کې یې که روغتون کې؟

ما وې د پوهنتون راوتلی یم نور روغتون ته داخلیږم

ویل یې سمه ده ته دې ډوډۍ وخوره ځان تیار کړه چې مور عملیاتي ناروغ لرو

هو مې وویل او زنګ قطعه شو

اطاق ته راغلم لباس مې بدل کړ او تیاری مې شروع کړ د عملیات خونې ټول شیان برابر شول لاړم لمونځ مې هم ادا کړ نور په عملیات خونه کې پۀ صبرۍ انتظار کوم

ښکته او پورته ځم کله یوې دروازې ته او کله بلې ته

د عمومې دروازې د خلاصیدو غږ راغی پۀ بیړه ور مخې ته شوم دوه غبرګې نرسانې راننونې سلام یې وکړ او زیاته یې کړه تاسو اماده یاست ناروغ راوړو

ما ویل هو زه تیار یم

نرسانې بېرته د عملیات خونې ووتې

جالبه یې دا وه چې زما د ډوډۍ خوړل هم هېر وو

خود به هېر وو اخِر د چا متاثره کیدل وو

څو دقیقې وروسته نرسانو ناروغ عملیات خونې ته رادننه کړ

نرسانې د ناروغ په ترتیب اخته وې زه د اولې عملیات خونې د دروازې مخې ته ولاړ وم

د عمومې دروازې مې سترګې نه ایستلې

یوې نرسې راغږ کړ خیره ووبښۍ که د صفاکار ووپوښتۍ چې د عملیات خونې ریکوري ووګوري

ما ویل سمه ده لاړم او صفاکار ته مې د ښځینه ریکورۍ د کتلو او تیاري وویل

بېرته راستون شوم د عملیات خونې په دروازه کې متخصصه ولاړه وه او د ناروغ د پیواز سره یې خبرې کولې

ورغلم سلام مې وکړ او وو مې ویل پخېر راغلی

مننه یې وکړه او زیاته یې کړه د ناروغ د پیواز څخه ګوته ولګوئ

د ناروغ دوسیه مې راوخیسته د پیواز څخه مې ګوته ولګوله متخصصې وویل وشو ما ویل هو

د ناروغ پیواز د عملیات خونې ووت متخصصې ماته وکتل او زیاته یې کړه خیره څنګه یې ښه یې ورځ دې ښه وه

ما ویل شکر ډېره ښه وه

ویل یې وووښئ زنګ مې څکه وکړ چې پوهنتون کې نه یې

ما ویل مننه ستاسو د پاملرنې سلامته اوسې همغه وخت روغتون ته پۀ لاره وم

نن متخصصې نوی لباس اچولی ؤ زما د خوښې رنګ هم همدا ؤ

ویښتان یې له مخکې په عملیاتي بلاستیک پوښلي وو

د نورو ورځو برعکس ماسک په لاس کې ورسره ؤ

متخصصې وویل ته دې خپل کار ترسره کړه زه لاړم ناروغ ته مې د بې خوشۍ دوا ورکړه

یوې نرسې متخصصې ته غږ کړ ډاکټر صیب راځئ

متخصصې په دراوزه کې ماسک واچولو او راننوته

څو شیبې وروسته عملیات ترسره شول دواړو نرسانو ناروغ ریکورۍ ته روان کړ

متخصصه د لاسونو مینځلو وروسته زما پۀ طرف راغله وو یې ویل ښه وو عملیات جنجالي نه وو ژر ترسره شول

وو مې ویل که جنجالي هم وي تاسو ته به بې جنجاله وي

متخصصې ماسک د خولې لرې کړ غلي یې وخندل ماته به ولې بې جنجاله وي؟

ما وې نو تاسو د ډېرو ځانګړتیاوو برخمنه یاست

مننه یې وکړه ویل یې ستاسو لطف دی

متخصصې موبایل راوخېست د موبایل سکرین ته یې وکتل د سکرین رڼا یې په مخ ولګیده لکه پر ګلاب چې د برېښنا تېزه پړکه ولګېږي خو بېرته یې بند کړ شاید وخت یې کتلو

ماته یې سترګې راپورته کړې خیره څو وروڼه او خویندې لرې؟

هغې به چې ماته وکتل ما به زمکې ته کتل هیڅ مې د مخامخ کتلو جرآت نه درلود

ما ویل څلور وروڼه یو او درې خویندې

ویل یې ماشاءالله موږ بیا څلور خویندې یو او درې وروڼه

وو مې ویل ډېر ښۀ اغلې خو نورې خویندې دې هم ستا په شان تکړه دي؟

متخصصې بیا وخندل زه هومره نه یم څومره صفت مې چې تاسو کوی شکر دوهمې خور مې هم تخصص کړی او بیخي تکړه ده

ما ویل څومره ښۀ او ماشاءالله په داسې عملي کورنۍ

متخصصې مننه وکړه ویل یې ستاسو پۀ اجازه زه به خپل واټ ته لاړه شم هلته نور ناروغان راته په تمه وو

متخصصې سره مې پۀ نه زړه خدای پاماني وکړه او د عملیات خونې ووته

ګني ما غوښتل چې نن ډېر وغږیږو خو کاش هر څه زما په وس کې وای

متخصصه لاړه او زه حیران دیوال ته ودریدم

ځان سره مې زیاته کړه

وس مې د خدای په چارو نه رسي مئینه

## نهمه برخه

داسې نۀ وه چې ما د متخصصې ښکلې نجونې نه وې لیدلي خو د متخصصې متاثره کیدل زما تر وسې پورته خبره وه اوس خو خبره د ګرانښت او زړه بایللو رسیدلې وه

عموم کې زه د ښځینوو سره زیات بلد وم او د دوی سره ورځینۍ اړیکې لارې چارې راته عادي وې ځکه چې ډېرى وخت مې ورسره شریک کارونه عملیاتونه او دندې کړې.

متخصصه اولنۍ نجلۍ وه چې زه یې د داسې حالت سره مخ کړم اوس راته بغېر د متخصصې د نړۍ ټولې چارې بې خونده او پیکه دي

غواړم هره لحظه د متخصصې سره واوسم

په هر صورت بیګا مې نوکري هم کړې وه نن شپې ته روخصت وم د اطاق مې شیان راوخیستل د کور په طرف روان شوم

کور ته ورسیدم څو شیبې د مور سره کېناستم او بیا خپل اطاق ته لاړم

موبایل مې راوخېست د متخصصې شماره مې راواړوله او د (زما زړه) پۀ نوم مې ثبت کړه

لاړم وټساف ته څو ملګرو مسجونه کړي وو هغه مې ځواب کړل بیا مې د یو ملګري د نوم لټون وکړ څه ګورم چې د متخصصې شماره هم وټساف لري دا نو هغه زموږ په اصطلاح په مستو غوړي وو

بس د ملګري لټون پاتې شو د متخصصې د وټساف فروفایل ته لاړم د فروفایل په عکس یې لاندې جمله لیکلې وه

(داسې څوک ولرى چې هره اوښکه مو درک کړي)

دې جملې ته په فکر کې شوم ایا متخصصه به داسې څوک لري که یې لري څوک به وي؟

خو خبر د ډاډګیرنې خبره د متخصصې د وټساف پیدا کول ؤ داسې لکه ټول جهان مې چې موندلی وي

خورکۍ مې چاى راوړ ویل یې شپه دې ښۀ تېره شوه؟

ما ویل شکر ښۀ وه ته ښوونځي ته تللې وې؟

ویل یې هو تللې وم

ما ویل درسونه مو څنګه دي؟

ویل یې ډېر ښۀ دي

ما ویل کۀ څۀ ته دې اړتیا پېښیدله پۀ ځان سخته تېره نۀ کړې راته وایه

ویل یې سمه ده او د اطاق ووته

ما بېرته د متخصصې وټساف ته پنا یوړه بار بار یې شماره او د فروفایل عکس ګورم

رښتیا د وټساف د فروفایل نوم یې معصومه ډاکټره ورکړی ؤ بالکل ورسره دغه نوم جوړ ؤ

لاړم ما هم د وټساف فروفایل ته عکس وربدل کړ او په فروفایل مې لاندې جمله ولیکله

(ټول انسانان ښکلي دي خو بعضې بیخي ځانګړي وي)

د متخصصې وټساف افلاین ؤ تقریبا پنځه ساعته مخکې اف شوی ؤ

شپه شوه په نړۍ د ارام او سکون څادر خپور شو

یوټیوب ته لاړم د یوټیوب مې د سرفراز په غږ هغه سندره راډونلوډ کړه چې

ستا هر قدم ته چې نظر په لار غوړیږي زما

په ځان مې شک شي چې مین دې کړمه

ته چې د ورایه شې ښکاره زړګی درزیږي زما

په ځان مې شک شي چې مین دې کړمه

دا سندره مې بار بار اوریدله

بیا د متخصصې د وټساف فروفایل ته لاړم څه ګورم چې انلاین هم ده

بس نو اوس زه یوازې د متخصصې د وټساف لیدلو او تصور ملګری یم هره خوا او هر طرف متخصصه ده

لکه پۀ دې جهان چې بل هیڅ کوم څۀ شتون نۀ لري

سل او زر فکرونه کوم د متخصصې پرمختللي زنده ګي او زما عادي ژوند د کومې مقایسې ور دي

د عمر بیت ذهن ته راغی

نه شي د ملنګو د خانانو سره کلي

چېرته عزیز خان چېرته ملنګ عبدالرحمان

خو رښتیا چې مینه ړانده وي دا ټول څۀ مې هیر کړي وو یوازې د متخصصې مینه وه

شپه تر نیمایي رسیدلي وه لاړم د فسبوک پۀ وال مې لاندې لنډۍ پوسټ کړه او د وټساف په سټورۍ مې هم خپره کړه

په ځان مئین خلک ویده دي

پۀ بل مین خلکو ته نۀ ورځي خوبونه

څو دقیقې وروسته د وټساف په سټورۍ ریپلې راغله او لیکلي یې وو (تا خو ویل چې مطالعه مې بې خوبه کوي د وټساف د سټورۍ په جهان خو نورې کیسې دي)

د دې جملې پۀ اخِر کې یې د خندا سټیکر هم لګولی ؤ

پهٔ ستورۍ ريپلې متخصصې کړي وه

بس حق حيران پاتې شوم چې اوس څهٔ څواب ورکړم پروت وم خو راپورته شوم پهٔ خپل ځای کېناستم

زه څهٔ خبر وم چې د وټساف ستوري بهٔ متخصصه هم ګوري

مجبور وم چې ځواب هم ورته وليکم د متخصصې ريپلې بې ځوابه پرېښودل هم ممکن نه وو

خو څهٔ ورته وليکم څهٔ ځواب ورکړم

کهٔ مې ببرته ستوري ختمولی بيا هم مناسبه نه وه

بس شل زره زړونه مې يو ځای کړل پهٔ ځواب ليکلو اخته شوم

ووبښئ اغلې هسې لنډۍ خوند راکړ د فسبوک مې راکاپي کړه دلته مې ستورۍ ته پورته کړه

شيبه وروسته يې مسج وکوت ليکلي يې وو

ووبښهٔ شوخي مې وکړه هسې مې پهٔ ستورۍ سترګې ولګيدې ما ويل چې زموږ د عمليات خونې ډاکټر ولې تر دې ناوخته ويښ دی

ځواب مې ورکړ نن چې د روغتون راغلم ماښام ويده شوی وم اوس د خوب راپورته شوم

زما مسج ته يې د خندا سټيکر ورکړ او و يې ليکل ستا د خوب او مطالعې وختونه خو ریښتیا هم ګډوډ دي

مسج ته مې د خندا سټيکر ورکړ او و مې ليکل

ماښام ناڅاپي ويده شوی وم نو خوب مې ډېر کړی ممکن د دې وجې راويښ شوی وم

مسج ته يې د ګوډ سټيکر ورکړ

بيا يې وليکل هغه د خيرات خبره نهٔ شي يوه کس بل ته ويلي وو چې هر خيرات کې دې وينم وايي دوهم کس ورته ويلي وو چې ما وينې نو ته هم هر خيرات کې موجود وې نو زه هم وايم چې ته ناوخت انلاين يې اوس زما وو نه پوښتې چې تهٔ ولې ويښه يې

ما ورته وليکل چې نهٔ داسې نهٔ وايم ممکن تهٔ به نوکري يې؟

و يې ليکل هو نن شپه نوکري يم لږ مخکې يوه ناروغ ته پورته شوم دوباره خوب نهٔ راتلو

ريپلې مې وکړه ثوابونه مو نصيب شه او د ناروغانو د دعاوو برکتونه مو نور هم پهٔ طبابت پورې شه

و يې ليکل آمين ستاسو سره مګر دا راته ووايه چې شعرونه او لنډۍ دې هم خواښيږي کنه؟

ورته و مې ليکل زما د خوښې برخهٔ ادبيات دي او ډېر مې خواښيږي

ليکلي يې وو ډېر ښهٔ زه خپله هم د ادبياتو سرسخته مينواله يم او ګڼ ادبي کتابونه هم لرم

و مې ليکل د طبابت سره د ادب برخه خورا خوند کوي

ويل يې هو ریښتیا هم خو کاش ما هم ليکلی شوای

ما وې که کوشش وکړئ ممکن د هر چا ښهٔ ليکل وکړای شي

و يې ليکل خير اوس بهٔ د نورو پهٔ لوستلو قناعت وکړو راتلونکي کې بهٔ ګورو ریښتیا ناوخت دی تهٔ ويده شه ښهٔ شپه ولرې

اوووف دې اخېرې مسج هيڅ خوند ونکړ نۀ مې ويلی شول چې لږه ودرېږه بس مجبوري وه ما هم وليکل چې ښۀ شپه ولرې

## لسمه برخه

اوس دې نو ماته ښۀ خوب راشي

د متخصصې هر مسج بار بار ګورم زه يم او د وتېساف کتل دي

شپه تر نيمې هم واوښته خو زما خوب داسې ورک دی لکه په خزان کې چې ګلان لټوې

لنډه يې دا چې شپه پۀ ويښه تېره شوه

سخته دلته وه چې سهار پوهنتون ته تلم او د هغه ځايه روغتون ته

فيصله مې وکړه چې نن پوهنتون ته نۀ ځم بايد تر دوولسو بجو خوب وکړم تر څو روغتون ته يو څه مناظم لاړ شم

نه پوهېږم څو بجې به ويده شوی وم خو چې راپورته شوم پوره دوولس بجې وې

ژر مې ځان تيار کړ د روغتون په طرف روان شوم

روغتون ته ورسيدم لباس مې بدل کړ او دوهم نوکريوال مې هم روخصت کړ

د عمليات خونې مخې ته راووتم د ښځينه واټ څخه يوه نرسه را روانه وه چې څنکه راورسيده سلام يې وکړ او زياته يې کړه ډاکټرې تا پسې راوليږلم ويل يې چې ته ووګوره که راغلی وي يو عمليات لرو

ما ويل زه تيار يم او همدلته يم

نرسه روانه شوه او زه عمليات خونې ته د ننه شوم

د څۀ انتظار وروسته د عمليات خونې پۀ دروازه متخصصه راننوته شاته درې غبرګې نرسانې ورپسې روانې وې لکه ولسمشر پسې چې ځانګړي ساتونکي روان وي

لا زما خواته رسيدلې نه وه چې وو يې ويل فکر کوم زموږ د روغتون ډاکټران د موبايل اوچتولو او يا مسج ځوابولو عادت هم نۀ لري

سلام مې وکړ او وو مې ويل پخېر راغلې اغلې زه پوه نۀ شوم

د ګل د پاڼو پستې شونډې يې بوڅې کړې سترګې يې پۀ ديوال لګيدلې ستيکر ته پورته کړې او زياته يې کړه وتېساف ته مې د عملياتي ناروغ په اړه مسج درته وکړ ځواب يې نۀ ؤ بيا مې لږ مخکې زنګ وکړ خو چا ځواب رانکړ

جيب ته مې لاس کړ خو موبايل راسره نه ؤ ژر اطاق ته لاړم هلته هم نه ؤ پوه شوم چې موبايل مې کور کې پرېښودلی

پۀ بيړه راووتم د متخصصې مې ښښنه ووغوښته ما ويل موبايل کور کې راڅخه پاتې شوی دی بيا هم ووبښه

متخصصه غلې وه لږه شيبه وروسته يې وويل سخته غوسه راځي چې څوک موبايل يا مسج ته ځواب رانکړي

څو ځلې مې ښښنه ووغوښته

متخصصې نرګسي سترګې راپورته کړې او زياته يې کړه خير پروا نۀ کوي بل ځل داسې ونکړې

ما ویل هیڅکله بهٔ بیا داسې سنګینه غلطي تقرار نهٔ کړم

سترګې یې نرسې ته ور کړې کړې وو یې ویل ناروغ راوړئ چې ژر یې کار خلاص کړو

دوه نرسې د عملیات خونې ووتې تر څو ناروغ راوړي

متخصصې موبایل راوخیست پر سکرین روښانه ساعت ته یې وکتل بېرته یې کېښود

زه نو ګونګۍ یم دومره غټه غلطي مې کړې چې د جبران لار یې نهٔ درلوده

شیبه وروسته یې وویل پوهنتون ته تللی وې؟

اوس نو ګیر شوی وم که مې ویلي وای چې هو نو سوال پیدا کیدو چې بیا موبایل څنګه کور کې پاتې شو

پهٔ بنده ژبه مې وویل نه اغلې نن پوهنتون تهٔ نه وم تللی

و یې خندل ښهٔ ښهٔ کله کله باید شوګیرو ته هم وخت ورکړل شي هر وخت پوهنتون ته تګ هم ښهٔ نه وي

اوس یې بیخي حجالته کړم نه پوهیدم څهٔ ووایم

تر هغې یې بیا وویل ښکلي لنډۍ دې سټوري کړې وه زما هم خوښه شوه

هیڅ ځواب مې نهٔ درلود بس ګونګۍ ولاړ وم

د عملیات خونې د دروازه کړنګ شو نرسو ناروغ را د ننه کړ دوهم نمبر عملیات خونې ته یې ننوېست

متخصصې وویل ته دې کار پیل کړه

زه لاړم د بې خوشۍ دوا مې ناروغ ته ورکړه خو چندان پهٔ خپل حالت نهٔ وم

متخصصې عملیات پیل کړل څو شیبې وروسته عملیات ترسره شول دوو نرسو ناروغ ریکورۍ ته روان کړ

متخصصه د تل پهٔ څېر د لاسونو منځلو وروسته د دوهمې عملیات خونې مخې ته راووته

خوله مې خبرو ته جوړوله چې متخصصې وویل

خیره نن دې هم وضعیت ښهٔ نه ؤ فکر کوم د کومې ستونزې سره مخ یې زه ستا پر ژوند او کړنو کار نهٔ لرم خو ځوان یې تکره یې ټوله توجو دې درسونو او دندې ته وکړه

وو مې ویل اغلې هیڅ ستونزه نهٔ لرم انسان نیمګړی دی ان شاءالله بیا به داسې نهٔ وم که رښتیا ووایم دا څهٔ وخت د بې خوبۍ سره مخ یم

متخصصې راغبرګه کړه بې خوبي هم سبب لري د سبب پهٔ لټه شه بعضې عادي ستونزې هم لویې بدمرغۍ پیدا کوي

ما ویل سمه ده اغلې همداسې بهٔ وکړم

متخصصې روخصت واخېست او د عملیات خونې ووته تر هغې د ریکورۍ دواړه نرسانې هم راوګرځیدې

یوې یې ماته وویل ما هم وټساف ته مسج درته کړی چې لاړې وو یې ګوره

ما ویل سمه ده ګورم یې

عموم کې زه د نرسو سره بلد وم د بعضو سره مې دوستانه روابط لرل

دغه نرسه ځلا نومیده موږ ډېرې ښې اړیکې درلودې

نرسانې هم د عملیات خونې ووتې

لاړم اطاق ته د متخصصې پر نننی چلند او خپله غلطۍ مې فکر شو رکم رکم خبرې زړه ته راتلې نۀ پوهیدم څۀ روان دي ناځاپي مې وویل متخصصې تۀ څۀ خبره يې د دې ناخوالو لامل خو ته يې

حیران دېته وم چې موبایل څنګه راځخه کور کې پاتې شو یا مې ولې په دې دومره لار ور فکر شوی نۀ دی

خیر د روخصتۍ وخت شو زه نن هم نوکري نۀ وم مسلسل مې دوه شپې روخصت درلود

مګر د ورځې به هر ډاکټر تر مازدیګر موجود ؤ

د نوي ریس په راتګ باید هر کس تر مازدیګره په روغتون کې موجود وای د مازیګر وروسته به نوکریوال پاتې کیدل او نور بۀ کورونو ته تلل

لباس مې بدل کړ او د ښار پۀ طرف روان شوم بیخي کنګس وم پخوا به چې د روغتون را ووتم د بعضو ملګرو خواته بۀ ورتلم خو دا څو ورځې مستقیم کور ته راتلم

نن هم کور ته راغلم د کور پۀ انګړ کې مې خورکۍ ولاړه وه ستړي مشي یې راکړه او وو یې ویل لالا موبایل درځخه کور کې پاتې شوی زنګونه ورته راتلل

ما ویل هو رانه هېر شوی ؤ خو چېرته دې ایښودلی؟

ویل یې هلته ستا پۀ اطاق کې مې چارج ته اچولی

لاړم د مور سره لږ کېناستم مور مې ویل زویه دا څو ورځې بدل شوی یې هیڅ د کور د غړو سره نۀ کېنې ژر خپل اطاق تۀ تتښتې

ما ویل مورکې هیڅ بدل شوی نۀ یم امتحانات مې دي د هغې لپاره مطالعې تۀ ژر اطاق تۀ ځم

مورګانې صادقې کوي ژر باور کوي ویل یې سمۀ ده چې ښۀ يې نور دې درسونه ووګوره ورځه

لاړم اطاق ته پۀ بیړه مې موبایل راوخېست اول مې د متخصصې مسج وکوت لیکلي يې وو

ورځ پۀ خیر نن عملیات لرو

بیا لاړم راغلي زنګونو ته چې یو مسکال د متخصصې پکې پروت ؤ

تر دې بې پروایي مې وکړه چې بدون د متخصصې د زنګ او مسج مې نورو زنګونو او مسجونو ته هیڅ پام ونکړ

د متخصصې مسج ته ورغلم په ریپلې کې مې ورته د ښښې سټیکر کېښودل خو متخصصه افلاین وه

بیا مې د نرسې مسج وکوت لیکلي يې وو

اول د هیڅا په کار نه وي

چې ما لالی کړې قافلې درپسې ځینه

د نرسې لنډۍ هم حیران کړم چې دا يې پۀ کومه مانا رالیږلي ما او نرسې به ډېر وخت پۀ عمومي موضوعاتو چټ سره کولو ټوکې ټکالې یا نور...

خو نرسه هم افلاین وه کنګس وم بالخت ته مې تکیه ووهله چون بې خوبه هم وم بیا ویده شوی وم

د دروازې په ټکا پسې راويښ شوم خور مې غړونه کول چې ډوډۍ ته راځه

د ماښام لمونځ مې هم قضا کړی ؤ چندان پهٔ سور نهٔ وم لاړم اودس مې تازه کړ او د مور اطاق ته ورغلم

ډوډۍ مې ووخوړه يو څهٔ وخت د خويندو او ورونو سره کېناستم خو فکر مې متخصصې سره ؤ

د پورته کيدو پلمه مې لټوله

خېر راغلم اطاق ته اول مې د ماسختن لمونځ وکړ

خور مې چای راوړ د چای پياله يې راته ډکه کړه

موبايل مې راوخېست همغه د سرفراز په غږ سندره مې چالان کړه بيا وټساف ته لاړم

د متخصصې فروفايل مې وکوت افلېن وه

## يوولسمه برخه

د نرسې فروفايل مې وکوت انلېن وه پهٔ لنډۍ مې ورته سواليه کېښوده؟

سواليې ته يې د خفګان سټيکر ورکړ دوباره مې سواليه کېښوده

و يې ليکل

ستا سزاګانې دربښمه خو يو کار بهٔ کوې

زه چې د زړه زخمونه سپاړمه انکار بهٔ کوې

د نرسې پهٔ مطلب نه پوهېدم ورته و مې ليکل نجلۍ صفا خبره وليکه

د نرسې ځواب ورک شو څو دقيقې وروسته يې مسج راغی خيره ما معاف کړه پټه مينه مې درسره کړې تر ننه مې درته د اظهار جرأت نهٔ درلود خو نن يې وايم دومره سپيڅلې مينه مې درسره کړې چې نور توري ورته نهٔ لرم

ما ويل پکه دا دې بله سپکه اوس نرسې ته څهٔ ووايم

د څنډ وروسته مې ورته وليکل

نجلۍ کمپيوز دې کړم زه بهٔ څهٔ درته ووايم هيڅ نهٔ پوهېږم او نهٔ دې د مينې خبر يم زما او ستا خو نورماله اړيکه وه

مسج ته يې د خندا سټيکر ورکړ او و يې ليکل

د ځانه ساده مهٔ جوړه ايا زما پهٔ هومره وخت درکولو او عادتونو هم نهٔ پوهيدې

ورغبرګه مې کړه باور وکړه چې زه پهٔ هيڅ نهٔ پوهېږم او نه مې فکر شوی دی

ويل يې خود بهٔ نهٔ پوهېږې ته خو اوس د غټو خلکو يارانې کوې زموږ د خوارو دې رب مل شي

و مې ليکل غټ خلک او يارانې؟

ریپلې یې وکړه ځان پۀ نۀ پوهیدو مۀ نیسه ته وا زه مو نۀ وینم روغتون کې

ما ویل وه نجلۍ خبره ښکته پورته مۀ کوه سمۀ خبره وکړه ستونزه څۀ ده

لاندې لنډۍ یې راولیږله

پۀ مخکې ځم په وروسته ګورم

لکه بایللی جوارګر چې کور ته ځینه

ما وې استغفرالله وه جوارګرې اصلي خبرې ته راشه

شیبه وروسته یې ولیکل ستا د خپلې دؤ خوبونه مې لیدل خو لکه چې متخصصې پۀ اوبو لاهو کړل

ښۀ نو اوس دېته ګوره زما کهانۍ کې نوي کیسې راووتې د چای پیالې ته مې وکتل یخه شوي وه پیاله مې ترموز ته وروا ړوله بېرته مې ډکه کړه

نرسې ته مې ولیکل پۀ رب باور وکړه چې زه د متخصصې نه یم خبر متخصصه ډېره پۀ لوړه سطحه ده هغه به پر ما پروا هم خرڅه نۀ کړي

و یې لیکل ایا پۀ روغتون کې نور د بې خوشۍ ورکولو ډاکټران نشته؟

ما ویل بالکل شته دا پوښتنه دې ولې وکړه؟

و یې لیکل چې شته نو بیا ولې د هر ناروغ عملیات تا سره کوي او د هر ناروغ لپاره زنګ درته کوي؟

کۀ رښتیا ووایم دې خبرې یې زه هم شکمن کړم تر اوسه خو صرف زما د مینې کهانې وه مطلب یو طرفه خبره وه

او بیا زما په شان د بې خوشۍ ورکولو کسان هم ډېر وو چې نوکرۍ مو معلومې وې

نرسې مسج وکړ ولې غلی شوې؟

ځواب راسره نه ؤ پۀ دې فکر کې وم چې اوس څۀ ولیکم تر هغې یې بل مسج هم راغی

خیره زه ښښنه هم غواړم هیڅ حق نلرم چې داسې خبرې وکړم خو زما احساسات سپیځلي وو ما درسره مینه کړې دا مې د زړه براس ؤ تۀ دې متخصصې سره خوشاله یې زه بۀ پۀ زړه پسې غټ غټ کاڼي وتړم

دا لنډۍ یې راولیږله او نور افلاین شوه

پۀ خلاصو سترګو لالی بایلم

وس مې د خدای په چارو نه رسي مئینه

چون نرسې ته پۀ زړه کې ونیولی شوم خو بل طرف د متخصصې علاقه هم الهي نثرت راته ښکاره شو

څوک به یې وومني چې داسې متخصصه دې عادي انیستیزیلوګ ته هومره ارزښت ورکړي

ټنګ شو متخصصې زما د ښښې سټیکر ته ریپلې راکړه لیکلي یې وو

پۀ شوګیرو بلد سړی یم

د کلي خلک پیشمني ته پاڅومه

کاش روژه وای چې کورنۍخو دې اسانه پیشنمي ته پورته کولای شوه مسلسل یې څو د خندا سټیکرونه هم اچولي وو

# دولسمه برخه

ټنګ شو متخصصې زما د ښښې سټيکر ته ربيلې راکړه ليکلي يې وو

پۀ شوګيرو بلد سړی يم

د کلي خلک پيشمني ته پاځومه

کاش روږه وای چې کورنۍخو دې اسانه پيشنمي ته پورته کولای شوه مسلسل يې څو د خندا سټيکرونه هم اچولي وو

ربيلې ته مې د خندا سټيکر ورکړ او ومې ليکل اغلې بس هغه شپه هسې خوب نۀ راتلو تا نو راپسې زده کړل

و يې خندل  ټوکه مې وکړه نن ورځ مې روغتون کې هم څو تېزې خبرې وکړې د هغې هم زياته ښښه غواړم خو باور وکړه چې د زنګ او مسج نه ځوابولو سره حساسيت لرم

ما ويل رب دې ووبښۀ ما هم جدي نۀ دي نيولي ته پر حقه وې

مننه يې وکړه او و يې ليکل يوه شخصي پوښتنه کولای شم؟

ما ويل هو په سترګو؟

ويل يې واده لرې يا کوژدن؟

و مې خندل نه اغلې تر اوسه يې فکر هم نۀ لرم او بيا ما عاجز څوک قبلوي

ربيلې يې وکړه ښۀ شوخي دې معاف وي کومه ملګرې څوک هم لرې کنه؟

ما وې نه هيڅوک نه لرم

بيا يې مسج ته د خندا سټيکر ورکړ او ليکلي يې وو نو بيا ولې په نيمو شپو شوګيرې کوې؟

وای وای مې وليکل اغلې بيا شوګيرو ته لاړې ته به د شوګيرو خبره کله هيروې

خندل يې ويل يې ووبښه شوخي مې وکړه

ما ويل رب دې ووبښه که پورته پوښتنه لتاسو وکړم؟

ويل يې تر اوسه په درسونو اخته وم تاته معلومه ده چې د طب برخه لويه او ستړې ده د واده فکر زړه ته نه دی راغلی

ما وې ډېره ښه ده

شيبه وروسته يې مسج وکړ زه ستا لپاره ډېر ښۀ فکر لرم او سپارښتنه کوم چې درسونه دې ښه تعقيب کړه

ما ويل مننه ستاسو د لطف څخه

يو څه وځنډيده لږ وروسته يې مسج راغی رښتيا په روغتون کې د بې خوشی ورکولو ښځينه سټاف ډېر کمزوری دی که دوه نجونې سمې بلدې کړو ښځګه بۀ وي

ورغبرګه مې کړه دا خو به ډېر ښۀ وشي

ویل یې بس د سبا وروسته به دوه نرسانې درسره وي تر څو راتلونکې کې د ښځینه عملیات پر مهال دوی هر څه وکړای شي زه به روغتون سره هم خبرې وکړم

ما ویل سمه ده

ویل یې ناوخت دی زه به ارام وکړم تر بیا ښهٔ شپه ولری

ما هم ښهٔ شپه ورته ولیکل

متخصصه لاړه بیا یې یوازې پرېښودم

زه د نرسې فروفایل ته ورغلم انلاین وه او د وټساف په سټوری یې د یوې سندرې لنډه برخه خپره کړې وه

دا ستا گنا نه ده گنا ده زما خپله

کاښی راواخله جانانه ما پرې وله

سلام مې ورکړ خو ځواب یې رانکړ

زه هم ستړی وم دواړه لاسونه مې سر ته کېښودل او د اطاق د چت په ننداره شوم

د متخصصې مینه د نرسې خفگان پوهنتون دنده او کورنۍ دا ټول هغه څه وو چې باید ټولې برخې مې پاللې وای

همدې فکرونو کې ویده شوی وم

سهار پوهنتون ته لاړم د اصف سره مې څهٔ خبرې وکړې او د پرون پاتې شوی درس مې تعقیب کړ

د غرمې څه کم یوه بجه روغتون ته راغلم ډوډۍ مې وخوړه او لباس مې بدل کړ

په روغتون کې به نارینه عملیات اکثره د شنبې په سهار او د شپې وو نورې ورځې به ډېر څهٔ نه وو

نن نو کوم ښځینه عملیات هم نه وو ما ویل گوندې یو یا دوه وي چې متخصصه ووینم خو تر دوه نیمو بجو د عملیاتو کوم څرک نهٔ ؤ

زما هم سات نهٔ تیریدو د متخصصې د لیدو هیله راسره وه

د مجبورۍ مې چوپټر راواخېست مطالعه مې شروع کړه

تقریباً لس دقیقې به وتلې وې چې د روغتون د لاین موبایل ته زنگ راغی پورته مې کړ سلام مې وکړ

د جوړ تکره وروسته یې وویل تاسو خیبر یاست؟

ما ویل هو خیبر یم ویل یې د ماشومانو واړ کې یو ماشوم ته کینوله لگوو خو د ډېر کوشش وروسته هم سمهٔ نه شوه که ستونزه نهٔ وي یو ځل تاسو راشی

ما ویل سمه ده زه درځم

روغتون په هر واړ کې زمکنې د لاین ولا موبایلونه درلودل که به د چا کار شو د دې لارې به یې زنگ کاؤ

زه د کینیولو په لگولو کې هم ډېر تکره وم بیخي ښهٔ نوم مې پکې درلود ځکه چې زه اول روغتون ته د نرس په صفت راغلی وم عاجل واړ او د ماشومانو واړ کې مې مسلسل څو کاله کار کړی ؤ

بیا د ماشومانو او ښځینه واټ یو ؤ یوازې اطاقونه یې بدل وو که ربښتیا ووایم یو څۀ خوبښ هم وم ځکه چې هلته د متخصصې د لیدلو امکان هم ؤ

خبر لاړم د ماشومانو واټ ته اړوند نرسه رامخې ته شوه د ماشوم اطاق ته ننوتو څو دقیقې وروسته مې ماشوم ته کینوله ولګوله نرسې مننه وکړه او زه بېرته خپل واټ ته را روان شوم

ډېر مې ښکته پورته وکتل چې متخصصه ووینم خو څرک یې نۀ ؤ

ناڅاپي د بیګاني مسج ولا نرسه رباندې راغله سترګې زما او سترګې د هغې شوې یو څو شیبې خو حیران سره ولاړ ؤ بیا یې وویل دلته څۀ کوې لکه چې اوس د متخصصې د دیدن لپاره پردیو واټونو ته هم ځې

ما ویل هغۀ خبره نه ده ستاسو د واټ زنګ راغلی ؤ ماشوم ته مې کینوله لګوله

ویل یې عاشقان په پلمو جوړولو کې هم ډېره تجربه لري

ما ویل دا ځای د دې خبرو نۀ دی هیله کوم دا غلط فکر د زړه ووباسه

ترخه مسکا یې وکړه زه څۀ کار لرم شل ځلې خو پۀ ورځ کې ورته ځه او راځه

ما خبرې ته خوله جوړوله چې د شا متخصصې راغږ کړ خیبره پخېر ستړی مه شې

نرسې شونډې بوڅې کړې او غلي یې وویل واخله لیلا دې هم راپیدا شوه

زه متخصصې ته ورتاو شوم متخصصه نن بې جوړې ښکاریده ځکه چې خپل لباس یې پر تن ؤ غټې نرګسي سترګې ولونه ولونه زلفې نری ټیکری تا به ویل چې کومه حوره د کوه قاف راپټه شوې ده

سلام اغلې څنګه یاست

ویل یې شکر دی څنګه راغلی یې کوم خپلوان څوک مو بستر دي؟

ما ویل نه اغلې د واټ زنګ راغلی ؤ یو ماشوم ته مې کینوله لګوله

د ماشوم اطاق ته یې اشاره وکړه د هغه اطاق ماشوم ته؟

ما ویل هو همدغه ته

ویل یې کینوله ولګول شوه؟

ما ویل هو شکر

زیاته یې کړه ربښتیا هم ستونزمنه وه افرین چې دا کار دې وکړ خو دا راته ووایه چې دومره سختې کینولې څنګه لګولی شې؟

متخصصې ته مې پورتنۍ خبره وکړه چې زه اول روغتون ته د نرس په توګه راغلی وم کینولو کې مې ډېر کار کړی اوس هم چې سخته کینوله وي ما پسې زنګ وهي

متخصصې ویل ماشاءالله خیبره دا خو د کمالاتو ډک یې ما خو فکر کاؤ چې یوازې بې خوشي او شوګیرې کولی شې

سترګې مې زمکې ته نیولې وې

نرسه لکه جاز خپل اطاق ته روانه شوه

متخصصې ته مې ورغبرګه کړه زه نۀ پوهېږم چې تاسو به د شوګیرو خبره کله هیروی

و يې خندل خير لږه شوخي دې هم پکې وي بغېر د شوخۍ ژوند بې مالګې وي

ما ويل هو اغلې دا خو ده

د مسکا سره يې وويل چای څښې؟

ما ويل نه مننه زه به خپل واټ ته لاړ شم

ويل يې ګوره زموږ واټ ته راغلی يې بيا به ګيله کوې چې د چای ست يې هم ونکړ

ما ويل تاسو څو ځلې عمليات خونې ته راغلی خو ما د چای ست ونکړ تاسو تکړه ياست ميلمه پالنه کې

ويل يې هو د نارينوو ښځينه څو برابره تکړه دي

و مې خندل پۀ بعضو مواردو کې يې درسره منم خو پۀ هر څۀ کې هم ځانونو ته نومرې مۀ ورکوی

نرمه مسکا يې وکړه نارينه لږ بخيلان هم دي په هر صورت تاسو مو واټ ته لاړ شی په مخه مو ښۀ

روخصت مې واخېست او خپل واټ ته راغلم

د عمليات خونې غم دا ۇ چې موبايل پکې کار نۀ کولو د دې د لاسه زيات پۀ تکليف وم

د عمليات خونې ترڅنګ د روغتون د اداري مدير دفتر ډوله اطاق ۇ هغه پسې ورغلم ما ويل مدير صيب په لانجه اوړيدلی يم زموږ ځای کې انټرنېټ څۀ چې موبايل عادي شبکه هم نۀ ښايي

ويل يې همداسې ښه ده په انټرنېټ څۀ کوی د ناروغانو سره اوسی

ما ويل ياره نو ته هم نادودې غږوې د وای فای فسورډ راته وښايه

ويل يې بغېر د ادارې له پرسونله چاته فسورډ نه ورکوو

ما وې ملګری مې نۀ يې هيله کوم

مدير د وای فای فسورډ راکړ او خپل اطاق ته راغلم

وټساف مې راخلاص کړ کوم نوی مسج څۀ نه وو د وټساف سټورۍ ته لاړم متخصصې او نرسې دواړو نوي سټورۍ لګولې وې

د متخصصې سټوري لاندې بيت ۇ

شکمن شمه پۀ ځان چې در مئين نه شم سرېه

لتا سره چې کېنمه کيسې رانه زياتيږي

او نرسې ليکلي وو

نجلۍ زما لالی دې خپل کړ

قبول دې مه شه رب ته ټول عبادتونه

# دیارلسمه برخه

د متخصصې په ستورۍ مې ریپلې ورکړه

اغلې تاسو په فروفایل لیکلي چې (معصومه ډاکټره) اول مې فکر کاؤ چې دا نوم بالکل تاسو سره جوړ دی خو اوس چې ستا شوخي ګورم باید په فروفایل ولیکې چې شوخه ډاکټره

متخصصه افلاین وه ځواب یې رانکړ

پورته شوم لږ په نورو واټونو وګرځیدم له ځنده مې بعضې ملګري نه وو لیدلي

ناوخت اطاق ته راغلم موبایل مې وکوت وټساف ته د نرسې مسج راغلی ؤ

خیبره ما ته‌ره شپه لیکلي وو چې زه ستا پر ژوند کار نۀ لرم مګر هیله کوم چېرته چې زه وم هلته مۀ راځه هیڅ زغم نۀ لرم چې متخصصه دې تا سره وخاندي

نرسه انلاین وه ورته و مې لیکل ګوره ته تعلیم لرونکي نجلۍ یې هیله کوم دغه خبرو پسې مۀ ګرځه

و یې لیکل ته مې نۀ شې درک کولای د مینې حسد او نیت کمی د تعلیم څخه لرې خبره ده

ورغبرګه مې کړه نو څۀ وکړم روغتون دربریږدم؟

ویل یې نه مګر زه چې وم متخصصې سره خوږ خوږ مۀ کېږه زه کوشش کوم چې لنډ وخت کې ځان بدل کړم

ما ویل وه نجلۍ هسې مو ماته دومره هوا راکړي حق حیران یم ګورۍ زه ډېر فقیر ملنګ سړی یم

د غوسې ستیکر یې مسج ته ورکړ او و یې لیکل

که ستا په شان یو څو فقیران او ملنګان نور هم وای دنیا به وختي سوځیدلي وای

بیا مې ولیکل زما ګرمه څۀ ده؟

ویل یې ته هیڅ ګرم نه یې مګر زه سوال درته کوم یوه عاجزه هیله مې درڅخه وکړه

وو مې ویل ګوره دا روغتون دی د رسمي خبرو پرته زه د متخصصې سره هیڅ اړیکه نۀ لرم

و یې لیکل ته وا زه ړانده او کاڼه یم هیڅ نه وینم او نه اورم

ستا ارادې د متخصصې په طرف دي او د هغې ارادې ستا په طرف

په همدې وخت متخصصې په لیکیدلي ستورۍ زما ریپلې ته خندا راولیږله ورسره یې مسج راغی

خیبره ما نو کومه داسې ځانګړې شوخي کړې چې تا زما نوم هم بدل کړ

ما ویل د شوخۍ نور ښکر نه وي ستا غوندې وي

و یې خندل خېر زه خو شوګیرې نۀ کوم

مسج ته مې د غوسې سټیکر ورکړ و مې لیکل

که زه شوګیرې کوم ته هم چې د بعضو خلکو سره کېنې کیسې درڅخه زیاتیږي

اوږده خندا یې راولیږله دوباره یې بیا خندا راولیږله

او و یې لیکل ښا نو اوس ستا هغه ته فکر شو

ما ویل خود مې فکر شو

په دې منځ کې نرسې مسج وکړ ځواب دې ورک شو

ما ویل لږ صبر زه درته مسج کوم

نرسې د خفګان سټیکر راولیږلو او لیکلي یې وو

زه پوه شوم چې متخصصې سره اخته شوې هغه هم نن نوکري ده او اطاق کې موبایل کې اخته وه

ما ویل د متخصصې څارنه دې هم شروع کړه؟

ویل یې نه په اطاق یې راتیریدم دروازه یې لږه خلاصه وه نو و مې لیده

متخصصې ته مې ولیکل اغلې د چا سره کیسې درڅخه زیاتیږي؟

ویل یې چې دا زه او ته وو او دا مو دعوې وي سټورۍ پورته کول به بند کړو

ما ویل دعوې اول تا شروع کړې هر وخت زما شوګیرې یادوې

ویل یې زه خو ټوکې کوم

ما ویل نو ما کوم د عیده ګا جومات کې قسم درباندې کړی

دې خبرې ته یې بیا اوږده خندا راولیږله

و یې لیکل رښتیا ستا فسبوک پاڼه مې هم وکتله ډېره خوندوره شاعري هم کوې

ما ویل اوس یې خوند وکړ هغه دې هم راپسې پیدا کړه

ویل یې هو په مخه راغله ورته فکر مې شو

ما ویل د فسبوک پاڼې نوم دې څه دی؟

ویل یې اوس یې نه درته ښایم

ما ویل سمه ده ستا خوښه ده

شیبه وروسته یې ولیکل

خیره زه ډېره یوازې یم که هر څومره لوړ ژوند ولرم بیا هم انسان د زړه تنګی احساس کوي زه کالونه کالونه د کورنۍ ببله یم ډېر وخت وروسته کور ته ځم

دلته مشخص نږدې کس خپل پردی هم نشته راسره چې یو څه پام مې ورسره بدل شي هر ځای په کار اخته یم دلته کار ابم اېس اف کې کار او بیا د اوسیدلو ځای کې هم تنها

ته وا سخته نه ده؟

د متخصصې مسج خفه کړم و مې ليکل ربښتيا هم سخته ده بدون د کورنۍ ژوند کول سخت دي او بيا ښځينه ذات ته

ويل يې هو کنه انسان يو څۀ تفريحې ته هم اړتيا لري خو زموږ او ستاسې ټولنه پابنده ده محدوديتونه کلتور ټولنيزې ستونزې دا ټول هغۀ څه دي چې موږ يې تړلي يو

ما ويل درک کولای مو شم ته د اندازې پورته تکړه يې هومره مبارزه يې چې د اظهار توري درته نلرم

مننه يې وکړه او و يې ليکل پوهېږې زه جدي مزاج لرم بدون د کار او ضروري خبرو په چا غرض هم نۀ لرم او نه په دواړو کاري ځايونو کې چا سره شخصي اړيکې پالم

يوازينی کس به ته يې چې کله کله ټوکې ټکالې يو نيم مسج درسره وکړم

ما وې پوهېږم اوس هم کله کله فکر کوم چې ستا يو نيم مسج زما لپاره الهي نصرت دی ګني ته او زه د زمکې او اسمان هومره فرق سره لرو

و يې خندل مننه مګر هيڅ فرق سره نه لرو دومره چې بخشونه مو مختلف دي باور وکړه ته رباندې ډېر ښۀ لګې لکه کالونه مې چې درسره تېر کړي وي

دا مسج نو همغه د ولسي جرګې د يو وکيل خبره چې ستاسو يو ووټ راکول زما لپاره د توپ ډز دی

د متخصصې مسج د توپ ډز ؤ د زړه هغه لرې روغې برخې يې هم راته درې ورې کړې

د ډېرو احساساتو پورته شوم ځان مې زمکې ته راخطا کړ

مسج ته مې د زړه ولا سټيکر ورکړ نه پوهيدم چې څۀ ورته وليکم

تر هغې يې زما يو غزل راوليږلو چې فسبوک کې مې پورته کړی ؤ او ورسره ليکلي يې وو

بيخي ښه غزل دی څو ځلې مې ولوست

ما ويل نړۍ مننه تاسو مهربانه ياست

و يې ليکل نن نوکري يې؟

ما ويل هو روغتون کې يم

ويل يې زه هم نوکري يم

ما ويل ناروغان مو څنګه دي سترې کړي خو به يې نه يې؟

ويل يې نه نن يو څۀ ارام يم لږ مخکې مې مور سره زنګ وهلی ؤ هغې سره وغږيدم بيا مې پر ستورۍ ستا ربېلې ته فکر شو ښه ډېر مې ورته وخندل

ما ويل تل خوشاله اوسې مورکۍ دې ښۀ وه؟

و يې ليکل هو الحمدالله بيخي ښه وه مورکه مې ډېره صحتمنده ده

ما ويل شکر همداسې يې درته لرې

يو څه وځنډيده

نرسې مسج وکړ اوس ممکن زما مسج ته ځواب راکړې متخصصه د یو ناروغ لیدلو لپاره د اطاق راووته

ما وې ولې تاته ما کوم وخت ځواب نه دی درکړی؟

ویل یې دغه اونۍ پوره بدل شوی یې

ما ویل یوه خبره به درته وکړم زه هومره مهم شخص نه یم چې چاته دې خفګان ورکړم راځه زه او ته د تل په شان دوستان ښه یو

و یې لیکل زه همداسې غواړم سهار او ماښام درځخه دوه زره قسمونه کوم خو دا زړه یې نه مني د دې حالته د خلاصون لارې لټوم

نرسې ته مې وویل د اوس لپاره دې پر دنده او زده کړو تمرکز وکړه

ویل یې سمهٔ ده ناصح صیب لیلو دې هم اطاق ته ننوته ورځه هغې سره مسج وکړه

نرسې ته مې ولیکل هیله کوم دغه د لیلو لفظ د خولې لرې کړه

ویل یې نه یې لرې کوم لیلو درته مسج وکړ

د نرسې په همدې مسج د متخصصې مسج راغی ووبښه لږه وځنډیدم

ما ویل رب دې ووبښه ستونزه نشته

متخصصې ولیکل یوه پوښتنه کوم؟

ما ویل مهرباني؟

د دوو ډاکټرانو نومونه یې واخېستل ویل یې دا پېژنې؟

ما ویل هو دواړه پېژنم څهٔ خبره ده؟

ویل یې دواړه غواړي چې زما کورنۍ ته جرګه ورولیږي مګر زه نه غواړم

دا خبره لکه تندر داسې وه و مې لیکل چې ته نه غواړې نو دوی ولې داسې فکر لري؟

زیاته یې کړه زه هم نه پوهېږم بار بار د بل چا په خوله ځوابونه رالیږي څو ځلې مې رد ځواب ورکړ

ما ویل دماغ یې خراب شوي دي سم یې پوه کړه چې بیا څوک ځواب درپسې و نه لیږي

د متخصصې خبره ریښتیا هم چې همداسې وه ما هم بعضې کنګوسې اوریدې ډېرو کسانو کوشش کاؤ چې د متخصصې کورنۍ سره د متخصصې په اړه تماس ونیسي

متخصصه تکړه ښکلي او باحیا وه هر چا غوښتل چې د داسې نجلۍ سره ژوند جوړ کړي

زه بیا هم وایم چې زما سره روانه اړیکه یې یو الهي نصرت ؤ ګني زموږ ډېر پرسونل زما څخه په لوړه کچه ؤ

خیر ته اوس بل غم هم پیدا شو

بس لاندې لنډۍ مې ورولیږله

په لیلا ډېر خلک مین دي

بخت د هغو دی چې لیلا پرې شي مئینه

لنډۍ ته يې د خندا سټيکر ورکړ او و يې ليکل ته ما شوخه بولې خپلې شوخۍ ته دې فکر دی

ښښنه مې ووغوښته ويل مې شوخي مې وکړه

ويل يې ستونزه نشته پروا نه کوي خو دا خبره به تا سره امانت وي هيله کوم زما او ستا په اړيکه څوک پوه نۀ شي زموږ ټولنه له ما ته ډېره ښه پېژني چون زما روابط پاک دي خو بيا هم خلک خبرې کوي

ما ويل زما لطرفه بې غمه اوسه

مننه يې وکړه ويل يې نور درته ښۀ وخت غواړم ښې شيې ولرې

متخصصه لاړه ما هم موبايل کېښود پۀ فکرونو کې لاړم اوس نو لوی غم دا شو چې خلک د متخصصې د خپليدو هڅې کوي

## څوارلسمه برخه

سهار پنځه بجې د اطاق دروازه راوټکيده

پورته شوم د عمليات خونې صفاکار ۀ ويل يې نوکريوال ډاکټر دې غواړي

ځان مې برابر کړ نوکريوال ډاکټر ته ورغلم ويل يې يو عاجل عمليات لرو ترتيب برابر کړه

لاړم عمليات خونه مې منظمه کړه د ناروغ عمليات ترسره شول

خپل اطاق ته راغلم تقريباً د سهارنۍ ناشتې وخت ۀ

د روغتون اشپاز يو ګيلاس شيدې راوړې

ما مې د موبايل وای فای خلاص کړ څو مسلسل مسجونه راغلل

اول د متخصصې مسج ته ورغلم ليکلي يې وو

ميوو مطلب د پيشو اواز يې ليکلی ۀ

دوهم مسج کې يې سهار پخير ويلي وو

ته وا د دې مسجونو به څومره خوند ۀ نه پوهېږم څوک به يې درک کړي

د پيشو اواز يې بيا نو خوند سل زره چنده ښکلی کړی ۀ

ژر مې وليکل مننه ستاسو هم سهار پخېر هيله ده چې ښکلي ورځ به ولرې

مسنجر ته لاړم هلته هم د عمر او يو څو نورو ملګرو مسجونه راغلي وو خو د مسنجر سپم ته مې فکر شو لاړم د يو مستعار نوم څخه مسج راغلی ۀ

عموم کې که فسبوک کې څوک درسره ملګری نه وي او مسج درته وکړي سپم ته ځي

د اکونټ نوم( پيشوګۍ ) ۀ

د سور ګلاب عکس يې فروفايل ته لګولی ؤ

او د کاور عکس يې د فشار اله وه

نۀ پوهيدم چې څوک به وي سلام ته مې ځواب ورکړ خو د هغې لطرفه ځواب رانغی

د فسبوک وال ته لاړم همدغه د پیشوګۍ پۀ نوم اکونټ زما پوسټونه مسلسل لايک کړي وو

نور پوهنتون ته روان شوم تر غرمې پوهنتون کې وم بېرته روغتون ته راغلم لباس مې چېنج کړ او نور د متخصصې د ليدو په هيله شکته پورته کیږم

وټساف ته مسج راغی متخصصې زما مسج ته لايک ورکړی ؤ او ليکلي يې وو

سلام غرمه مو پخېر پوهنتون کې ياست که روغتون کې؟

و مې ليکل د پوهنتون راغلم اغلې روغتون کې يم

مسج يې رېپلې کړ خيره که نن دې لږ وخت پيدا کړ يو خدمت راته وکړه

د متخصصې خدمت ؤ څنګه به مې نه کولای

ما ويل په سترګو امر کوه؟

ويل يې يو څو ضروري اسناد درکوم هغۀ راته سکېن کړه بل چاته يې نۀ شم ورکولای

ما وې په سترګو چېرته دي؟

ويل يې ما سره دي روغتون کې نن يې سکېن کړه سبا چې راغلې ماته به يې راکړې

ما ويل خوښه مې ده

ويل يې که اوس وخت لرې د واټ دروازې پورې راشه لږه به زه درشم

ما ويل درغلم راځه

زه د واټ په طرف روان شوم

لږ وروسته واټ ته ورسيدم چې څنګه د واټ په دروازه داخل شوم نرسه د دروازې مخې ته ولاړه وه

چې زه يې وليدم راغله سلام بيا څنګه راغلی يې؟

ما ويل يو خپلوان ناروغ مو بستر دی د هغې پوښتنې ته راغلم

ويل يې تا خو به د هر خپلوان ناروغ لپاره ماته زنګ کولو دا ځل زه ولې نه يم خبره؟

ما ويل فکر شوی مې نه دی څۀ ګورم چې متخصصه را روانه ده نرسې شونډې بوڅې کړې او زياته يې کړه زه پوهيدم چې د همدې لپاره راغلی يې

متخصصه رانږدې شوه نرسه په بيړه خپل اطاق ته روانه شوه

نن نو بيا متخصصه د ښايست په غرونو ناسته وه تر څنګلو تک سپين لوڅ لاسونه

د واټ لنډی لباس

په غاړه کې تک ژېړ وړوکی ځنځیر

هغه د چا خبره لکه ګرډېز😍

متخصصې سلام وکړ ویل یې څنګه یې شوګیر صیب؟

ما ویل ښهٔ یم مننه پام کوه چې چآ سره کېنې کیسې درڅخه زیاتې نه شي

متخصصې کټ کټ وخندل زیاته یې کړه د دې ستوری کور وران شه چې ما لکوله اوس به تر کومې دا راته یادوې

ما ویل کټ مټ زه هم د هغه ستوری د لاسه کړیږم چې ته یې راته یادوې ان نن خو دې شوګیر صیب هم کړم

بیا یې وخندل د متخصصې خندا هم داسې وه لکه د سهار شبنم چې پر ګلاب پروت وي او شمال یې ووخوروي مطلب په زړه یې لیکې جوړولې

پهٔ دې جریان کې مې فکر شو نرسې څو ځلې د دروازې تعقیب کړو

متخصصې زیاته کړه خبر په هر صورت دا زما اسناد دي سبا ته یې سکېن ته ضرورت لرم که نن یې سکېن کړې سبا به یې زه درڅخه واخلم

ما ویل سمهٔ ده خو دا دوه ورځې مو عملیات نشته؟

مسکۍ شوه شکر چې نشته اوس څهٔ وکړو روغ خلک عملیات کړو؟

پهٔ خپله کیسه پښیمان شوم ما ویل شکر چې نشته هسې خبره مې وکړه

ویل یې پهٔ دې هسې خبره دې چین ته ورشرمولو

و مې خندل او روخصت مې واخېست

ماسپیښین وختي د روغتون ووتم ښار کې مې په یو کمپیوټر کار اسناد سکېن کړل نور کورته روان شوم

ضور ته ورسیدم مور سره مې سترې مه شې وکړه ویل یې شپه دې ښهٔ وه

ما ویل شکر ادکې ستاسو دعاګانې دي

ویل یې د ژېړ پاکټ ضې څهٔ دي؟

ما ویل د پوهنتون اسناد دي

ویل یې سمه ده

شیبه وروسته اطاق ته لاړم

متخصصې ته مې مسج وکړ سلام اغلې اسناد مې سکېن کړل که دې اوس غوښتل هم دروړم یې

خو متخصصه افلېن وه

د مازدیګر لمانځه وروسته مې عمر ته زنګ وکړ ما ویل چېرې یې عمره؟

ویل یې ستاسو د کور شاوخوا یم

ما ویل دلته څهٔ کوې ویل یې یو څهٔ کار مې ؤ

ما ویل کوم ځای کې سره وینو

ویل یې د ښکته پارک پۀ طرف راځه ما ویل سمه ده

زه او عمر به اکثره وخت فارغ وخت کې ښکته پارک کې کېناستو

پارک ته ورسیدم عمر له وړاندې پارک کې ناست ؤ

د جوړ تکړه وروسته یې پوښتنه وکړه ته چېرته بې درکه یې پوره اونۍ ووته چې نه دې زنګ کړی نه دې مسج کړی او نه کوم خبر بیګا هم ما مسج وکړ سهار دې ځواب کړ

ما ویل ببښنه راته کوه هیڅ مې فکر شوی نه دی

ویل یې هغه بې سببه خفګانونه کوم ځای ته ورسیدل؟

ما ویل د هغې سبب پیدا دی

ویل یې څنګه؟

ما ویل نو همغه متخصصه وه

و یې خندل رښتیا زما خو هېره هم وه څۀ وشول؟ رنګ خو دې خپل ځای ته راغلی دی

ما یو عادت درلود چې تر اوسه د چا پۀ نموس د دوهم کس سره بې ځایه نه وم غږیدلی نه مې د ملګرو او اړیکو خبرې چا سره کولې یواځینی کس عمر ؤ چې کورني ټولنیز او هر ډول مشکلات حالات او نور څۀ به مې ورسره شریک کول

خو اوس دومره پوه شوم چې د مینې راز هیڅکله نه پټیږي د دې ترڅنګ د پوهنتون همصنفي اصف زما نږدې ملګری ؤ چې بعضې موضوعات به مې ورسره شریک کول یا ټوکې ټکالې

ما ویل عمره کیسې خرابې دي برادره څوک یو کیلو عاشق وي څوک دوه درې کیلو خو زه د پوره من هم اوړیدلی یم عمر د خندا شین شو پۀ خندا کې یې وویل چې بچېش مبارک مبارک بس لاړې تبا شوې

ما ویل نو ته هم د هر څۀ ریشخند جوړوې

ویل یې نور څۀ درته ووایم زما خبرې خو دې نه وومنلې چې هغه شپه مې درته وکړې

ما ویل یاره نو زما ته ښۀ پوهېږې مینه د زور او رضا خبره نه ده بس طبیعي جوړه شي که زما په وس وای نه مې غوښتل

عمر ویل سمه ده اوس دا راته ووایه چې خبره تر کومه ځایه رسیدلې ده؟

ما ویل متخصصې سره نورمالې اړیکې لرم

ویل یې څنګه اړیکې؟ هسې نه چې ته عاشق عاشق ګرځې او هغه عاجزه خبره هم نه وي

ما ویل نه د اړیکو پیل د متخصصې لخوا وشو او ډېری وخت مسج یا زنګ هم متخصصه کوي

عمر ویل دا خو دې اوبو کې اوربل شو

ما ویل اور بل شو خو زه چې حالات ګورم هسې نه د تېلو په منځ کې اور مړ شي

ویل یې څنګه او ولې؟

ما وې د ټول روغتون ورپسې سترګې دي ان خلک کوشش کوي چې کور ته جرګې ورولیږي یو کس خو جرګه هم ورلیږلې

عمر زیاته کړه پۀ دې اړه متخصصې سره غږیدلی یې؟

ما ویل هو بیګا متخصصې هم دا خبره راته وکړه

ویل یې د متخصصې څنګه فکر ۇ؟

ما ویل هغه نه غواړي چې کوژده وکړي یا د چا جرګه قبوله کړي

عمر ویل نو بیا ولې ورته یې فکره یې خلک به خپل کار کوي چې متخصصه نه غواړي په زور خو څوک نه شي کوی

ما وې دا خو ده مګر هسې نه چې د متخصصې نیت بدل شي په سپین میدان به پاتې شم

عمر ویل د متخصصې فکر او احساسات څۀ ډول دي یو څۀ خو به دې مطالعه کړي وي او بله دا چې د مینې اظهار دې ورته کړی یا په تا پوهیږي؟

ما ویل احساسات او فکر یې ډېر د ښې کورنۍ دي بیخي عالي درجه خوی حصلت لري مګر د مینې اظهار څۀ چې تر اوسه ډېر ازاد ګف هم سره نلرو

عمر ویل خیبره ته پوه او درک کوونکی ځوان یې هر څۀ سنجولی شې مخکې وروسته راتلونکی ټولې لارې درته ووګوره د دې ترڅنګ ستا او د هغې د ژوند کچه هم درته و ارزوه د هغې وروسته مستقیم د زړه خبره ورته وکړه

ما ویل ستا خبرې ټولې سمې دي خو پۀ دې موضوع کې د لارو سنجول د حالاتو درک کول یا نور ټول بې ګټې دي مینه ړانده وي ځای حالات خان او غریب نه پېژني

ویل یې دا هم درسره منم نو څه فکر کوې او څۀ پلان لرې؟

ما ویل هیڅ پلان او فکر نشته تر هغې به همداسې مخکې ځو وروسته چې هر څۀ پیښدل

عمر ویل سمه ده رب دې خېر پکې واچوي

ما ویل د بلې دې خبر کړم اصلي لانجه خو بله هم پکې راووته

عمر ویل څۀ

ما ورته د نرسې خبره ورته وکړه

عمر وخندل چې خېر نرسه ماته راکړه

ما ویل نو ظالمه کوم د خرخولو شی دی چې تاته یې درکړم

عمر بیا وخندل ټوکې کوم جدي کېږمه

ما ویل وه سړیه زړه مې هم پرې بدیږي او زموږ د لارې یو څۀ خنډ هم جوړ شوی

عمر ویل نو نرسې ته صفا خبره وکړه چې زما متخصصه خوښه ده

ما ویل د نرسۍ سره تر اوسه زما نورماله دوستي وه بس ناڅاپي یې داسې خبره راوکړه او اوس ګیلې کوي خفګان کوي زما او د متخصصې تشې خبرې هم نشي زغملی

عمر زیاته کړه مهٔ ورپسې ګرځه خپله به یې زړه صبر شي ته دې په اختیاط مخکې ځه

ما ویل ناوخت شو کور ته زنګ ووهه بیګا ته به زمونږ کره پاتې شې

ځو پلمې یې وکړې خو په زور مې راکش کړ

د شپې تر نهو بجو زما د مور سره ناست وو مور مې عمر سره کیسې کولې زه هم نشوم پورته کیدلی

شیبه وروسته زما اطاق ته راغلو

ما ویل عمره لږ به ټولنیزې میډیا ته سر ورښکاره کړو

ویل یې سمه ده ستا بهٔ مهم مسجونه هم راغلي وي

ما د موبایل ډاټا خلاصه کړه مسلسل مسجونه او نوټیفیکیشنونه راغلل مګر زما پام د متخصصې مسج ته ؤ لاړم مسج مې خلاص کړ

متخصصې لیکلي وو مننه خیبره ستړی کړی به مې وې خو اسناد مې ضروري پهٔ کار ؤ

ما ویل هیله کوم اغلې کومه خبره نهٔ ده

ویل یې یو خو نور د اغلې نوم راته مه اخله خپل نوم راته اخله

ما ویل خپل نوم خو نهٔ شم درته اخیستلی شرمیږم

ویل یې ولې شرمیږې دې کې څهٔ خبره وي

ما ویل بس شرمیږم نو

پهٔ مسج کې یې اوږده خندا راولیږله

مسج مې وکړ ما ویل چې زما یو نوم خوښ دی که هغه درته اخلم کوم اعتراض خو نهٔ لرې

ویل یې کوم نوم؟

ما وې خبر اوس نهٔ درته وایم

ویل یې سمهٔ ده

ماته عمر راغږ کړ خیبره یو کار وکړه ستا د وټساف سټوري متخصصه ګوري؟

ما ویل هو ګوري یې

ویل یې زه یو بیت درته وایم هغه پهٔ سټوری ولګوه

ما ویل ولې مو په جنجال اړوې مخکې مې یوه سټوري لګولې وه تر اوسه یې راته یادوي

ویل یې ستا په ګټه ده هله دا بیت سټوري کړه

لاندې بیت مې د وټساف سټوری ته ورکړ

ستړګو کې پوهېږې نه په خوله درنه شرمېږمه

څنګه درته ووایم چې تا سره مې مینه ده

## پنځلسمه برخه

بس نو اوس کرم او ریبم چې متخصصه به یې په لیدلو څه احساس کوي

ژر ژر د وېساف ستوري ګورم چې متخصصې کتلي کنه

تر هغې مې د نرسې ستورۍ ته فکر شو د سایل صیب بیت یې د وېساف ستورۍ ته ورکړی ؤ

خدای خو دې خپل زړه پسې وژړاوه

په باران واورې چې باران غواړې

د نرسې ذوق او انتخاب هم بیخي عالي ؤ ډېر ښۀ ښۀ انتخابونه یې لرل د نرسې ستورۍ ته مې ولیکل خیر شه په دې بیت

ځواب یې رانکړ

څه ګورم چې متخصصې زما پۀ ستورۍ ربپلې وکړه لیکلي یې وو

زه یوازې شکمنه وم خو اوس پوره باوري شوم داسې وکړه چې ماته یې ادرس راکړه زه به ورشم ورته وو به وایم چې وه ظالمې ته زموږ د ډاکټر په ستړګو ولې ځان نه پوهوې هغه عاجز ستا د لاسه شوګیرې کوي

بل ځواب راسره نه ؤ عمر ته مې وکتل ما ویل ته ورک شې او ورک دې بیت شه

عمر ژر وویل ولې خېر شه؟

ما ویل ستوري متخصصې وکتله او دا لیکل یې پرې کړي

عمر د خندا شین شو دومره یې وخندل چې د ستړګو یې اوښکې روانې شوې

ما ویل عمره داسې ښۀ کار دې کړی چې دومره خاندې

ویل یې نو ما څۀ کړي ما خو ستا لپاره ښه فکر درلود

ما ویل په داسې فکر دې د پوتین اټمبم راپرېوځي

عمر زیاته کړه بې ټوکو درته وایم مختصصه څان غلطوي هسې یې دا جملې لیکلي نوره ښه پوهیږي

د عمر خبرې هم لږ وزن درلود

ما ویل نو اوس څۀ ورته ولیکم

عمر وخندل زه خو دې سلاکار وزیر نۀ یم خو یو څۀ ورته ولیکه

ما ویل د بیت جاک تا ووهلو اوس د څواب ټکي هم راګوره

عمر ویل نور درغلی شه زه بل چا سره مصروف یم

لاړم د متخصصې ستوری ته مې د خندا ستېکر ورکړ او و مې لیکل بیا دې پۀ ستوری لګولو پښیمانه کړم

متخصصې وخندل زه څه وکړم خو ته یې مخاطب کس ته شخصي مسج ته ورلېږه

ما ویل نو زما مخاطب د کومه شو هسې بیت مې خوښ شو او ستوري مې کړ

د خندا مسلسل ستېکرونه یې راولیږل د شوخی پۀ ډول یې لاندې لنډی راولیږله

زه پۀ مین سړي پوهېږم

رنګ یې تک ژېړ د شوګیرو د لاسه وینه

لنډی ته مې د غوسې ستېکر ورکړ

تر هغې متخصصې بل مسج وکړ ووبښۀ چې افلېن وم د اسنادو د سکېن کیدلو مسج مې ناوخت ولېد سبا چې روغتون ته راځې اسناد درسره راوړه

ما ویل سمه ده خو شکر چې د بیت خبره دې هېره کړه

ویل یې ګوره بیا دې را پۀ زړه کړه

ما ویل نه نه غلط شوم او بېرته مې پورته مسج ریمو کړ

د متخصصې مسج وځنډیدو موبایل مې کېښود عمر ته مې وکتل

عمر ویل لکه چې د متخصصې مسج ورک شو

ما ویل هو ځکه مې ستا بختورې څهرې ته وکتل

عمر د خندا شین شو ویل یې د دې وروسته هیڅ ډول مشوره نه درکوم

عمر ته مې خبره کوله چې مسج راغی و مې کتل نرسې دوه غبرک د اوښکو ډک ستېکرونه راولیږل

عمر ته مې مخ کړ دا ووګوره تۀ به وایې چې څوک مې ترې وژلي دي

عمر زیاته کړه وخی عاجزه خو مجبوره به وي ته فکر وکړه که متخصصه ستا پۀ مخکې بل چا سره خبرې کوي او یا ورسره نږدې اړیکې پالي څۀ بۀ کوې

ما ویل بالکل سخته ده خو زه د نرسې سره بدون د دوستی بله اړیکه نۀ لرم

عمر ویل خبر یو څۀ ګذاره ورسره وکړه پۀ چل او هنر یې پۀ زړه د صبر کاڼی ورکېږده

ما ویل زه چې ځان ګورم د متخصصې به شل زره کاله وروسته هم زړه صبر نه شم کړی نو نرسه به څنګه داسې وکړای شي

عمر برګ برګ راوکتل او زیاته یې کړه خیبره ګلان دې خپله کرلي دي او اوس یې د ریبلو حوصله ولره زه دې نور کنکس کړم په دې ګډوډو روانو حالاتو

د عمر مې په غوسه مخ راتاو کړ نرسې ته مې د ښښې لس دوولس سټېکرونه ورولیږل

نرسې مسج وکړ خیبره زه غوارم چې ته خوشاله وې او پۀ دې هم باوري شوم چې ستا او د متخصصې اړیکه ډېره مخکې لاړه زما د ځایدو فیصدي پکې تر صفر رسیدلي بس خالي دومره سوال مې وومنه چې مسج درته کوم ځواب یې راکوه

ما ویل نو ما کله تاته ځواب نۀ دی درکړی؟

ویل یې نۀ پوهېږم ماته هسې ګیله ودریږي

ما ویل سمۀ ده

ویل یې څۀ سمه ده؟

ما ویل ستا مسج ته به په وخت ځواب درکوم

و یې لیکل متخصصه هر وخت مسج درته کوي؟

ما ویل نۀ کله کله

ویل یې نن یې د څۀ اسناد درکړل؟

ما ویل کاغذونو وو کاپیانې یې پۀ کار وې

اووف یې ولیکل او زیاته یې کړه ته به واېې چې دلته خلاګانې صفاکاران یا روغتون کې نورې نجونې نشته چې تاته یې درکول

ما ویل نو ته هم ډېر وخت اسناد ماته راکوې چې څۀ ته دې اړتیا شي دې کې څۀ خبره ده؟

و یې لیکل

درده ته وتلی یې د زغمه نوره نه کیږي

چیغې به اخر وهمه زغمه نوره نۀ کیږي

د دې بیت په رالیږلو افلاین شوه

زه لاړم د وټساف سټوریو ته متخصصې تازه سټوري لګولي وه

وړوکی نۀ یې چې شرمېږې

پۀ جار نارې کړه چې مین دربانډې یمه

زړه مې لوی کړ او ورته و مې لیکل ټول خلک ستا په شان زړور نۀ وي چې داسې پۀ جار ولیکي

ربپلې یې وکړه ګوره بیا دې وار راوګرځوو

ما ویل د څۀ وار خو ښۀ مې لیکلي

ويل يې د مسج د ځنډېدو ښښنه هم کوه هغه وخت مصروفه شوم

ما وې ستونزه نشته

ويل يې مننه د اوس لپاره خوږه شپه ولرې

ناوخت ؤ ما هم عمر ته ځای برابر کړ او ويده شوو

سهار مې عمر روخصت کړ او زه پوهنتون ته لاړم د هغه ځايه بيا روغتون ته

روغتون کې مې لباس بدل کړ او د متخصصې پۀ تمه شوم چې اسناد ورکړم

فکر کوم متخصصه هم روغتون کې نه وه

ماسپيښن ناوخت يې مسج راغی سلام هيله ده چې روغ به يې زه لږه مخکې روغتون ته راغلم که وخت لرې هغۀ اسناد درسره راوړه

ما ويل درغلم

زه ښځينه واړ ته روان شوم په لاره کې ملګری نرس رباندې راغی جوړ تکړه مو وکړ او نور مې روخصت کړ

واړ ته پۀ رسيدو متخصصه د واړ په دروازه کې ولاړه وه سلام مې وکړ

ويل يې وعليکم سلام پخېر راغلې

مننه مې وکړه او اسناد مې ورکړل

متخصصې څو ځلې مننه وکړه ويل يې زحمت مې کړې

ما ويل هيله کوم هيڅ زحمت نشته

چون په واړ کې بيروبار زيات ؤ د زياتو خبرو موقعې نه ؤ نو زه خپل اطاق ته ترې راغلم

يو څو شيبې د يو نوکريوال ملګري سره کېناستم د روغتون په حالاتو او نور موضوعګانو وغږېدو

د هغې وروسته مې موبايل راوخېست څه ګورم چې د متخصصې مسج راغلی

ليکل يې وو چې شوګير صيب زما سکين شوي اسناد راوليږه ما ويل هغه خو مې درکړل

ويل يې زه ځکه د شوګير صيب درته وايم تا خو اصلي اسناد راکړل هغه سکين يې څۀ شول؟

ما ويل ډېر ووبښه پلش کې راسره دي که غواړې همدلته يې وټساف ته درته ليږم؟

ويل يې هو همدا يې غوره لار ده

د پلش مې موبايل ته اسناد کاپي کړل او متخصصې ته مې د وټساف د لارې وليګل

شيبه وروسته يې بيا د منني مسج راغی

ما هيله وکړه

نن موږ هم نارينه عمليات درلودل تقريباً تر ناوخته عملياتو کې اخته وو

د عملیاتو وروسته اطاق ته راغلم بیخي ستړی وم او لږ په خپل ځای پرېوت

## شپاړسمه برخه

ستړګي مې وغړولې ناوخت ؤ

پورته شوم مخ او لاسونه مې وومنځل د چای د ترموز مې پیاله راډکه کړه

د موبایل وای فای مې خلاص کړ

د روغتون د مدیر دې کور ودان وي چې د وای فای فسورډ یې راکړی ؤ ګني سخته وه

ځکه چې زموږ ټوله اړیکه د وټساف د لارې وه

زما په اطاق کې انټرنېټ څۀ چې ساده شبکې هم کار نه کاؤ

ګڼ مسجونه راغلل خو زه د متخصصې د مسج د کتلو په تلوسه کې وم

متخصصې سلام رالیږلی ؤ

ځواب مې ورکړ خو افلاین وه

د نرسې مسج مې ولېد لیکلي یې ؤ

خیبره نن مې کوشش وکړ چې یو ځل دې ووینم خو ته نه وې زه وختي د روغتون لاړم او سبا پرواز لرو د کورنۍ سره مې د هیواده بهر ځم

د دې مسج په لیدو یو څۀ خفه هم شوم ځکه چې زه او نرسه اول ښۀ دوستان وو

د نرسې پلار د بهرنیو چارو په وزارت کې دنده درلوده ناڅاپي دولت په بهر کې د افغانستان د کوم سفارت لپاره لوی دیپلومات معرفي کړی ؤ

نرسې ته مې ولیکل ولا زړه مې بد شو جلا وطني سخته خو خبر هلته کولای شې چې ښۀ راتلونکی جوړ کړې

ژر یې ولیکل بس نور به بې وطنه مرګۍ وم سخت پۀ ډک زړه به وطن درپرېږم

ما ویل کاش انسان د هر چا هیلې ورپوره کولای شوه

لاندې بیت یې راته ولیږو

بس پۀ دې به قناعت کړو محبته

د تقدیر فیصلې چېرې نه بدلیږي

ما وې هو پۀ دې بیت کې واقعیت انځور شوی

و يې ليکل دقيقاً خو زه بهٔ دعا کوم چې ته خپلو هيلو ته ورسېږې

ما ويل مننه تاسو هم

ويل يې زما خوبونه هسې هم خړو اوبو يوړل نهٔ پوهېږم راتلونکی به څنګه وي

ما ويل خبر يې غواړه هر څهٔ به ښه شي

ويل يې نور د ليکلو توان نهٔ لرم يو خدای ج خبر دی چې زما په زړه څهٔ تيريږي ښښنه راته کوه ښه شپه ولرې

ما وې خدای ج دې وويښه زه هم ښښنه غواړم حالات مو درک کولای شم مګر هيڅ نهٔ شم کولای ښکلې شپه ولرې

نرسه مې روخصت کړه يو څه د خپلې زنده ګۍ او حالاتو فکرونو يوړم نهٔ پوهېږم څومره وخت به وتلی وي چې د متخصصې مسج راغی بيا سلام

ما ويل بيا وعليکم دسلام څنګه ياست

ويل يې شکر دی روغه يم لهٔ ځانه وايه

ما وې زه هم ښه يم مننه

ويل يې روغتون کې يې؟

ما ويل هو نن نوکري يم

و يې خندل نن مو کوم عمليات لرل؟

ما ويل هو ولې؟

ويل يې پرون تا د عملياتو پوښتنه کوله خو موږ عملياتي ناروغ نهٔ درلود ما ويل نن به مو کړي وي

ما ويل توبه ته هم هرې خبرې ته لګۍ ور جوړوې

ويل يې سبا د دواړو دندو د څو ورځو لپاره روخصت اخلم او ځم کابل ته؟

ما ويل خېر خو وي؟

ويل يې خېر دی د خور کوژده مې ده هغې کې ګډون کوم

د متخصصې د تګ خبرې هيڅ خوند ونکړ بيخي مې زړه خفه  شو د متخصصې بغېر وخت تېرول به هم سخت وي

ما ويل رب دې يې پخېر ترسره کړي پخېر لاړه شې او بېرته پخېر راشې

مننه يې وکړه او و يې ليکل نهٔ پوهېږم دا ځل هيڅ خوشاله نهٔ يم پخوا به چې کابل ته روانه شوم بيخي ښکلی احساس به مې درلود

ما ويل ولې څهٔ خبره ده؟

ويل يې نهٔ پوهېږم خو بيا هم کورنۍ ده بايد لاړه شم

ما ويل کهٔ زما پر وس وای نهٔ مې پرېښودې

ويل يې څنګه؟

ما ویل ټوکه مې وکړه هیڅ خبره نشته

د متخصصې ځواب ورک شو

زه لاړم د وټساف سټوریو ته

نرسې څو دقیقې مخکې د ورېمې پهٔ غبر د لاندې سندرې سټوري لګولي وه

ډېر ارمانونه مې پهٔ زړه پراته دي

ویښه یم زه خلک ویده پراته دي

د متخصصې مسج راغی وبښه وځنډېدم

ما وې رب دې وبښه دا راته ووایه چې سبا ځې؟

ویل یې هو سبا ځم ان شاءالله

ورپسې یې دوهم مسج هم راغی ویل یې ناوخت دی زه به ویده شم سبا سفر لرم تاته ښه شپه

متخصصې سره مې روخصت واخېست

زه د خیالونو او فکرونو نړۍ ته داخل شوم

د نرسې پهٔ تګ هم نهایي خفه وم او بیا سبا د متخصصې تګ کابل ته هم زما لپاره سخت ؤ

لکه دواړو چې مصلحت سره کړی وي

عجیبه نړۍ ده او عجیب حالات پکې روان دي

هیڅ خبر نهٔ وم چې د اوښکو څاڅکي مې تر لمنې ورسیدل بې اختیاره اوښکې وې

شاید دا زما د کالونو کالونو وروسته ژړا وي رانه هېر دي چې د دې مخکې به ما کله ژړلي وي

یو ډول زړه تنګون واخیستم دواړه لاسونه مې سترګو ته کیښودل په اوښلنو سترګو مې ساعت ته وکتل تقریباً شپه تر یوولسو بجو اوړیدلي وه

پهٔ سترګو کې مې یوازې د متخصصې انځور ؤ

رانه هېر دي چې څومره به ویښ پاتې شوی وم او کله ویده شوی یم

د دروازې په سخته درزا پسې راویښ شوم د بیګانیو اوښکو له وجې مې سترګې کلکې شوې وې

لاړم دروازې ته د نن نوکریوال ولاړ ؤ ویل یې څهٔ درباندې شوي نه دې غږونه اوریدل او نه د دروازې په ټکولو راپورته کیدې

ښښنه مې ووغوښته نوکریوال اطاق ته راننوت زه لاړم مخ او لاسونه مې وومنځل په کوم سهار به مې چې لمونځ قضا کړ ټول ورځ به بې خونده وه

نن نو بیخي طوفاني ورځ ده د دې ورځې تېرول هم سخت دي

پوهنتون ته پهٔ نهٔ زړه روان شوم نیمه ورځ مې هلته تېره کړه د غرمې واپس روغتون ته راتلم خو زړه مې ونشو

د روغتون مدیر ته مې زنګ وکړ چې زه ضروري کار لرم نن دوباره روغتون ته نه درځم

لاړم کور ته مور سره کېناستم مور مې ویل چې تغېر یې

ما ویل بیګا مو عملیاتونه زیات کړي دي او بیا اوس د پوهنتون راغلم ځکه داسې یم

مور مې څۀ خبره وه چې زوی مې د کومو نادودو ملګری شوی دی

چون ما به متخصصه په ورځ کې ولیده یا نۀ خو ډاډه به وم چې همدلته ده نن چې کابل ته تللي هر څۀ پیکه دي

موبایل مې راوخیست ډاټا مې خلاصه کړه

لاړم وټساف ته نن د متخصصې مسج نه ؤ وټساف هم بدرنګ ښکاریدو

د وټساف سټورۍ مې وکتې متخصصې او نرسې دواړو نوي سټورۍ لګولې وې

نرسې لنډۍ سټوري کړي وه

وطن دې تاته مبارک وي

په زړه داغلي درنه بل وطن ته ځمه

د متخصصې سټوري مې خلاصه کړه هغې هم لنډۍ لیکلي وه

سبا کابل ته روانېږم

د خدای نه جار شم بیا به وکړم دیدنونه

د متخصصې لنډۍ نور هم بې فکره کړم

اندیښنه مې شوه چې متخصصه به د چا دیدن ته دومره خوشاله وي بیګا خو یې ویل چې دا ځل چندان احساس نلرم کابل ته د تګ لپاره

سل او زر اندیښنې راسره مل شوې هیڅ د سکون څرک نۀ ؤ

په اطاق کې یوې او بلې خواته ځم

فسبوک مې راخلاص کړ غوښتل مې چې پر خپل وال یو څۀ ولیکم خو هیڅ مې نشول لیکلی

بېرته وټساف ته راغلم خو وټساف هم بغېر د متخصصې د مسج بې خونده ؤ

ما داسې انګیرله چې ګواکي وټساف یوازې د متخصصې لپاره دی نور هیڅ مانا نۀ لري ګني ما به د وټساف د لارې د ملګرو او دوستانو زیاتې اړیکې نیولې

د وټساف په سټورۍ مې د لایق زاده بیت ولیکو

بې لتا وخت نه تیریږي

بۀ ربښتیا وخت نه تیریږي

بیګانۍ بې خوبي او ذهني ستړیا بې اندازې ډېره وه د دې بیت د لیکلو وروسته ویده شوی وم.

# اوولسمه برخه

د شپې تر نهو بجو د وير او خفګان ملګرى وم داسې وير او خفګان چې پخوا ما نه وو تجربه کړي

ورځ نه وه سم قيامت ؤ

خپلې پاتې زنده ګۍ ته خفۀ وم فکر مې کاؤ چې که متخصصه نه وي نو زه به څنګه ژوند وکړاى شم

متخصصې لکه ساه داسې مثال خپل کړ

يو طرف د نرسې جلا وطني او بل طرف د متخصصې تګ کابل ته سخته وه او ده

يو خداى ج خبر ؤ چې زه د کوم حالت ملګرى وم

د متخصصې د مسج پۀ تمه وم خو د هغې مسج تر لسو بجو هم رانغى

نور مې نو د انتظار حوصله حتمه شوه لاړم د متخصصې په سټورۍ مې وليکل

سلام اغلې خداى ج دې وکړي چې پخېر رسيدلې وې

مسج ورته لاړو زه لکه څلى د مسج په تمه کېناستم

څو شيې وروسته کړنګ شو مسج راغى موبايل مې دومره پۀ بيړه راخيستى لکه ليونى

ليکلي يې وو وعليکم سلام ووبښۀ چې د رسيدو اخوال مې درنکړ ډېر وخت وروسته مې کورنۍ سره وليدل نو هر څۀ رانه هېر شول شکر زه روغه راورسيدم

د متخصصې د مسج پۀ ليدو ووغوړيدم د سترکو پۀ رپ کې مې ستومانۍ وشړلې

د ارام او سکون ساه مې واخيسته

ما ويل ډېر شکر کورنۍ دې څنګه؟

ويل يې الحمدالله ټول ښۀ دي خصوصاً مور مې ډېره راته خوشاله ده

ما وې تل همداسې خوشاله اوسې ووبښه مصروفه خو بۀ نه وې

ويل يې نه نه يو څه وخت لرم

ما ويل سخته سټوري دې لګولې وه د چا ديدن ته دومره خوشاله وې؟

اوږده خندا يې راوليږله ويل يې ته څۀ فکر کوې د چا ديدن ته به خوشاله وم؟

ما ويل چې هر څوک وي خو ښۀ بختور انسان دى چې ته يې ليدو ته هومره خوشالېږې

ويل يې هو د بختورتوب خو پرې ختمه ده

دا نو په زخمونو مالګې دوړول ؤ

نه پوهېږم څه ورته ولیکم

مسج یې راغی چې غلی شوې؟

ما ویل غلی نهٔ یم ستا د بختور انسان فکر یوړم

ویل یې ته یې ولې فکر یوړې؟

ما ویل هسې ډېر بختور بختور کسان شته پهٔ دې دُنیا بس یو زموږ ټنډې تور سپې څټلي

و یې لیکل دغه بختور کس درته وښایم؟

ما ویل که ممکنه وي هیله کوم

ویل یې ژوند د ډېرو اړیکو مجموعه ده انسان ډېر خپلوان او دوستان لري د دې ترڅنګ مهمه برخه یې کورنۍ ده

او پوهېږې د کورنۍ تر ټولو مهم دیوال کوم دی مورجانه مور یوازینۍ ریښتونې مینه ده او زه د مورکۍ دیدن ته خوشاله وم لنډۍ مې هم د مورکۍ لپاره ستوري کړې وه

ما ویل هو رښتیا هم چې د نړۍ تر ټولو ریښتونې مینه او ګرانښت د مورکۍ دی

ویل یې ستا لکه چې اندیښنه وه چې کوم ملګری به لري د هغې پهٔ لیدو به خوشالیږي؟

ما ویل ژوند ستا خپل دی زه هیڅ حق نهٔ لرم مګر لږ نیت کمی درباندې لرم ته باید د نړۍ تر ټولو ښکلي ښهٔ او په ټولو معیارونو برابر کس سره ملګرې وې ان بې ادبي معاف د امکان په صورت کې زما پهٔ ځان هم نه لورېږې

و یې خندل او مننه یې وکړه ویل یې زه دومره نهٔ یم ستاسو نظر ښکلی دی او تاسو مهربان یاست

متخصصه ډېره باحیا وه د ښکلیو خصلتونو برخمنه وه نرم مزاجه او د نزاکتونو ډکه وه

مګر همداسې جدي هم وه په روغتون کې یې بدون د ضروت هیڅ کس سره خبرې نه کولې او نه یې پهٔ چا غرض درلود که بل چا هم بغېر د ضرورته یا رسمي کارونو پرته غرض پرې لرلی وای خوله به یې ورماته وای

عموم کې نجونې باید یو څهٔ انساني طبیعي او د حسن غرور ولري ډېر نرموالی هم خوند نه ورسره کوي

متخصصه د دې ټولو ښکلیو ځانګړنو برخمنه وه

دلته بیا یادونه کوم چې زما سره روانه اړیکه یې بغېر د الهي نصرت نور څهٔ نه وو

متخصصې ته مې ولیکل باور وکړئ چې ستاسو پهٔ کچه نجلۍ پهٔ ټول افغانستان کې نهٔ وینم دا ستا لپاره هم نهٔ وایم بلکې یو واقعیت دی

متخصصې بیا مننه وکړه ویل یې هیله کوم تاسو خپله قدرمن یاست

ما ویل مننه دا راته ووایه چې کوژده کله ده؟

ویل یې سبا ورځ کوژده ده ډېرې  همزولې او خپلوان مو راغلي دي

ما ویل ستاسو کوژده به هم د واده کمهٔ نه وي؟

ویل یې هو زموږ د کوژدې ورځ د واده د ورځې هم خوندوره وي او بیا موږ د ورور پهٔ رکم د خور په کوژده هم همغه رکم خوشالیانې کوو

ما ويل ستاسو دا رواج ډېر پهٔ زړه پورې دی خوند هم داسې کوي موږ يوازې د کوژدې غږ واورو

ويل يې هو ستاسو د کوژدې او واده پهٔ برخه کې ډېرې ستونزې شته ان هلک او نجلۍ د واده وروسته سره ووګوري

ما ويل زموږ ولايت کې کله کوم واده ته تللې يې؟

ويل يې هو څو ځلې د همکارانو وادونو ته تللې يم ډېر عجيب وادونو مو دي

ما ويل ووبښه ستاسو سره به ميلمانه وي هسې نه چې مزاهم شم؟

ويل يې مشکل نشته تر اوسه هغوی سره وم لږه محکې ترې راپورته شوم

ما ويل سمه ده زه ډارېدم چې مزاهم نه شم

ويل يې رښتيا اوس ناوخت مې ستا د وټساف سټوري وليده د چا بغېر دې ژوند نه تيرېږي؟

و مې خندل ما ويل بيا دې ور فکر شوی دی هسې سندره مې خوښه شوه دا بيت مې سټوري کړ

و يې ليکل شوګير صيب ستا بعضې چارې کټ مټ د عاشقانو دي بيا هغهٔ عاشقان چې غلبېل غلبېل وي

د غلبيل لعات ته مې رښتيا ورته وخندل مسلسل مې د خندا سټيکران ورولېږل

غلبيل غلبېل مې څو ځلې ورته وليکل

هغې هم خندل چې ښهٔ وايم نو که دې يوازې ښه ژوند تېريدلی بې د هغې به دې نه ليکلی

ما ويل خو دې څوک ستا خولې ته نه برابرېږي ليونی به يې کړې

ويل يې نن روغتون ته تللی وې؟

ما ويل نه نن د پوهنتون کور ته راغلم

ويل يې ولې؟

ما وې نن مې ذهن يو څهٔ ښهٔ نه ؤ نو مخه مې و نه ليده

د خندا سټيکر يې مسج ته ورکړ او و يې ليکل نو زه پهٔ تا ګرمه يم بغېر د يو چا دې وخت هم نه تيرېږي او ذهن دې هم ښهٔ نه وي کيو؟ (کيو) د اردو ژبې لعات دی د (ولې) مانا لري

متخصصې تقريباً پهٔ څلورو ژبو داسې خبرې کولې لکه خپلې مورنۍ ژبې چې يې وي

پښتو دري اردو او انګليسي د دې ترڅنګ په عربي ژبه هم يو څهٔ بلده وه

متخصصه د کمالاتو غر ؤ د ښايست دُنيا وه د استعداد نړۍ وه د نزاکتونو جهان ؤ د حيا هندارې وه د غرور سپيڅلی سنګر ؤ د ځيکرتيا سپوږمۍ وه

هغه حمزه بابا بيت چې

حمزه د خوږ اشنا به درته څهٔ صفت بيان کړم

ګوره چې د هرې ډډې وڅتې خوږه وي

د متخصصې کيسه همداسې وه د دې لپاره نهٔ چې زما خوښه وه بلکې واقعيت او حقيقت کې همداسې وه

پۀ اردو ژبه مې ورته ولیکل چې انسان نیمګړی دی د ژوند بعضې برخې داسې وي چې بغېر د ځان يې نور خلک نه شي درک کولای

ويل يې دقيقاً مګر ته خو نارې ورته وهې کاش هغه يې درک کړي

ما ويل څوک يادوې؟

ويل يې ستا د ستوريو او بيتونو مخاطبه

ما ويل واى واى تاته زه اوس څۀ ووايم دليل او منطق مې هم بل طرف اړوي

خندل يې ويل يې ستا دليل او منطق هم نارې وهي چې مور د شوګيرونو ملګري يو او د دردمند وجود حيصه يو

ما ويل ستا د وسې نه يم هر څۀ چې وايې وايه

و يې ليکل نو متخصصه خو بايد يو څۀ حق ولري

ما وې ستونزه دلته ده چې حق لرې

ويل يې رښتيا ست مې هم درته ونکړ زما د خور د کوژدې مراسمو ته نه راځې؟

ما ويل اوس راته وايې چې زړه دې واى پرون به دې د ځان سره بيولى واى

ويل يې ولې ته کوچنى يې چې يوازې نشې راتللى؟

ما ويل هدف مې دا نه دى چې يوازې نۀ شم تللى زما مطلب دا دى چې بيګا به دې راته ويلي واى

و يې خندل ويل يې پوهېږم ټوکې مې درسره وکړې

ما ويل زه هم ټوکې کوم

و يې ليکل بل ځل چې زما کوژده شي راځې؟

د متخصصې دغه خبرې هيڅ خوند ونکړ چون ټوکه وه خو بيا يې هم مزه نۀ وه

ما ويل ضرور درځم سره د يو بم

ويل يې د بم سره ولې؟

ما وې د ډېرې خوشالۍ څخه

و يې خندل ويل يې ته لکه چې اوس د هغه تالب ريکارډ ماتوې چې ويل يې د زوى په واده کې د ډېرې خوشالۍ ځانمرګي بريدونه کوم

دې خبرې ته يې ما هم وخندل

مسج يې وکړ چې په ليکلو مې ګوتې ستړې شوې که وخت لرې زنګ ووهه

الله دغه خبرې يې نړيوال خوند وکړ

ما ويل په موبايل زنګ که پۀ وټساف

ويل يې وټساف ښۀ دى

ما ويل سمۀ ده متخصصې ته مې اډيوکال وکړ

زنګ یې پورته کړ ویل یې سلام څهٔ حال دی؟

## اتلسمه برخه

ما ویل وعلیکم سلام خوشاله یم چې غږ دې اورم

ویل یې مننهٔ نن سترې شوم د لارې مزل او بیا دلته د میلمنو خدمت څکه مې وویل چې زنګ ووهه

ما وې ښهٔ دې وکړل ربښتیا هم چې لاره سترې کوونکې ده

د متخصصې غږ هم داسې ؤ چې روح ته یې سکون وربښلو نرم پوست خوږ ان که غږ انځوریدلی شوای د متخصصې غږ به د شاتو مثال درلود

ویل یې څهٔ حالات دي؟

ما ویل تر اوسه خو خیر او خیرت دی ستاسو طرف څهٔ حالونه دي؟

ویل یې دلته هم هر څهٔ ښهٔ دي

ما ویل شکر دا راته ووایه چې کابل کې چېرته ژوند کوی؟

و یې خندل چې ستا خو به کوژدې رالیږلو ته نیت نه وي چې د ځای پوښتنه کوې

ما وې موږ دومره نصیب او جرات کله لرو خو تا ولې داسې خبره وکړه؟

زیاته یې کړه هلته ډېرو خلکو زموږ د کور ادرس غوښتلو چې کورنۍ ته مې پهٔ جرګه راشي خو زه د کور ادرس چاته نه ورکوم

ما ویل ډېر ښهٔ کوې چاته ادرس ورنکړې

ویل یې خو تاته یې ښایم موږ د کابل د ارزان قیمت په سمه کې یو دومره نمبر سړک او دغه نمبر کوڅه د پلاني کورس مخامخ زموږ کور دی

مننه مې وکړه چې دومره باور مو رباندې وکړ

ویل یې هیله کوم پر تا زیات باور لرم دا راته ووایه چې ستا کوژده به کله وي؟

ما وې زما کوژده یې درکه ده زه عاجز به دومره ژر د کوژدې غږ وا نه ورم

و یې خندل ولې لکه چې هغه ظالمه چې ته یې ستوریو کې یادوې ستا غږ نه اوري

ما ویل د ستوریو کیسه هسې د ذوق خروبول دي ماته بعضې لنډۍ او بیتونه ډېر خوند راکوي

ویل یې توکې درسره کوم خفه نهٔ شې

ما ویل ستونزه نشته پوهېږم

یو څه غلې وه وو یې ویل یوه شخصي پوښتنه وکړم؟

ما ویل هو بالکل یې وکړه

ویل یې ستاسو د کورنۍ عمومي ژوند څنګه دی څۀ ډول ژوند کوی؟ ورونه خویندې خو دې راته ښودلې وې

ما ویل نه پوهېږم څۀ ډول یې درته تشرېح کړم خو مورږ نورمال ژوند کوو ښار کې کور لرو یو ورور مې د یوې خارجي مواسیسې د روغتون سره دی او بل ورور مې درسونه وایي خویندې مې هم ښوونځي ته ځي

ویل یې ډېر ښۀ ښار کې کور مو خپل دی که کرایه؟

ما ویل ښار کې کور مو خپل دی او یو بل کور د پولیسو نومرو کې لرو چې په کرایه مو ورکړی

ویل یې ماشاءالله بیا خو ښه یاست خو اصلي د همدې ځای یاست؟

ما ویل اصلي د ښاره لرې د یوې غرنۍ سیمې یو خو کالونو وړاندې ښار ته راکډه شوي یو تر اوسه دلته ژوند کوو

ویل یې ښۀ ښۀ مور او پلار دې څه عمرونه لري؟

ما ویل پلار مې سپین ږیری دی او مور مې یو څۀ ښۀ ده بیخي ښۀ صحت لري

ویل یې بیخي خوشاله شوم ماشاءالله ډېر ښۀ

مننه مې وکړه او وو مې ویل کولای شم لتاسو هم یوه شخصي پوښتنه وکړم؟

ویل یې هو؟

ما ویل ستا ورونه څۀ کوي؟

ویل یې دوه ورونه مې اوروپا کې دي یو پۀ پاکستان کې ژوند کوي او یو دلته دی پلار مې څو کاله وړاندې د حق داغي ته لبیک ویلی

غمشریکي مې ووښوده چې د پلار په مرګ مو خفه شوم خو دا حقه لار ده ټول به مرو

ویل یې رب مو د خپلو غمونو وساته

امین مې کړل او زیاته مې کړه په ورونو او کورنۍ مو خوشاله شوم

بیا یې مننه وکړه ویل یې دغه کوژده یې چې روانه ده دا خور مې زما مشره ده او زده کړې یې په همدې برخه کې تر تخصصه کړي زما سره پۀ یو ځای وه

ما ویل ستاسو جوړه هم بې جوړې ده په افغانستان کې دوه خویندې او بیا دواړه متخصصې هسې نه د نظره مو کړم

خندل یې ویل یې دومره صفتونه مو مۀ کوه دا دی مشرې متخصصې کوژده وکړه او زه یې پرېښودم

ما ویل نو ته هم د هغې د ضده کوژده وکړه

کټ کټ یې وخندل ویل یې ته هم داسې خبرې کوې اوس نو کوم لیونۍ راونیسم چې راځه سبا کوژده کوو

ما ویل ستا خور خو اوښیاره ده دا دی کوژده یې وکړه د ژوند شریک یې پیدا کړ یو ته یې چې د کوژدې لرې لرې تښتې

زیاته یې کړه خبر هغه راځخه مشره وه ان شاءالله هر څۀ به سم شي

ما ویل هو ان شاءالله بېرته کله راځې دلته؟

ویل یې نن خو مې اوله شپه ده دوه یا درې ورځې به دلته وم او بیا درځم

ما ویل ژر راشه روغتون درته ضرورت لري

ویل یې ان شاءالله خبر به یې غواړو ناوخت دی زه هم یو څۀ ارام کوم او ته هم ویده شه

دې خبرې نو بیا هیڅ خوند ونکړ مجبوري وه روخصت مې ورسره واخېست او زنګ مې قطعه کړ

د متخصصې پرته د نړۍ هیڅ خوند نه ؤ

نه د کتاب لوستلو حوصله وه او نه د کوم بل څه چې پام مې پرې بدل وای

لاړم د وسټاف سټورۍ ته مې لاندې بیت پورته کړ

بې لتانه خو جهان خالي خالي دی

ژوند مې څۀ دی خو یو خوب د لیوني دی

همداسې په فکرونو او سوچونو کې زانګم د متخصصې په هره خبره ځو ځلې فکر کوم

بعضې پوښتنې یې زما لپاره جالبې وې

نه پوهېږم تر څو بجو به ویښ پاتې وم او کله به ویده شوی وم سهار د مور په غږ پسې راویښ شوم چې پورته شه ناوخت دی

زه هم پورته شوم ځان مې برابر کړ د موبایل ډاټا مې خلاصه کړه متخصصې مسج کړی ؤ

په مسج کې یې بیا د پیشو په رکم غږ لیکلی ؤ

(میوو) سهار مو نیمکرغه

دغه د میوو کارولو خوند یې هم هومره خوږ ؤ چې د یوې ښې ورځې د تېرولو هیلې مې پیدا شوې

لاړم پوهنتون ته تر دوولسو بجو هلته وم د هغې وروسته روغتون ته لاړم

د روغتون دروازه هم خفه غوندې ښکاریده لکه د متخصصې په تګ چې خفه وي

روغتون ته د ننه شوم اطاق کې مې لباس بدل کړ بېرته عملیات خونې ته راووتم

غملیات خونه هم بې رنګه وه لکه د روژې اوله ورځ دومره خاموشي وه لکه بیابان

د غملیات خونې بهر راووتم د ښځینه واټ مخې ته مې وکتل لکه دیوالونه چې د متخصصې د نشتون ویر کوي یا لکه هر خوا چې د متخصصې د تګ نارې وهي

کټ مټ لکه د تر ټولو خفۀ فلم منځینۍ صحنه

# نولسمه برخه

د متخصصې د تګ صرف یوه ورځ او بله شپه وتلې وه خو نشتون یې دومره سخت ؤ لکه د یوې مور چې زوی په قاچاقي لارو کالونه ورک وي

د روغتون عاجلې خونې ته لاړم هلته هم بد وضعیت ؤ فکر کوم د دوو موټرو تر منځ ټکر شوی ؤ پنځه شپږ کسان په وینو لت پت پراته وو

بېرته اطاق ته راغلم داسې هم نۀ کیده چې بدون د کار او یا کومې پلمې متخصصه پسې مسج وکړم

هیڅ وخت نۀ تیریدو تر هغې مې یو څۀ شور پۀ غوږ شو چې ور ووتم د هغه ترافیکي پېښې دوه سخت ژوبل کسان یې د عاجلې خونې راپورته کړي وو

دواړو کسانو عملیاتو ته ضرورت درلود ژر ژر مې اولني ترتیبات ونیول او نور په عملیاتو اخته شوو

تقریباً تر مازدیګره په همدې اخته وو

بېرته اطاق ته راغلم د موبایل وای فای مې خلاص کړ د نرسې مسج راغلی ؤ

سلام څنګه یې متخصصه دې څنګه ده ښۀ خو بۀ ارام شوی وې ځکه چې زه مو د منځ ووتم

وعلیکم سلام مې وکړ او و مې لیکل شکر دی ښۀ یم متخصصه هم ښۀ ده باور وکړه درپسې خفه وم

ویل یې ته او خفګان؟

ما ویل ولې زه زړه نلرم؟

ویل یې زړه لرې خو هغه صرف د متخصصې دی

ما ویل ولې داسې خبرې کوې متخصصه خو ستا ازلي دُوښمنه نه ده

ویل یې تا زما درد نه شو درک کولای که کوم وخت دې متخصصه د بل چا سره ولیده درمعلوم به شي

د نرسې خبره هم رښتیا وه زه هغوی ته هم غوسه وم چې د متخصصې کورنۍ ته یې د متخصصې د کوژدې لپاره د ورلیږلو نیت درلود

ما ویل څۀ یې کوې ته لاړې اوس دې پۀ خوشالیو سر شو

ویل یې کاش دلته ارام او سکون وای هره لحظه مې په ذهن کې وطن روغتون او ته وې

ما وې د وخت پۀ تیریدو ښۀ کېږي

ویل یې مشکله ده هیڅ نه پوهېږم چې څۀ به کیږي

و مې لیکل زده کړې به څنګه کوې؟

ویل یې کوشش کوم چې پۀ خپله برخه کې مخکې لاړه شم خو یو څه ستونزمنه ده

ما ویل هیڅ ستونزمنه نه ده کوشش وکړه

مننه يې وکړه او روخصت يې واخېست

زه د متخصصې فروفايل ته ورغلم خو متخصصه افلاېن وه سټوري مې وکتله ساعت مخکې يې سټوري پورته کړي وه د خور د کوژدې د مراسمو عکس يې سټوري کړی ؤ خو په مخونو يې سټيکرونه ايښودلي وو

اوس نو پلمه پيدا شوه مسج مې ورته وکړ چې د خور کوژده دې ډېره ډېره درته مبارک وي پۀ دې هيله چې ښه ژوند او راتلونکی به ولري

چون متخصصه افلاېن وه ما هم موبايل کېښود

څو دقيقې وروسته دوه نور ملګري رانښوتل تقريباً تر ماښامه د هغوی سره پۀ خبرو اخته وم خو فکر مې د متخصصې سره ؤ ډوډۍ مو هم شريکه ووخوړه

مسنجر ته مسج راغی چې و مې کتل يو خپلوان مو ؤ ليکلي يې وو چې شماره دې بند ده ځکه مې دلته مسج وکړ ښځينه واټ کې يو ناروغ لرو هغه کومې ښځينه ډاکټرې ته معرفي کړه چې پام پرې وکړي

ما ويل سمه ده متخصصه خو کابل کې وه نرسه هم په غرونو واوښته فکر کې وم چې اوس چاته ووايم

خبر د ځمکني لاين موبايل مې واټ ته زنګ وکړ نه پوهېږم کومه نرسه يا ډاکټره به وي ما ويل خيبر يم د پلانۍ په نوم يو خپلوان ناروغ ستاسو پۀ واټ کې دی هيله ده چې پاملرنه ورته وکړئ

هغې ډاډ راکړ او موبايل مې قطعه کړ

اوس نو د شپې نهو او لسو بجو ته په انتظار يم چې متخصصه به مسج وکړي

هر ساعت راته شل شل ورځې وګرځېدو هيڅ وخت نۀ تيرېري کله يوې خواته او کله بلې خواته

اخِر نهه بجې شوې بار بار موبايل ګورم چې اوس به د متخصصې مسج راځي

خبره تر لسو بجو لاړه خو د متخصصې مسج نشته

د موبايل ګيلرۍ ته لاړم تر څو د پام بدلولو لپاره کوم فلم څۀ ووګورم په ګيلرۍ کې د سلمان خان او کرينه کپور باډيګارډ فلم موجود ؤ هغه مې چالان کړ

فلم روان دی او زه ورته ناست يم خو چې څنګه د نيمايي ور وا ووښت غمجنې صحنې پيل شوې د چايا او لولي مينې زور واخېست

ممکن تاسو به هم باډيګارډ فلم ليدلی وي بيخي خوندور فلم دی ډېرې بهترينې صحنې پکې شتون لري

زه د خپلو غمونو په غونډۍ هم ناست وم او بيا د فلم داسې دردمنه کيسه هم روان وه لنډه يې دا چې د هرې جملې په تيريدو يې ژړولم

پۀ تېره يې بيا هغه سندره (تېرې مېرې پريم کهانې) دا نو بيخې لکه سکروټې داسې لګيدله

پۀ اخِره کې د لولي او چايا جدايي راته بيخي د زغملو نه وه چيغو او نارو ته مې زړه وشو

فلم ختم شو او زه مې پر بالښت ور ړنګ شوم نه پوهيږم څومره وخت به وتلی وي چې د مسج کړنګ شو

پۀ بيړه مې موبايل راواخېست متخصصې مسج کړی ؤ

ځان مې راټول کړ زړه مې بيدار شو

پۀ مسج کې يې د خور د کوژدې د مبارکۍ ورکولو لپاره مننه کړي وه ليکلي يې وو چې ووبښۀ ناوخت ځواب درکوم ورځ که څومره ښکلي وه هومره ستړې کوونکي هم وه

ما ویل هیڅ خبره نهٔ ده زه پوهېږم تاسو به میلمانه درلودل هیله ده چې ورځ پخېر تېره شوي وي

ویل یې خبر دې په نصیب شه بیخي خوشاله ورځ وه ډېر میلمانه مو روخصت کړل او بعضې نږدې خپلوان پاتې دي چې بعضې یې زما همزولې ملګرې دي

ما وې ډېره ښهٔ ده شکر شکر

ویل یې تهٔ څنګه یې؟

ما ویل زما پوښتنه مهٔ کوه زه ښهٔ نهٔ یم

و یې خندل چې ولې څهٔ شوي؟

ما وې خدایي مې زړه خفه دی بیخي کنګس غوندې یم

ویل یې زه چې درته وایم تهٔ یې نهٔ منې ګوره ستا یو څوک ضرور شته

ما ویل که رښتیا ووایم مخکې نه وو خو اوس شته

ویل یې ما تعقیب کړی یې پوهیدم چې پهٔ زړه کوم څهٔ ضروري لرې بعضې وخت ناځاپې وارخطایي ذهني کشمکش بې خوبي او شوګیرې رښتیا څوک ده د کوم ځای ده؟

ما ویل یوه ده خو ځای او نوم څهٔ یې نهٔ درته ښایم

ویل یې توبه زه درسره غمشریکې کوم چې ماته یې نهٔ ښایې بیا یې چاته ښایې

ما ویل خبر پرېږده یې

و یې لیکل نه اوس به راته وایې ایا د زړه خبره دې ورسره شریکه کړې ده؟

## شلمه برخه

ما وې کاش د خبرې شریکې کولو جرات مې کولای شوای

ویل یې دا نو څهٔ خبره وې ورته ووایه

ما وې ستونزه بله ده

ویل یې څه؟

ما وې زما د ژوند څخه یې ژوند بیخي لوړ دی ډېر څهٔ یې پهٔ ډېره لوړه کچه دي ان د هغې سره د راتلونکي جوړولو فکر هم نهٔ شم کولای

زیاته یې کړه ګوره انسانان ټول یو انسانان دي امکانات پیسې او نور شیان ځي او راځي هیڅ وخت ځان کم مهٔ بوله او بیا مینه شتمني لوړوالی ټیټوالی نهٔ پېژني

ما ویل ستا پهٔ نظر که د مینې اظهار ورته وکړم بد به یې و نه ګڼي

ویل یې څهٔ وژنې خو یې نهٔ خبره ورسره شریکه کړه کهٔ یې زړه ؤ هو بهٔ درته ووایي ګني رد به یې کړي

ما ویل دا خو ده مګر زه ډارېږم چې غوسه بهٔ وکړي

ویل یې د غوسې کولو هیڅ حق نهٔ لري ته هم لږ تکړه شه په داسې کوچني زړه مینې کول ګرانه خبره ده دا هم راته ووایه چې کوم بخش کې کار کوې؟

ما ویل همدا ستاسو همسلکه ده طب کې ده

ویل یې ښا ډاکټره ده

ما ویل هو

ویل یې زه هیڅ وخت د چا پهٔ شخصي کارونو او ژوند کې د داخیلیدو هڅهٔ نه کوم او نه مې بل خوابښېږي چې زما پهٔ کار کې مداخله وکړي مګر ستا په دې موضوع کې د ګډون هڅه کوم که زه هغه ته ستا د زړه خبره ورسوم بیا؟

ما ویل ممکن تر یوه حده سر سره ونیسي خو خبر یو ځل زه هڅه کوم چې څهٔ کیږي

ویل یې سمهٔ ده ته کوشش وکړه پهٔ ځان سخته مهٔ تېروه د زړه خبره هر چاته کوه

ما ویل کاش هومره اسانه وای ممکن ته یې درک نکړې

ویل یې یوه پوښتنه درڅخه کوم که یو څوک د چا خوښ شي کوم ډول احساس فکر او خیال ورسره ملګری کیږي؟

ما وې دا هغه حالت دی چې د انسان په وجود او روح کې یو بل روح او وجود هم اضافه شي ممکن د ځان لپاره هومره ښهٔ فکر ونکړې لکه د هغه لپاره بس هر ساعت هره ورځ هره شپه او هره شیبه به دې د هغې تصویر پهٔ ذهن کې انګازې کوي هر طرف به د هغې انځور او یاد وي داسې به انګېرې چې ګواکې د هغې پرته ژوند نیمګړی دی او بیا داسې حالت بیخي سخت وي چې متاقبل طرف ځان نه پوهوي

ویل یې مطلب ستا چې څوک خوښه ده هغه پوهیږي خو ځان نهٔ پوهوي؟

ما ویل شاید یو څهٔ همداسې وي مګر سل فیصده باوري نهٔ یم

ویل یې زموږ ټولنه تر ډېره د نارینوو تر ولکې لاندې ده مطلب نارینه زیات اختیارونه لري دا همدې وجې باید د هر کار پیل د نارینه د خولې وشي ترڅنګ یې نجونې معصومې دي شاید مخکې د نارینه د ویلو د خوښې کس ته اظهار کول و نشي کړلی

ما وې اوس یو څهٔ بدلون راغلی نجونې هر څهٔ کولای شي

ویل یې بدلون منم خو یو څهٔ نور وخت ته هم اړتیا شته د بدلون ترڅنګ بعضې نیمګړتیاوې اوس پاتې دي

ما ویل پهٔ ښښې یوه پوښته لتاسو وکړم؟

ویل یې مهرباني

ما ویل کهٔ د کوم کس ته خوښهٔ شې او د مینې اظهار درته وکړي څهٔ به کوې

و یې خندل اوس زما مینان ولې پیدا کوې

ما هم خندا ور ولېرله چې مینان خو دې هسې هم په درجنو درجنو دي که کوم یو درته د مینې اظهار وکړي بیا؟

ویل یې هیڅ خبره نهٔ ده اختیار زما دی که مې زړه ؤ هو ورته وایم که مې زړه نه ؤ نا ورته وایم

ما ویل خفګان او بد به ترې نه راوړې؟

ویل یې بالکل نه

ما ویل که د ژوند کچه یې درڅخه ټیټه وي بیا؟

ویل یې د دې مې مخکې درته وویل ژوند په ورځ کې هم بدلیدونکی دی یو څوک به خان وي ساعت بعد ملنګ شي او یو څوک به ملنګ وي ورځ بعد خان شي دا د نړۍ هغهٔ حقیقتونه دي چې څوک یې مني او څوک نه مګر د انسان د ظاهري څهرې نیولې تر باطنه پېژندل ضروري دي که یو څوک د لارې مل جوړوو باید تر یو حده فکرونه نزاکتونه او ځانګړتیاوې یو ډول وي

ما وې واه څهٔ یو ښکلی فکر لرې کاش ټول وطن همداسې وای یو چک چک مې درته وکړ

ویل یې مننهٔ څنګه تر دې ناوخته ویښ پاتې یې؟

ما ویل زه خو شوګیرې کوم نن مې درته صفا خبره وکړه خو ته ووایه ته ولې دومره ناوخته پورې ویښه یې؟

ویل یې زه د همزولو سره وم لږه مخکې د دوی راپورته شوم تا سره مې هم مسج نه ؤ کړی

ما ویل بیا خو ښهٔ ده دعا به درته کوم چې د شوګیرو دې رب لرې لره

خندل یې ویل یې شوګیرې زما څهٔ غواړي

ما ویل ستړې به وې تکلیف خو دې نهٔ کړم؟

ویل یې ستړې خو پهٔ رښتیا یم خو خېر څو مسجونه به وکړو بیا به ویده شو

ما وې خوښهٔ مې ده

و یې لیکل ولا تاته خفه شوم دا خو ډېرې سختې درباندې تیرېږي ما ویل ولې زموږ ډاکټر غمجن غمجن بیتونه او لنډۍ پورته کوي

ما ویل ببښنه هم غواړم چې داسې خبرې مې درسره وکړې

ویل یې خدای ج دې ووبښه زه او ته اوس نږدې دوستان یو باید چې بعضې خبرې ستونزې مشکلات او کړنې د یو بل سره شریکې کړو

مننه مې وکړه او د دعا پنځه سټیکرونه مې ورولیږل

ویل یې روغتون کې یې؟

ما ویل هو روغتون کې یم که لتا یوه پوښتنه وکړم هغه هم د شخصي ژوند څنګه به وي؟

ویل یې اجازه ده

ما پوښتنه یو څهٔ ورته اوږده کړه چې ژوند دی هر انسان زړه لري د ژوند د نورو برخو ترڅنګ د خوښې کسان هم لري ان د ژوند لپاره باید هر انسان یو څوک ولري او بیا ستا د دندو او طبي برخې وتلي کوم د خوښې کس لرې؟

ویل یې د ځان به ملایکه نهٔ درته جوړوم چې زه خو دومره روغه نجلۍ یم مګر تر اوسه مې داسې کس نهٔ درلود چې زما خوښ وي

ما ویل تر اوسه څه مانا مطلب اوس یې لرې؟

زیاته یې کړه ژوند داسې روان دی لکه اوبه زه هم باید نور د ژوند د شریک په لټون شم د تخصص وروسته مې نیت ؤ خو دندو او د کوره لرې والي بیا هم دغه فکر ته پرې نه ښودم اوس به لږ لږ لټون کوم

ما ویل نظر کې څوک لرې؟

ويل يې خاص څوک نۀ لرم خو يو کس مې تر تعقيب لاندې دی يو ډول ښۀ فکر او احساس ورته لرم معلوم به شي چې څۀ کيږي

ما ويل رب دې ټولو هيلو او اميدونو ته ورسوۀ

ويل يې آمين سره د ستاسو که دې خوښه وي نور به ويده شو ناوخت دی

ما ويل خوښه مې ده ورځه ويده شه ښکلي او خوږه شپه ولرې

ويل يې ښه شپه

متخصصه لاړه او زه يې بيا د يادونو باغ ته ورولويدم

که رښتيا ووايم ګرم خو زه هم وم وخت يې راکولو مسج او زنګ يې راسره کولو په دنده کې راسره وه او بيا د تګ يې هم يوه شپه وټلي وه مګر زه بيا هم بد وضعيت کې وم

## يويشتمه برخه

سهار د مرغيو په ښکليو ترانو پسې راويښ شوم داسې لکه ټولې چې د خدای ج د قدرتونو ثناکانې وايي

نن مې يو څۀ فکر ښۀ ؤ ممکن دوه سبيونه به وي يو دا چې د متخصصې د راتګ هيلې وې او بل د متخصصې بيګانۍ ښکلې خبرې وې چې ما ورسره وکړې

د سهارنۍ ناشتې وروسته پوهنتون ته لاړم او د هغه ځايه بېرته روغتون ته راستون شوم

ټول فکر مې د متخصصې بيګانيو خبرو ته ؤ اوس ډاډه شوم چې که متخصصې ته د زړه خبره وکړم بده بۀ يې و نه ګڼي ځکه چې د بيګانيو خبرو يې همداسې معلوميده

رښتيا نن سهار يې بيا هم راته هغه د ميوو مسج او سهار پخير ويلي وو

دلته دوهمه خبره بيا د هغه کس شوه چې متخصصې ويل يو کس مې تر تعقيب لاندې دی

چې زما حالت به مې ولېد مشکله وه چې ما تعقيب کړي او بيا به مې چې د متخصصې ارزښت راکول وليدل نو ممکنه وه چې زما پۀ اړه فکر وکړي

خبر مازديګر شو نن پۀ کور وم نوکري مې بيګا تېره شوي وه اوس نو زما سره يوازې د متخصصې فکرونو وو

پر دُنيا او د دُنيا پۀ خلکو مې هيڅ پروا نه وه که رښتيا ووايم هومره پام مې تر اوسه ځان ته هم نه دی کړی

دقيقاً چې مينه قدرتي او طبيعي وي روغتون ته د متخصصې راتګ زما مينه او بيا پۀ دومره خلکو کې زما سره تر دې کچې اشنا کيدل

د شفق زريني وړانګې ورو په ورو ټوليدلې د ماښام تياره ګانو د غوړيدو وزرونه رپول شيبه وروسته د شپې څادر خور شو کاينات د سکون لمن ته ور ولويدل

زه همغسې د ځلي په رکم د متخصصې د مسج پۀ تمه یم کله یو او کله پۀ بل څه پام بدلوم خو زما پام هم لکه ایلفي د متخصصې په تصور پسې سرېخ ؤ

نن مې زړه ؤ چې متخصصې ته د زړه خبره ولیکم چې مینه درسره لرم خو ګوتې مې دغه شان مسج ته نۀ جوړېدې

بار بار کوشش مې وکړ خو نشول مې کولی

د شپې یولس بجې د متخصصې مسج راغی دومره خوند یې وکړ چې اندازه یې نۀ وه

زړه مې هواګانو واخېست د متخصصې مسج مې خلاص کړ او لیکلي یې وو

سلام شپه پخېر ښنګه یې ورځ دې ښۀ وه

ما ویل الحمدالله بیخي ښۀ وه رب دې وکړي چې ستاسو ورځ به هم ښکلي تېره شوي وي

ویل یې مننه بیخي ښۀ وه د کوژدې مراسم ختم شول خپلوان دوستان هم لاړل

ما وې شکر شکر دا راتهووایه چې ته به کله راځې؟

ویل یې لا خو مې دوه شپې ووتې نیت لرم چې یوه اونۍ خو پاتې شم

ما ویل څۀ غواړې مور او کورنۍ دې ولیده د کوژدې مراسم هم تېر شول نور ناروغانو ته راځه

و یې خندل هسې نه چې ناروغانو راپسې لوډسپیکر کې نارې وهلې وي

ما ویل که ژر رانغلې ممکن نارې هم درپسې ووهي ته فکر وکړه لتا پرته څوک لري

ویل یې زما مخکې څوک وو؟

ما ویل هغه سمه ده خو اوس ستا پر عملیاتو او تداوۍ عادت شوي دي

ویل یې زما زړه خو غواړي چې دا ځل پوره میاشت تېره کړم خو معلوم به شي

ما وې که ناروغاتو درپسې لاریون وکړ بیا به څۀ کوې

اوږده خندا یې راولیږله ویل یې ناروغان خبر زه ډارېږم چې نور خلک راپسې لاریون و نه وکړي

ما ویل نور څوک؟

ویل یې شته نور کسان هم چې زما ورتګ ته شیبې شمارې رښتیا ستا خبره ښنګه روانه ده د عاشقۍ؟

ما وې زما د عاشقۍ کیسې خرابې دي که هغې ته نور د زړه خبره و نه کړم سخته ده

وو یې ویل ما خو بیګا هم درته ووې چې اظهار ورته وکړه ممکن مساله دې حل شي

ما ویل ډارېږم چې د داسې مسج لیکلو هڅه هم وکړم ګوتې مې کار نه کوي

ویل یې لنډۍ دا دې اوریدلي ده

ما وې کومه یوه؟

ویل یې ستاسو پۀ لهجه ده زه یې درته لیکم

ایتو چې دا ډورنه وربخ وي

ایمو یوغې یورۍ پریمنځه لوسونه

ما ویل بالکل دا لنډۍ سمه ده خو څۀ وکړم

ویل یې دا ډېره ښکلې لنډۍ ده او بیا ستا د کیسې سره ښۀ سر هم خوري

ما ویل کټ مټ زما کیسه ده خو دعا راته کوه چې زړه وکړای شم او اظهار ورته وکړم

ویل یې زما درپسې دعا ده خو لږ همت ته هم اړتیا ده

ما ویل د همت دې هم کور وران شي داسې همت دی چې د کړلو توان یې نۀ لرم که د غره سوري کول وای راته اسان دي خو دا همت کول مشکل دي

ویل یې بیا نو قرار کېنه شوګیرو ته دې زور ورکړه

ما ویل نو ته هم راته دا کیسې کوې زه به ګیلې چاته کوم

ویل یې نو زما کیسې کله منې

ما ویل منم یې خو لږ وخت راکړه زه کوشش کوم

ویل یې سمۀ ده بس سبا زه هم درځم

ما ویل ربښتیا راځې؟

ویل یې نو دې کې دروغ د څۀ وي مراسم تېر شول سبا درځم دندو ته نن یې د دوهمې دندې راپسې زنګ کړی ؤ

واه نو دغه خبرې یې څومره خوند وکړ سم مې زړه ټوپونه ووهل اتې ته مې زړه وشو خو سرخوړلی اتې مې زده نه ؤ ګنې لږ خو به تاو راتاو وای

ما ویل اوس به ناروغان څومره خوشاله وي چې زموږ ډاکټره را روانه ده

ویل یې توبه نو ناروغان د کومه خبر شول که ما یې یې سي راډیو ته ویلي وو چې زه سبا ځم

په دې خبره یې زه هم وخندولم

و مې ویل بس پخېر راشې زه صرف د ناروغانو غم وړی یم نور دې څۀ کوم

ویل یې ته ښۀ نه یې یوه ورځ دې روغ ناروغان رباندې عملیات کول لږ مخکې دې پۀ ناروغانو مظاهرې راپسې کولې او اوس دې ویل چې ناروغان به خوشاله وي که زما منې معشوقې ته دې ژر د خبره وکړه ګني لیونی یې

ما ویل که لیونی نه وم خو ژر به شم چې دا زه وم او دا مې ډار وي

ویل یې خېر به یې غواړو شوخي مې وکړه خفه نه شې سبا سفر لرم ویده به شو

ما ویل خوښۀ مې ده ویده شه او سبا پخېر راشې

د متخصصې سره مې روخصت واخېست

اوس نو شپه کله تېریږي که یو څۀ د متخصصې په راتګ ارام شوم خو تر سبا انتظار هم سخت ؤ

لاړم د یوټیوب مې د ټکر پۀ غږ لاندې سندره راواخیسته

ګلونه راوړه د ګلزاره

زما اشنا راځي د ښاپيرو د باغ ملياره

## دوويشتمه برخه

زما اشنا راځي د ښاپيرو د باغ ملياره

د همدې سندرې اوله برخه مې د وټساف سټورۍ ته هم ورکړه  تقريباً دقيقه وروسته متخصصې بيا ريپلې وکړه خبر شي بيا دې څوک راځي چې د مليار ګلونه غواړې

ما ويل ته لا ويده نه يې؟

ويل يې نور مې موبايل بندولو خو ستا سټوري مې وليده

ما ويل هسې سندرې خوند راکړ او سټوري مې کړه

ويل يې سمه ده بيا هم ښه شپه

بار بار همدا سندره غږوم او زه يې هم ورسره زمزمه کوم شپه تر شلو کالو هم اوږده شوه

چې ساعت ته ګورم لکه په همغه ځای چې ستن ولاړه وي لاړم د وټساف سټورۍ ته مې لاندې بيت هم ورکړ

ته دې د راتلو زيری راوليږه

زه به درته لار بحمل کړمه

د ټکر سندره د متخصصې تصور او زه

شپه تر نيمايي ورسيده خو خوب قسم کړی چې نۀ درځم شايد د شپې وروستۍ برخه کې به ويده شوی وم

سهار د خور په غږونو بسې راپورته شوم ويل يې ناوخت دی پوهنتون او دندې ته به ځې

ځان مې تيار کړ اول وټساف ته لاړم متخصصې پر بيګاني بيت د خندا سټيکر راليږلی ؤ

دوهم مسج کې يې د پيشو اواز ليکلی و (ميوو)

دريم مسج يې د سهار په خير ؤ

مسج ته مې ځواب ورکړ چې ستاسو هم سهار په خير هيله ده چې ښه ورځ او ښه سفر به ولرې

پوهنتون ته روان شوم خو چندان زړه مې هم نه ؤ ځکه چې نن د متخصصې د راتګ غږ ؤ

زړه مې غوښتل چې سر له سهاره د روغتون پۀ دروازه کې ورته کېنم خو داسې هم مشکله وه

لاړم پوهنتون ته ۹۰ دقيقې درسي ساعت به ؤ خو زما لپاره به يو کال ؤ هيڅ وخت نه تيريدو

خبر د پوهنتون روخصت شوم روغتون ته داسې په بیړه روان شوم لکه څوک چې د روغتون په عاجله خونه کې تپي ناروغ لري

روغتون ته ورسیدم ژر ژر مې لباس بدل کړ او نور د متخصصې د لیدو په انتظار کېناستم

غرمه تېره شوه خو د متخصصې درک نه ؤ ماسپیښین شو خو متخصصه لا هم بې درکه ده

تر مازدیګره لکه لیونی د متخصصې لارې څارم خو رانغله

اخِر کې مې فکر شو چې متخصصه که راغلې هم وي نو مستقیم خو نن روغتون ته نهٔ شي راتللی سبا به راځي

نور مې صبر ونشو مسج مې پسې وکړ سلام پهٔ دې هیله چې روغه به یاست او پخېر به راغلې یاست

د متخصصې ځواب ورک ؤ

تقریباً د ماښام لمانځه وروسته یې مسج راغی لیکلي یې وو

ع سلام مننه ووبښه ځواب ناوخت درکوم زه پخېر راغلم او دوهمه دنده کې یم چون ستړي هم وم خو څنګه یې کوې

ما ویل الحمدالله چې پخېر راغلې

ویل یې خوشاله اوسې ان شاءالله بیګا ته مسج کوو

ما ویل سمه ده

اوس نو د بیګا کوچنی اختر جوړ شو لکه سخته روژه چې نه تیریږي

نهه بجې یې مسج راغی سلامونه

ما ویل ع سلامونه ستړې مه شې

ویل یې ستر شې

ما ویل نور مې څنګه ستره وې؟

ویل یې که ستر وای مینې ته دې اظهار کولای شو

ما ویل فکر کوم اظهار سخت دی د ستر واړه خبره به نه وي

خندل یې ویل یې ټوکې درسره کوم

ما ویل پوهېږم مننه

ویل یې که دې خوښه وي زنګ به ووهو لیکل نشم کولای

ما ویل سمهٔ ده زنګ ووهه

ویل یې خو ته یې ووهه څهٔ پیسې خو نه درځخه وهې زما یوه د تره لور ده چې چاته مسکال هم وکړي د موبایل پیسې ګوري چې وهلې یې نه وي

زنګ مې ورته وکړ سلام اغلې

ویل یې ع سلام د اغلې نوم راته مه اخله

ما ویل نو څۀ نوم درته واخلم؟

ویل يې ماته خپل نوم اخله وړانکه

ما ویل دا خو نشم اخيستلی یا به د ډاکټرې درته وایم او یا د اغلې

ویل د ډاکټرې وایه خو د اغلې نه

ما ویل سمه ده څنګه يې پخېر راغلې سفر دې ښۀ ؤ

ویل يې هو شکر دی روغه یم دا ځل مې یوه ملګرې هم ځان سره راوستې ده

ما ویل څوک ده؟

ویل يې د تره لور مې ده

ما ویل تا سره څنګه راغلي ده د څۀ لپاره

ویل يې دلته يې دنده واخيسته د بې سرخده روغتون سره

ما ویل ډېر ښۀ خو پۀ کومه برخه کې؟

ویل يې دا هم متخصصه ده مور سره يې ګډ تخصص کړی او شاید ملکي روغتون کې هم دنده واخلي

ما وې تاسو کره سم د متخصصو ټرک اوړیدلی دی ماشاءالله و يې خندل ستا ولې نیت کم شو؟

ما ویل نیت به مې ولې کم وي ما ټوکه وکړه هسې نه چې په روغتون کودتاه وکړی

ویل يې کودتاه نوره توره وي که سپینه بس د نارینوو بخش پاتې شو چې هغې ته مې هم ورور راوستلی وای خو متخصص ورور نلرم

ما ویل تا سره يې خواري نشته هر څه کولای شې

ویل يې مننه مننه نورې څۀ کیسې دي عاشق صیب؟

ما ویل خاص څۀ نشته وخت روان دی

ویل يې د وخت ښیګړه دا ده چې ښه وي که بد تیرېږي اودرېږي نه

ما ویل دقیقاً که ودریدلی ډېره به سخته وای

ویل يې هو همداسې ده رښتیا زه سبا روغتون ته درځم اول د تره لور کارونه کوم چې روغتون کې مقرره شي او بیا ستا کار کوم؟

ما ویل ډېر ښه تره لور دې هم ټرېنره مقررېږي؟

ویل يې هو

ما ویل زما کوم کار کوې پوه نشوم؟

خندل يې چې ستا د عاشقۍ غم خورم هغه نجلۍ د زنې څخه درته نیسم چې زما ډاکټر مۀ څوروه

ما ویل ستا ډاکټر؟

ویل يې خوله رانه غلطه شوه زموږ ډاکټر

ما ویل مننه د ملاتړ او غمشریکۍ دې

ویل یې بس چې ښۀ یې خبرې او ټوکې ټکالې مو وکړې نور به سبا روغتون کې سره ګورو د اوس لپاره ښۀ شپه ولرې

موبایل مې قطعه کړ او د سبا پۀ تمه کېناستم سبا شو د پوهنتون هم راغلم لباس مې بدل کړ په تلوسه د متخصصې خبر ته پۀ تمه یم

څو شیبې وروسته خالا راغله سلام یې وکړ ویل یې ډاکټره مو غواړي

خالا لا کیسه ختمه نه وه چې پورته شوم  او روان شوم

ښځینه واټ ته لا رسیدلی نه وم چې متخصصه د دروازې راووته شاته ورپسې یوه نجلۍ هم روانه وه چې ما تر اوسه نه وه لیدلې

زړه مې درزا شروع کړه یو څۀ وارخطا غوندې شوم

متخصصې سلام وکړ ویل یې دا مې هغه د تره لور ده چې بیګا مې درته یاده کړه یو ځل څو د روغتون ریاست ته که وخت لرې ته هم راسره لاړ شه

ما ویل وزګار یم راځی چې ځو

د متخصصې سره روان شوم نن د نورو وختونو هم ښکلې ښکاریده لنډۍ کمېس وړوکی ټیکری د لاسونو څو ګوټې یې په نکریزو سرې کړې وې یو ډول ښکلی ښځینه واسکټ یې اچولی ؤ د ویښتانو څو لیکې یې په مخ راپراتې وې

مطلب لکه د نرۍ ټول ګلابونه چې سره راټول کړې او یو ګلاب ترې جوړ کړې

ما ویل ناروغانو به چکچکې درته کړي وي

غلي یې وخندل چکچکې ولې؟

ما ویل دوه ورځې سفر دې وکړ

ویل یې ته هم شوخ شوې

ما ویل رښتیا تره لور اغلې دې څۀ نومیږي

ویل یې د دې نوم حیا دی نور خو مې درته ښودلې وه

ما ویل هو حیا ته مې وروکتل چې په راتګ مو خوشاله شوم

حیا مننه وکړه ویل یې هیله کوم

حیا هم کټ مټ په هر څه کې د متخصصې په شان وه که ښۀ ورته ځیر نه وای پېژندل یې سخت ؤ او بیا یې چې ماسکونه هم اچولې وای

تر هغې د روغتون ریاست ته ورسیدو متخصصې د رئیس سره بعضې خبرې وکړې نور د هغه ځایه هم راپورته شوو

متخصصې ویل چې یو څه همکاري باید وکړې د حیا اسناد د عامې روغتیا ریاست ته وړل غواړي

ما ویل په سترګو زه به یې ترسره کړم

حیا او متخصصې په شریکه مننه وکړه دوسیه یې راکړه او دوی په ښځینه واټ ور ننوتې زه خپل اطاق ته راغلم

# درویشتمه برخه

ماسپیښین د لمانځه وروسته مې د عامې روغتیا ریاست ته د حیا اسناد وسپارل او زه بېرته روغتون ته راغلم

وټساف مې خلاص کړ مسج راغلی ؤ متخصصې لیکلي وو چې نن پنځه بجې یو عملیات لرو ته نوکري یې؟

و مې لیکل هو نن نوکري یم

پنځه بجې شوې د عملیات خونې ۀ ترتیب اخته وم د عملیات خونې د عمومي دروازې د خلاصیدو غږ شو ۀ بیړه ور ووتم مخامخ متخصصه حیا او دوه نرسانې راننوتې

متخصصې سلام وکړ ویل یې څنګه یې؟

ما ویل شکر دی مننه تاسو څنګه یاست؟

ویل یې زه هم روغه یم

ما وې هغه د حیا اسناد مې هم د عامې روغتیا ریاست ته وسپارل

متحصصې او حیا ۀ شریکه مننه وکړه متخصصې زیاته کړه ډېرى کارونه یې له وزارته خلاص شوي هم دي یوازې دلته ریاست ته د دغه اسنادو سپارل پاتې وو نن به نو حیا هم په عملیاتو کې برخه راسره واخلي

حیا ته مې وکتل ما ویل ډېر خوشاله شوم بیا هم پخېر راغلی

حیا څو ځلې مننه وکړه

متخصصې ته مې مخ کړ ما ویل ستاسو پېژندل هم سخت شول بغېر د خبرو ممکن تاسې څوک سره و نه پېژني

متخصصې وړه مسکا وکړه اخِر د تره لور مې ده نو خود بۀ یو شان وو

تر هغې یې ناروغ راوړ ما خپل کار ترسره کړ متخصصه او حیا ۀ عملیاتو اخته شوې کټ مټ یې د فزیکي کړنو جوړښت هم یو ډول ؤ

عملیات هم ترسره شول متخصصه د لاسونو د منځلو وروسته زما خواته راغله ویل یې بیګا مې درسره وعده کړې وه چې نن ستا کار هم خلاصوم

ما ویل کوم کار؟

و یې خندل ویل یې هغه ستا مینه یادوم باید هغه خبره کړم چې زموږ پر ډاکټر پام وکړه

ما ویل ستا د اخلاص مننه خو زه دې یو ځل خپله هڅه وکړم

موږ ۀ خبرو وو چې حیا او یوه نرسه هم راغلل

متخصصې هغوی ته وکتل چې ځو هغوی د هو وویل او روخصت یې واخېست

زه هم ستړی وم اطاق ته لاړم د یو څه ارام لپاره پر خپل ځای وغځیدم

زړه مې ؤ چې نن شپۀ متخصصې ته صفا خبره وکړم خو لسو بجو ته ۀ تمه شوم

نهه بجې د متخصصې مسج راغی سلام

ما ویل ع سلام څهٔ حال دی

ویل یې ارامي ده له ځانه وایه

ما ویل دلته هم ارامي ده خاص څهٔ نشته

و یې لیکل خبر نه یې؟

ما وې د څهٔ نه؟

ویل یې پرون ورځ د ولسمشر سره پهٔ یو ځای له کابله راغلم مطلب پهٔ یو پرواز کې

ما ویل دا څنګه؟

ویل یې زه خو نو زه یم د الوتکې د ښکته کیدو وروسته ټولې لارې تړل شوې وې خو ماته د بې سرخده امبولانس ولاړ ؤ بې تکلیفه ترې راووتم

ما ویل بالکل پرون د هوایي میدان پرانېست غونډه وه چې ولسمشر هم ورته راغلی ؤ

ویل یې هو زه هم د دوی پهٔ ډله کې راغلم

ما وې تا منم ته نو ته یې تر تا څوک رسیږي

و یې خندل ویل یې غر سره ډغره ده

ما ویل غر هم ستا په مخ کې کم ښکاري

ما ویل چېرته یې ته؟

ویل یې نن روغتون کې نوکري یم

ما ویل حیا دې څهٔ کړه

ویل یې هغه پهٔ بې سرخده کې نوکري وه ماښام لاړه

ما ویل د حیا دې پخوا بیخي څهٔ راته ویلي نه وو ډېره ناڅاپه راغله

ویل یې هغې د پخوا پرې کارونه شروع وو زما پام شوی نه دی ګني درته ویل مې

و مې لیکل رب دې برياوې ور پهٔ برخه کړي ډېره ارامه او ښهٔ نجلۍ ښکاریده

ویل یې هو ښهٔ نجلۍ ده ټول پام یې کارونو ته وي

ما ویل ډېره ښهٔ ده سبا نوکري یې؟

د متخصصې مسج وځنډیدو

زه لاړم د فسبوک وال ته یو څهٔ مې د فسبوک د ملګرو پوسټونه وکتل ډېره موده مې پکې فعالیت نه ؤ کړی تر هغې د متخصصې مسج هم راغی لیکل یې وو ووښه ناروغ پسې ورغلې وم

ما ویل رب دې ووښه ستونزه نشته

ویل یې سبا ځم دوهمې دندې ته هلته د ورځې نوکري یم شپې ته بیا کومه نوکري نۀ لرم

ما ویل د حیا نوکري به درسره یو ځای وي که جدا جدا

ویل یې ممکن دلته روغتون کې سره څۀ وخت یو ځای وو خو هلته مشکله ده ځکه چې زه وم حیا به روخصت وي چې حیا وي زه به روخصت وم زمونږ د دواړو د جملې یوه کسه باید ضرور هلته وو

ما ویل ووبښه یوه شخصي پوښتنه کوم؟

ویل یې مهرباني

ما ویل څو کلنه یې؟

خندل یې چې ته خبر نه یې د نجونو به د عمر او د سړیو به د معاش پوښتنه نه کوې؟

ما ویل پوهېږم خو بیا هم

و یې لیکل ولې زما تزکره او اسناد دې نه وکتل؟

ما ویل چېرته مې وکتل یا یې ووګورم

ویل یې چې تاته مې درکړي وو چې سکېن یې کړه

ما وې نو سکېن کولو ته دې راکړي وو څه زما کتلو ته خو دې نه وو راکړي

ویل یې بیخي دې و نه کتل؟

ما ویل د سکین کولو بغېر یې مخ هم رباندې حرام دی چې کتلي مې وي هغه امانت ؤ

غلي وه لږه شیبه وروسته یې ولیکل پوهېږې اسناد کتل عادي خبره ده خو ډېره درڅخه خوشاله شوم همداسې امانت دار او ښه اوسې مننه

ما وې هیله کوم ژوندۍ اوسې

ویل یې زه یو ناروغ ته ورځم وروسته مسج درته کوم

ما هم موبایل کیښود پۀ دې فکرونو کې شوم چې څۀ ډول متخصصې ته د زړه خبره وکړم

نۀ پوهېږم چې نن څنګه داسې ناڅاپي ویده شوی وم چې سترګې مې وغړولې سهار ؤ

موبایل مې وکوت سیلېنټ راڅخه پاتې شوی وو متخصصې دوه مسجونه کړي وو خو زه پسې نه یم خبر شوی

مسج ته مې ریپلې وکړه چې سلام سهار پخېر ډېره ښښه کوه زه ویده شوی وم

نن پنجشنبه وه پوهنتون ته لاړم د هغه ځایه کور ته هم وختي لاړم ستومان سره پاتې شی

زما زړه ؤ چې بیګا مې متخصصې ته د زړه خبره کړې وای خو ویده شوی وم نن شپه مې سل فیصده پلان جوړ کړ چې هر څۀ پیښیري ورته وایم

ماسپیښین کې د مور سره د عمر دوی اخوال ته ورغلو مازدیګر او ماښام مو هلته تېر کړل د ډوډۍ وروسته کور ته راغلو

موبایل مې خلاص کړ متخصصې مسج هم کړی ؤ لیکلي یې وو رب دې ووبښۀ خو شوګیر صیب تاته دومره وختي خوب څنګه درغلی ؤ که بیګا د عاشقۍ پیریان درڅخه تللي وو

ما ویل نۀ پوهېږم ناڅاپي ویده شوی وم

تقریباً نن شپه مو مسلسل تر یوولسو بجو مسجونه سره وکړل پۀ یوې او بلې موضوع غږیدو

یوولس بجې متخصصې روخصت واخېست او زه پۀ دې فکر کې شوم چې د زړه خبره ورته وکړم

د زړه خبره مې باید وېساف ته ورته لیږلي وای مخامخ یا پۀ زنګ وهلو مې نشوه ورته کولای

په همدې کشمکش او ډار کې د شپې یوه بجه شوه

لاړم د متخصصې وېساف ته لیکل مې شروع کړل

اغلې متخصصې مینه قدرتي او طبیعي ده هیڅوک نه غواړي چې مین شي مګر دغه حالت د انسان د وسې پورته خبره ده د کومې ورځې مې چې لیدلې یې ارام او سکون مې ورک دي سرګردانه یم که تا سره مسج کوم یا روغتون کې درسره وم ښه وم ګني ستا بغېر یوه دقیقه هم نه تیریږي

پۀ دې هم پوهېږم چې زما او ستا ژوند ډېر توپیر سره لري د دې ترڅنګ د زده کړو کچه دې هم راڅخه زیاته پورته ده خو زه مجبور یم

اغلې ډاکټرې مینه درسره لرم

زما د شوګیرو ذهني ګډوډیو او ناراميی سبب ته یې

دومره مینه درسره لرم چې حدود نلري

زما پۀ فکر خیال او هر څۀ کې ته یې زما پۀ سترګو کې یوازې ستا انځور دی بغېر لتا ودان جهان راته بې مانا دی سل زره زړونه مې یو ځای کړل تاته مې د زړه خبره وکړه باقي ستا خوښه ده که رحم رباندې کوې یا سزا راکوې

متخصصې ته مې مسج ولیږلو نور مې زړه درزا شروع کړه وجود مې په لړزا شو څو ځلې مې ایت الکرسي پۀ ځان چوپ کړه داسې حالت ؤ چې بیانول یې سخت دي

اوس که خوب د ځان هټلر هم جوړ وای نشو راتللی بس ناست یم ژر ژر وېساف ګورم چې متخصصه به د مسج لیدلو وروسته څه ووایي

دوه بجې شوې همداسې ناست یم ان څلور بجې شوې تر دې چې اذان وشو

د اذان شل دقیقې وروسته موبایل ته زنګ راغی چې و مې کتل متخصصه ده اوس نو زه کله د زنګ پورته کولو توان لرم زنګ مې ور کټ کړ بل زنګ یې وکړ بل مې هم ورکټ کړ همداسې زنګونه وهې زه ځواب نۀ شم ورکولای

وېساف کې یې مسج وکړ چې زنګ ته ځواب راکړه

ما ویل همدلته لیکل راته وکړه

بس همدا زنګونه دي چې وهې یې د شلو زنګونو به یې ډېر وهلي وي

بیا یې وېساف ته مسج وکړ چې زنګ ځواب کړه

ما ویل نشم کولای همدلته یې راته ووایه

# څلوریشتمه برخه

بل ډول ډار واخېستم نه پوهیدم چې څۀ به ترسره کیږي متخصصه ژر ژر وټساف کې راته لیکي چې زنګ ته ځواب راکړه خو زه ورته وایم چې همدلته یې راته ولیکه

شیبه وروسته یې لاندې بیت راولیږلو

لکه چې زړه دې زما زړه سره صلاح کړي ده

زما پۀ زړه چې وه هغه خبره تا کړي ده

خیبره زه هم مینه درسره لرم

د کومې ورځې چې ما هم لیدلی یې احساساتو کې مې راګډ یې بیا د تعقیب وروسته بیخي راته ځانګړی شوې ستا بهترینو حویونو او عادتونو مې پۀ زړه منګولې راخښ کړې کوم ډول حالات چې تا درلودل هغۀ شان زه هم وم

الله خدایه تاسو څۀ فکر کوی چې د دې به ستره خوشالي پۀ دُنیا بله وي

پورته شوم اول مې پروردګار ته سجده وکړه

د خوشالۍ اوښکو مې ښکته په اننګو لیکې جوړې کړې داسې خوندوره شیبه وه چې زما په ژوند به یې بیا تقرار نه ؤ

د لمانځلو راسره څوک نه وو نه پوهیدم چې  څۀ ډول د دې خوشالۍ لمانځنه وکړم

ګټونکی وم هغۀ څه راته ممکن شول چې زما د خیال هم ناممکنه خبره وه

په شرمیدلي انداز مې پۀ مسج ورته ربپلې وکړه ما ویل تر اوسه نه یم ویده شوی تاته د مسج لیږلو وروسته قهر رباندې تېر شوی دی تر اوسه ویښ پاتې یم

خندل یې ویل یې ولې دومره ډاریدې؟

ما ویل څنګه به نه ډاریدم اخِر چاته د مینې اظهار ؤ خو ډاکټرې روغه پوهیدې چې مینه درسره لرم ولې تا رباندې ځان نه پوهولو

ویل یې ته څۀ خبر یې د کوم رکم کمشکش سره چې ته مخ وې داسې زه هم وم ته پوهېږې زه چې کابل ته کور ته پۀ روخصتۍ لاړه شم لس ورځې یا یوه اونۍ خو ضرور تېروم خو دا ځل ستا لپاره دوه ورځې وروسته واپس راغلم

ما ویل الله خدایه د قدرتونو دې جار شم

څو ځلې مې ځان وکتلو چې هسې نه ویده وم او خوب به وینم متخصصې ته مې ولیکل چې ایا زه خوب وینم که دا هر څۀ رښتیا دي؟

ویل یې هر څۀ رښتیا دي زه دې تل ترځنګ یم

ما ویل ټول جهانه مننه زما عمر دې هم ستا شي

ویل یې سهار وختي دی تا ټوله شپه تېره کړي ده ویده شه نن جمعه ده روخصت به هم وې

ما ویل هو نن د جمعې ورځ روخصت یم

و يې ليکل اوس ارام خوب وکړه ستونزې مشکلات هر څۀ د زړه ووباسه ذهن دې ښۀ کړه بيا هم وايم چې مينه درسره لرم خيبره

ما ويل سمه ده خو اوس به د ډېرې خوشالۍ خوب کله راشي

ويل يې توبه زه درته وايم چې ارام ضروري دی

ما ويل سمه په سترګو

ويل يې که ويده نشوې حق نه دربښم

ما ويل سمه ده

د دوو ګلانو پۀ منځ کې يې دوه زړونه راوليږل ويل يې ښۀ خوب ولرې سبا درته زنګ وهم

زه هم پورته شوم لمونځ مې درسره کړ غوښتل مې چې ويده شم خو شکمن به شوم چې دا هر څۀ خوب او دروغ نه وي بېرته به لاړم د متخصصې مسجونه به مې وکتل خو خبر نور ويده شوم

## پنځويشتمه برخه

ماسپيښين دوه بجې د خوبه راويښ شوم

بيخي ښکلی احساس مې درلود لکه هر طرف چې د پسرلي انځورونه ګورم

وټساف مې وکوت متخصصې دوه مسجونه کړي وو چې نور خو پورته شه خوب بۀ دې پوره کړی وي

د متخصصې مسج ته مې ځواب ورکړ پورته شوم ځان مې تيار کړ زموږ د کور ښکته نږدې پارک ته ووتم

پۀ پارک کې د خلکو لرې پر يوه چوکۍ کېناستم

د متخصصې بيګاني مسجونه مې کتل څۀ خوندور وو

تر هغې متخصصې هم مسج وکړ چې سلام

ما ويل ع سلام څنګه يې ډاکټرې؟

ويل يې شکر دی روغه يم ته څنګه يې خوب دې پوره کړ

ما ويل شکر دی زه هم روغ يم هو خوب هم پوره شو

همداسې مسلسل مو مسجونه کول

ويل يې چې د چټ څخه نور موبايل تر پوزې ډک شو ممکن نور ليکل پکې ځای نه شي مطلب يې دا وو چې زنګ به ووهو

متخصصې ته مې زنګ وکړ سلام

چون د مینې اظهار تازه شوی ؤ سخت ترې شرمیدم

سلام یې ځواب کړ ویل یې نور به غږیدلو ته پکې داخل شو د چټ مې ګوتې خوږیږي

ما ویل خوښۀ مې ده زه د زنګ وهلو هڅه ځکه نۀ کوم چې تاته زحمت نه شي

ویل یې هیڅ زحمت نشته

ما ویل لرې ګیلې خو دې درته وکړم

خندل یې ویل یې ګیلې باید زه درته وکړم

ما وې ته د څۀ ګیلې راته کوې

ویل یې ژوند دی هر انسان ګیلې لري خو د ګیلو اوریدلو مناسب کس نه وي ما اوس پیدا کړ

ما ویل هی ډاکټرې سختې تبې دې رباندې تېرې کړې

زیاته یې کړه ته به واېې چې تبې او سختې یوازې تا تیرې کړي زما د حاله څۀ خبر یې

ما وې راځۀ خبر به یې غواړو ربښتیا بیا هم مننه چې زما اظهار ته دې مثبت ځواب راکړ

ویل یې توبه د څۀ مننه راځخه کوې زما هم زړه ؤ

ما ویل خبر ته ډېره پۀ لوړه کچه یې

وو یې ویل دا یوه خبره جدي درته کوم ګوره نور به دغه د لوړې او ټیټې کچې خبرې د ذهن ووباسې

ما وې سمه ده بیا به داسې نه کوم

خندل یې چې غواړونه ونیسه

د غواړونو نیول به ممکن ټولو ته یاد وي پۀ ښوونځي مدرسه او یا کور به مو نیولي وي

متخصصې ته مې وویل چې غواړونه به ونیسم خو ستا کۀ زما؟

ویل یې ما څۀ ګنا کړې ته به یې نیسې

ما ویل ونیول

متخصصې ویل چې اوس ستا سره مخامخ کیدلو ته خفه یم

ما وې ته به یا خفه وې یا نه خو زه دومره خفۀ یم چې کرم او ریبم

خندل یې ویل یې که ناروغ کې د عملیاتو چړې راځخه پاتې شوې زیموار به یې ته یې

ما ویل که زما څخه د ناروغ په بې خوشی کې ستونزه جوړه شوه زیمواره به یې ته وې

متخصصې وویل چې چېرته یې اوس؟

ما خبرې ته خوله جوړوله چې د ماشومانو بال راغی په تندي ولګیدم زما د خولې څۀ خبره ووته متخصصې ژر وویل خبر خو دی څۀ خبره ده

ما ویل خیر دی د ماشومانو پۀ بال ولګیدم زما څخه لر لرې ماشومان فوټبال لوبه کوي

وېل یې سمه ده ما پوښتنه وکړه چې چېرته یې اوس؟

ما وېل زموږ د کور ښکته پارک دی هغې ته راغلی یم خو ته چېرته یې

وېل یې زه د اوسیدلو ځای کې یم حیا هم راسره ده

ما وېل ډېر ښۀ اوس به دې حیا سره پام بدل وي

وېل یې هو مخکې بیخي یوازې وم اوس ښه شوه

ما وېل شکر چې دومره څوک خو دې پیدا شول

و یې خندل چې اول یو څوک نه هم وو اوس په وار دوه پیدا شول؟

ما وېل دوه مطلب؟

وېل یې حیا او ته رښتیا یوه پوښتنه درڅخه کوم اجازه ده

ما وېل ته اجازې ته اړتیا نۀ لرې مهرباني

پوښتنه یې وکړه چې هغه د ځلا پۀ نوم نرسې سره ستا څۀ روابط وو؟

ما وېل هیڅ روابط مې ورسره نۀ وو یوازې ښۀ دوستان وو کله کله به مو تماس سره نیولو

وېل یې خبرې پټې نه کړې رښتیا راته ووایه

ما وېل باور وکړه چې بدون د دوستۍ مو هیڅ ډول اړیکې نه درلودې خو څنګه دې دا پوښتنه وکړه؟

وېل یې اول چې زه روغتون ته راغلم ډېر قدر او غزت یې راکولو ډېر غږ به مې هم پۀ ځلا کولو خو کله چې مې تا سره یو څه تماس ډېر شو ځلا ناڅاپي بدله شوه ان کله کله به یې زه تعقیبولم چې څۀ کوم د دې ترڅنګ به چې زه او ته سره مخامخ شوو ځلا به بیخي وارخطا وه

ما وېل هغه پسې مۀ ګرځه ما ووېل چې هیڅ ډول روابط مې نه ورسره لرل هغه هسې هم لاړه

وېل یې پۀ تګ یې خبره شوم ما سره دا پوښتنه وه ځکه مې ووېل

ما وېل ستونزه نشته

نن بیخي ډېر وغږېدو ان د مازدیګر د لمانځه وخت شو ما وېل چې لمنځونه به ترسره کړو د هغې وروسته دې که وخت درلود زنګ به ووهو

وېل یې ته دې لمونځ وکړه که خبر ؤ بیا به بیګاته غږیږو د اوس لپاره ښۀ وخت پر ځان پام کوه

متخصصې سره مې روخصت واخېست لمونځ مې ترسره کړ نور هملته کېناستم د متخصصې پۀ صداقت او انساني نزاکتونو مې فکر کولو د دې ترڅنګ د پروردګار بې انتها مهرباني چې زه یې تر دې ځایه ورسولم

همهاله مې درسونه ذهن ته راغلل له کله چې متخصصه راغلې زما څخه درسونه بیخي پاتې شوي دي

اوس به نو د دې لپاره هم کوشش کوم چې متخصصې ته کم رانشم باید اخِیرنی سمیستر په لوړه کچه ترسره کړم

پۀ همدې فکرونو او خیالونو کې ماښام شو زه هم کور ته راغلم

نهه بجې متخصصې مسج وکړ چې میوو

ما وېل پښې

خندا يې راوليږله چې پيشو دې هم راځخه جوړه کړه

ما ويل د ناز مې درته وويل دا نوم مې زيات خوښ دی

ويل يې ټوکه مې درسره وکړه هر ډول چې ته خوشاله يې ستومان سره پاتی شی

ما ويل مننه پوهيږې کوم سهار به چې تا ميوو راته ليکلي وو ورځ به مې ښکلي وه

ويل يې پۀ مسج کولو کې سخت لټ وې ډير وخت به مې وټساف کتلو چې ګوندې خيبر مسج کړی وي

ما وې زه ډاريدم چې د ډيرو مسجونو تنګه نۀ شې ليږل شوي مسجونو ته به مې هم پلمې لټولې ډير وخت به مې پۀ سټوری ځۀ درته وليکل

ويل يې دا خو وه فکر کوم زما او ستا د مسجونو کولو پلمې هم همدا دوې وې عمليات او سټوری

ما وې بالکل همداسې مستقيم مسج مې نشو درته کولای که خبر وای چې ستا هم راسره زړه ځي باور وکړه د کتابونو هومره اوږده مسجونه به مې درته ليږلی

خندل يې وو يې ويل چې زما د موبايل حافظه بيا ډکه شوه نور ليکل پکې نۀ ځايږي

ما ويل زنګ درته وهم متخصصې ته مې زنګ وکړ

ويل يې ميوو

ما ويل څنګه يې

ويل يې د پيشو خو دې وو نه ويل؟

ما وې پۀ زنګ درته نشم ويلی شرميږم

ويل يې سمۀ ده لږ څۀ وخت وروسته به بلد شو خو ګوره سبا چې روغتون ته راشې ماته سترګې راپورته نه کړې ګني د شرمه به مړه وم

ما ويل ما مخکې هم نشول درته کتلی خو چې ته مخامخ سترګې راپورته نۀ کړې

ويل يې غلی شه ښۀ راته ياد دي يوه ورځ مې د مخ ماسک لرې کړ داسې سترګې دې راکې خښې وې لکه باز چې د ښکار پۀ لټه وي

ما ويل شايد هغه د ډير متاثره کيدلو وجه وي نو کافرې پۀ دومره لږه شيبه کې دې هم راپسې فکر شوی دی

ويل يې خود زه هر طرف متوجې وم

ما ويل سمۀ ده سبا چې مخامخ شو ځمکه به ګورو

ويل يې سمۀ ده

## شپږويشتمه برخه

اوس هم زيات وغږيدو تقريباً تر يوولسو بجو مو خبرې وکړې د هغې وروسته مو روخصت سره واخېست

زه هم تر دوولسو بجو ویښ وم همدا د سبا ورځې د مخامخ کیدو فکرونه مې کول رانه هیر دي چې کله به ویده شوی وم سهار د زرکو پۀ خوږو نغمو پسې راویښ شوم

متخصصې بیا لیکل وو چې میوو سهار پخېر

مسج مې ور رېپلې کړ چې پشې ستا هم پخېر

نن خو مې باید چې پۀ ځان ګوتې وهلې وای همداسې مې وکړل د نورو ورځو برعکس مې پۀ ځان ډېره خواري وکړه

لاړم پوهنتون ته خو زړه مې پۀ روغتون کې ؤ

تلوسه مې وه چې ژر د پوهنتون روخصت شم او روغتون ته ځان ورسوم

روخصت شو پۀ بیړه روغتون ته روان شوم روغتون ته په رسیدو مې نن نوی جوړی شوی لباس پۀ تن کړ

د متخصصې پۀ انتظار یم دا ښه وه چې د ورځې نارینه عملیات نورو نوکریوالانو ترسره کړي وو

لږ وروسته د متخصصې مسج راغی سلام پوهنتون کې یې که روغتون ته راغلی یې؟

ما ویل ع سلام راغلی یم روغتون کې یم

ویل یې سمۀ ده نن دوه غبرګ عملیاتونه لرو

ما ویل زه تیار یم راځۀ

د عملیات خونې پۀ عمومي سالون کې ولاړم وم د عملیات خونې دروازې ته مې کتل د دروازې د خلاصیدو غږ مې احساس کړ چې ور مخکې شوم د عملیات خونې صفاکار ؤ په شا مې یو سوک ورکړ ما ویل ظالمه پۀ دوهمه دروازه به راغی وای

خندل یې ویل یې ولې دا دروازه یوازې ستا ده

ځو ټوکې مو سره وکړې نور لاړ

دوهم ځل د عملیات خونې دروازه خلاصه شوه څۀ ګورم چې متخصصه ده شاته یې حیا او دوه نورې نرسانې هم راننوتې نن نو متخصصې هم تازه لباس اچولی ؤ همدا ډول د روغتون پۀ لباس کې ښکلی واسکټ هم جوړ ؤ

یو څۀ ور مخکې شوم سلام مو سره وکړ خو یو او بل ته کتلی نشو کله کله یې پۀ ځنګ ووګورم غلې غلې مسکا وکړي سترګې یې په دیوالي ساعت کې ښخې وې ویل یې څنګه یاست خیبره؟

ما ویل شکر دی اغلې ډاکټرې پۀ دې هیله چې تاسو به هم روغه یاست

مننه یې وکړه

ما حیا ته ور وکتل ما ویل تاسو ښه یاست

هغې هم مننه وکړه ویل یې ستاسو روغتیا غواړم

دلته مو باید رسمي خبرې کړي وای ځکه چې حیا او دوه نرسانې ورسره وې

حیا او نرسانې به هم پسې خبنې وې تا به ویل چې پسې سرېخ دي

نرسې ناروغ پسې لاړې حیا اول نمبر عملیات خونې ته ننوته زه او متخصصه سره پاتې شوو

بس غلي سره ولاړ یو نه هغه څۀ ویلی شي او نه زه څۀ ویلی شم کله کله پټ پټ سره ووګورو خو سترګې سره نه شو مخامخ کولای

د دې خاموشۍ ماتول هم اړین وو ناځاپي مې ورته وویل چې میوو

متخصصه ناځاپي خندا واخېسته پۀ زوره زوره یې وخندل

ممکن په اول ځل متخصصې پۀ روغتون کې دا ډول خندلي وي

ماته هم خندا راغله خو پۀ زوره مې خوله بند کړه زما حیا ته فکر شو چې اوس به ضرور د متخصصې د خندا لپاره بهر راځي نو زه ژر دوهم نمبر عملیات خونې ته ننوتم

حیا د متخصصې پوښتنه وکړه چې خبر خو دی داسې پۀ زوره دې وخندل؟

د متخصصې سره بل ځواب نۀ ؤ ورته وو یې ویل چې د فسبوک پر صفحه ټوکه مخې ته راغله هغې ته مې وخندل  حیا بېرته عملیات خونې ته د ننه شوه

زه د عملیات خونې رابهر شوم چې څنګه یې ولیدم بیا یې خولې ته څادر ونیؤ

تر هغې د عملیات خونې پۀ عمومي دروازه نرسانو ناروغ را دننه کړ

متخصصې ماته وویل چې ته دې خپل کار ترسره کړه

ما مې خپل کار ترسره کړ حیا او متخصصې عملیات پیل کړل شیبه وروسته عملیات ترسره شول

متخصصې لاسونه وومنځل زما خواته راغله

نرسانو ناروغ ریکورۍ ته روان کړ

حیا هم د لاسونو پۀ مېنځلو اخته وه

متخصصې په دیوال لګیدلي بینر ته کتل زیاته یې کړه چون عملیات سخت ؤ خو ښۀ وه ترسره شول

ما ویل هو شکر کمیاب وو

نور نو نه زه څۀ ویلی شم او نه متخصصه

حیا هم زموږ خواته راغله متخصصې ته یې وویل چې نام خدای د دې روغتون عملیات خونه ډېره منظمه جوړه شوي ده ما نن هر څۀ وکتل

متخصصې ورغبرګه کړه هو ډېر ښۀ سیستم لري

حیا ماته راوکتل ویل یې متخصصې ستا کیسه راته وکړه فکر کوم د ډېر وخته دلته یاست

ما ویل هو اغلې زما ډېر وخت کیږي چې دلته یم

ویل یې ډېره ښۀ ده

پۀ دروازه د جراحۍ ډاکټر راننوت سلام او جوړ تکړه مو سره وکړل

متخصصې ته یې وویل فکر کوم هغه نوي متخصصه حیا همدا ده

متخصصې ورته وویل چې هو همدا ده

ډاکټر هم ورته وخندل چې دا خو کټ مټ ستاسو پۀ شان ده

متخصصې د هو ورته وویل ډاکټر خپل اطاق ته روخصت واخېست

نرسانو دوهم ناروغ هم رادننه کړ

د دوهم ناروغ عملیات هم پۀ ښۀ شان ترسره شول

متخصصه دروازې ته راووته غوښتل یې چې څۀ ووایي خو تر هغې حیا راغله حیا وو ویل چې ځو به؟

متخصصې ورته وویل چې لږ صبر نرسانې دې د ریکورۍ راوګرځي

زه نو نور هلته نشوم دریدلی د دوی سره مې روخصت واخېست خپل اطاق ته راغلم

پۀ ذهن کې مې د متخصصې ناڅاپي خندا کېناسته دومره ښکلې یې وخندل چې حد یې نۀ ؤ

ما ویل کاش هغۀ صحنه څو ځلې تقرار وای خو ممکنه نه وه نن داسې وو لکه د یو بله مرور ماشومان چې سره پخلا شي خو یو بل ته خبرې نۀ شي کولای

چون متخصصه ډېره جراتي وه خو نن هغه هم شرمیدله

لږ وروسته د اطاق راووتم دوی تللې وې ستومان سره پاتی شی

د نوکریوال نرس اطاق ته ورغلم څو شیبې د هغې سره کېناستم خو پۀ ذهن کې مې د متخصصې خندا تاویده بېرته اطاق ته راغلم وټساف مې وکوت متخصصې په سټورۍ لیکلي وو

د چا د مرګ دې تیاري کړي ده

نن خو دې بیا پۀ ځان خواري کړي ده

په سټورۍ مې ورته رېپلې نشوه کولای څو ځلې مې هڅۀ وکړه خو نه کیده

لاړم ما هم پۀ سټورۍ لاندې بیت کیښود

خود به مې لاس د زړه پۀ سر نیولی وینه

چې خندل دې پۀ مینه مینه

د ماښام وروسته متخصصې زما سټورۍ ته د خندا سټیکر ورکړ او و یې لیکل خیبره ستا د لاسه نن لږه پاتې وم ګني ټس مې کړی ؤ

ما وې ولې د څۀ ټس

ویل یې ما تر اوسه داسې پۀ زوره نه وو خندلي دا شکر چې بل څوک نه وو ګني خبره خرابه وه حیا ته مې هم ژر پلمه جوړه کړه

ما ویل نو داسې کافره خاموشي وه چې د خبرو کولو هیڅ لار نه جوړیده مجبور وم چې د میوو مې ویلي وای

د دې خبرې سره یې بیا پۀ مسج کې اوږده خندا راولیږله ویل یې تر اوسه هم خاندم

ما ویل زه ځان ته حیران یم چې څنګه مې د خولې د میوو لفظ ووت ګني نن ګونګی شوی وم

ویل یې هو نن دې سخته شوخي وکړه

ما ویل بل ډول خاموشي نه ماتیدله

ویل یې خاموشي دې داسې ماته کړه چې نږدې وه خندا مې ټول روغتون واوري لار کې حیا بیا راځخه پوښتنه وکړه چې ولې دې داسې پۀ زوره وخندل

ما همغه د ټوکې خبره ورته وکړه

ما ویل سخت شعر دې ستوري کړی دی

ویل یې هو ولا خلکو سخت تازه تازه لباسونه اچولي وو

ما ویل دا خو وه خو نن د نوي لباس ترڅنګ ښکلي واسکټونه هم اچول شوي وو

ویل یې تا بیا زما واسکټ هم ولېد؟

ما ویل خود

ویل یې بیګا مو سره ویلي وو چې ځمکې ته به ګورو

ما ویل تا بیا څنګه نوي لباسونه لیدلي چې ستوری کې دې شعر هم پرې پورته کړی

ویل یې پۀ هر صورت بیګا ته غږیږو حیا را روانه ده د اوس لپاره ښې چارې

متخصصې سره مې روخصت واخېست زه ډوډۍ خوړلو ته پورته شوم سخت وږی وم د غرمې هم د ډوډۍ خوړل راڅخه هیر شوي وو

## اوویشتمه برخه

د شپې نهه بجې مې متخصصه پسې مسج وکړ سلام څنګه یې؟

سمدستي یې ځواب راکړ ع سلام زه روغه یم ته څنګه یې؟

ما ویل زه هم ښۀ یم

ویل یې شکر چې ښۀ یې روغتون کې یې؟

ما ویل خود روغتون کې یم ماښام مې هم درته وویل

ویل یې ستا د میوو د لاسه هر څۀ رانه هېر شوي دي

ما ویل د میوو خو جار سخته خاموشي یې ماته کړه

و یې لیکل میوو یې پخېر کې

ما ویل ستا موبایل به هم د لیکلو تر پوزې ډک وي خو دلته شبکه کار نۀ کوي چې ساده زنګ سره ووهو

ویل یې خبر نن دې وي زه هم نوکري یم ګني پۀ وټساف هم زنګ وهل کیږي

ما ویل هو د وټساف زنګ رانه هیر شوی ؤ

متخصصې سره مې تقریباً یو ساعت لیکل وکړل نور مو روخصت سره واخېست

زه هم تر ډېره ویښ وم نور ویده شوی وم

سهار مې د امبولانسونو اوازونه تر غوږو شول راپورته شوم چې و مې کتل د مرده خونې تر مخې ولاړ وو

ممکن کورنیو خپل مړي انتقالول

مړي داسې نه وو چې روغتون کې مړه کیدل بلکې د هر ځایه به د عسل او یا د مرګ وروسته یو ځل روغتون ته راوړل کیدل یا به یو نیم سخت ناروغ روغتون کې مړ شو

وټساف مې ووکوت متخصصې مسج کړی ؤ میوو

لاندې یې لیکلي وو چې سهار دې نیمکرغه

ځواب مې ورکړ چې پشې ع سلام ستا دې هم سهار نیکمرغه وي مننه

د سهارنۍ ناشتې وروسته پوهنتون ته لاړم د هغه ځایه بېرته روغتون ته راغلم

ماسپیښین مې بیا متخصصه پسې مسج وکړ سلامونه

څو دقیقې وروسته یې ځواب راکړ ع سلام لکه چې د پوهنتون راغلی یې؟

ما ویل هو راغلی یم فکر کوم ته هم روغتون کې یې؟

ویل یې هو روغتون کې یم مګر اوس روانه یم

ما ویل پخېر لاړه شې

چون ډېر څۀ نه وو ما هم د تګ تیاری وکړ لاړم ښار ته عمر پسې مې زنګ وکړ چې چېرته یې؟

ویل یې کاپي شاپ کې یم راځه

لاړم کاپي شاپ ته عمر سره مې جوړ تکړه وکړل خو لږ وارخطا ؤ

ما ویل خیر خو دی داسې بل ډول یې؟

ویل یې پۀ غذب ککړ یم

ما ویل څۀ خبره ده

پۀ غوسه کې یې وخندل موبایل یې راکړ ویل یې دا ووګوره ما ویل دا خو ستا نوم او تخلص دي؟

ویل یې پۀ دې دیوالونه هم پوهیږي چې زما نوم او تخلص دي خو نقطه یې ووګوره

چې ځیر شوم کوم چا د فسبوک پۀ وال د عمر نوم او تخلص پوسټ کړي وو

ما ویل دا چا د څۀ لپاره؟

ویل یې یوه ملګرې مې ده نجلۍ ده هغې ته د کورنۍ کوم کس د انټرنېټ ولا موبایل پۀ لاس ورغلی زنګ یې راته وکړ چې ستا د فسبوک نوم څۀ دی چې زه دې فسبوک کې ووګورم

چې د فسبوک نوم مې ورته ووښودو هغې د سرچ پر ځای پر عمومي صفحه شير کړی دی اوس پۀ دې نه پوهيږي چې ډيليټ يې کړي

ښۀ شيبه مې ورته وخندل خو عمر غوسه ؤ غلی شوم ويل يې لار يې راګوره که يې د هغې د کورنۍ غړي ووينې خبره خرابه ده

ما ويل د فسبوک ماسټر خو ته يې زه به څه لار درته ووګورم ويل يې صبر

د فسبوک د فسورډ د بدلولو ځای ته ورغلو د هغه فسبوک ادرس نوم يې ورکړ خو فسبوک کوډ غوښتلو چې د موبايل شمارې ته لاړ

نجلۍ ته يې زنګ وکړ چې ووګوره د فسبوک ولا موبايل ته يو مسج درغی شپږ خروفه نمبر لري شته؟

نجلۍ ويل هو اوس يو مسج راغی

ويل يې هله ژر هغۀ کوډ راکړه نجلۍ شپږ خروفه کوډ ورته ووښودو عمر ژر فسورډ بدل کړ او هغه فسبوک اکونټ ته د ننه شو ژر ژر يې هغه پوسټ ډيليټ کړ چې نجلۍ د سرچ پر ځای د عمر نوم پوسټ کړی ؤ

عمر ژوره ساه واخيسته ويل يې شکر بچ شوم ګني خبره خرابه وه

نجلۍ ته يې زنګ وکړ چې بل وخت دې زما نوم په کوم څۀ کې سرچ کړی وي خوله به دربانديې ماته کړم لاړه شه موبايل هملته کېږده چې د کوم ځای دې اخيستی دی

ما خو يو څۀ ځان غلی نيولی ؤ خو بس بيا مې ور وخندل د دې سره عمر هم وخندل

ما ويل مه ورپسې ګرځه بلا وه خو بچيان ورسره نه وو

ويل يې دا شکر چې پوسټ اول زما مخې ته راغی ګني ختې مو ختلې وې

ما وې څه تېره شوه څۀ حال سوال دی؟

ويل يې ارامې ده ډاکټره تر اوسه خو څۀ نشته څه چې وو تا وليدل

ما ويل بس چې روغ او جوړ يې

زياته يې کړه ستا عاشوقي تر کومه ورسيده؟

ما ويل ما خو متخصصې ته اظهار وکړ او هغې هم وومنو

ويل يې رښتيا؟

ما ويل بالکل سخت خوند يې وکړ

ويل شکر چې د جنجالونو وتلی يې مزې کوه اوس پۀ دې خوشالۍ کې د زعفرانو د چای ترځنګ د دوو غبرګو بيريانيو اډر هم ورکړه د کاپي شاپ ولا ته

شاګرد ته مې غږ وکړ دواړه شيان مې راووغوښتل

عمر ته مې د جريان ټوله کيسه وکړه خو نور بايد نوي موضوعاتو باندې فکر وکړو

ويل يې څۀ ډول نوي موضوعات؟

ما ويل زه بايد متخصصه پسې جرګه ورولیږم هسې نه بل څوک راځخه مخکې شي ډاريږم

عمر ويل لږه حوصله وکړه دومره ژر هم نه پۀ دې اړه یو ځل د متخصصې نظر هم واخله او بیا ستا اخیري سمستر دی فکر کوم راتلونکي اونۍ مو وروستني امتخانات هم دي که هر څۀ یو ځای ته سره بوځې مشکل به شي

ما ویل دا خو ده باید امتخانات ښۀ ترسره کړم

ویل یې چې امتخانات ښۀ ترسره کوې نو بیا هر څۀ شاته پرېږده

ما ویل خوښه مې ده

عمر خندل چې هغه زما د یو بیت زور دې ولېد چې درته ښودلی مې ؤ او تا سټوري کړ ستومان سره اووسی

ما ویل هو د هغې زور مې همغه شپه ولېد خو ستا د نوم زور څنګه ؤ چې نجلۍ د سرچ پر ځای درپسې پوسټ کړ

دواړه پۀ خندا شوو عمر ویل چې اوس دې ښۀ پیغور راپسې زده کړ

ما ویل ما همداسې ورځ غوښتله

عمر ویل چې جالبه وه ما هم ورته ډېر وخندل

ما وې جالبه رښتیا هم وه

ماښام مې عمر روخصت کړ او زه هم کور ته راغلم

تر اتو بجو کورنۍ سره وم د هغې وروسته خپل اطاق ته راغلم د پوهنتون چوپټرې مې راټولې کړې دا دوه اونۍ بیخي راڅخه پاتې وې هیڅ مطالعه مې نه وه کړې

تر نهو بجې مې مطالعه وکړه

تر هغې د متخصصې مسج راغی میوو

ما ویل پښې

ویل یې ورځ دې ښه وه؟

ما ویل شکر بیخي ښه وه

ویل یې چېرې یې؟

ما ویل په کور یم مطالعه مې کوله

خندل یې چې ته او مطالعه؟

ما ویل نور یې ګوره چې په مطالعه لمبې درته بلې کړم

ویل یې افرین تکړه شه خو ماته پکې وخت ځانګړی کړه

ما ویل ته ټوله ځانګړې یې زما هر څۀ ستا دي

ویل یې ته یې کسه😜

دې مسج ته مې زیات وخندل

ما ویل زمونږ د لهجې لغات دې هم زده کړل؟

ویل یې خود اخِر دلته ژوند کوم رښتیا زما موبایل بیا د چټ څخه ډک شو نور پکې نه ځایږي

ما ویل صبر زه زنګ ووهم

متخصصې ته مې زنګ وکړ بیا یې د میوو غږ وکړ

کۀ رښتیا ووایم دغه غږ ورسره ځانګړی خوند هم کاؤ د متخصصې شوخي هم قیمتي وه او بیا بهتره دلته وه چې د متخصصې شوخي یوازې ما سره وه پۀ دندو او نورو ځایونو کې بیخي جدي او ځان ته وه

ما ویل پیشوګۍ څۀ حال دی؟

ویل یې اول اغلې وم بیا ډاکټره شوم بیا پیشو شوم او اوس د پیشو پیشوګۍ هم شوم

ما وې استعفرالله د ناز او ګرانښته درته وایم

ویل یې ما هم ټوکه وکړه ته به وایې چې پولیس مې درپسې درلیږلي

ما ویل بیا خو مننه

لاندې بیت یې راته وو ویلو

هر ناز به دې ورم د زړګي خان مې درته ووې

اوس کوږ د خیاله ګرځه چې جانان مې درته ووېل

امممم نور بیا صبا

ورخطا کیږی به نه نور هم شته

## اته ویشتمه برخه

لاندې بیت یې راته وو ویلو

هر ناز به دې ورم د زړګي خان مې درته ووې

اوس کوږ د خیاله ګرځه چې جانان مې درته ووې

ما ویل واه څۀ بیت دی

مننه یې وکړه ویل یې ناوخت دی یوولس بجې شوې نور به خوب ته پنا یوسو

ما ویل بالکل مې خوښه ده ورځه ویده شه

ویل یې ښۀ او ښکلې شپه ولرې

ما وې ښهٔ شپه مننه

سبا سهار راپورته شوم وټساف ته بیا هم د متخصصې مسج راغلی ؤ لیکلي یې وو میوو ګوډ مارنېنک

رېپلې مې ورکړه چې پشې ګوډ مارنېنک ټو

ځان مې تیار کړ پوهنتون ته لاړم هلته د امتحاناتو تیاری روان ؤ

د هغې وروسته روغتون ته راغلم لباس مې بدل کړ د دندې لپاره اماده شوم

وټساف ته مسج راغی متخصصه وه ویل یې سلام غرمه پخېر فکر کوم روغتون کې یې

ما ویل مننه ستاسو هم پخېر هو راغلی یم

زیاته یې کړه ماسپیښین ته یو عملیات لرو چې خبر وې

ما ویل سمهٔ ده زه تیار یم

د لمانځه وروسته د متخصصې د راتګ پهٔ تمه شوم تقریباً شل دقیقې وروسته متخصصه راوننوته ترڅنګ یې دوه نرسانې هم راننوتې

متخصصې سلام وکړ

ما ویل ع سلام ښهٔ یاست

مننه یې وکړه ویل یې تاسو څنګه یاست

ما ویل الحمدالله ښهٔ یم

نن یو څهٔ ښهٔ وو د تېرې ورځې شرم الوتلی ؤ خو بیا هم لږ لږ شرمیدلو

نرسې ناروغ پسې ورغلې ما متخصصې ته مخ کړ زړه خو مې غواړي چې په لوړ غږ د میوو ناره وکړم

خولې ته یې لاس کړ چې داسې ونکړې ولې مې خندا تر ټول روغتون رسوې

ما ویل ټوکې کوم حیا چېرته ده؟

ویل یې هغه هلته نوکري وه ممکن مازدیګر ته راشي

ما ویل راتلونکې شنبه زما امتحانات شروع کیږي نو باید لږه ګذاره راسره وکړئ

ویل یې ستونزه نشته ته دې پوره تیاری ونیسه

نرسو ناروغ رادننه کړ

عملیات ترسره شول متخصصه زما خواته راغله ویل یې ستا امتحانات شروغ کیږي نو باید ټوله پاملرنه امتحاناتو ته وکړې

ما ویل مننه ان شاءالله پوره کوشش کوم

ویل یې فکر کوم دا دې اخرې سمستر ؤ

ما ویل هو

نرسې راغلې متخصصې روخصت واخېست او لاړه

زه لاړم مطالعې ته کېناستم

تقریباً ماښام شو متخصصه پسې مې مسج وکړ چې څۀ حال دی؟

ویل یې څۀ نشته حیا هم راغلې ده موږ دواړه نوکري یو

ما ویل دا خو مو سات تېر دی

ویل یې هو زړه مې کیدو چې مسج درپسې وکړم خو نور به ستا د امتحاناتو پورې ډېره اړیکه نۀ درسره نیسم

ما ویل بدون د اړیکې نیولو سخته ده

ویل یې پوهېږم مګر د مخکې رکم نه باید لږ لږ وغږیدو نور ډېر وخت باید مطالعه وکړې

ما ویل سمۀ ده بیګا ته غږیږو؟

ویل یې د غږیدو امکان به نۀ وي خو مسج به وکړو

ما وې سمه ده چې وخت پیدا کړې مسج وکړه

ویل یې سمۀ ده زه درپسې مسج کوم

ما ډوډۍ ووخوړه نور بیا مطالعې ته کېناستم خو ډېر فکر به مې متخصصې سره ؤ په زور به مې ذهن د مطالعې په طرف ګرځوو

نهه نیمې بجې متخصصې مسج وکړ میوو

ما ویل پښې

ویل یې څنګه حال دی مطالعه دې څنګه ده

ما ویل ښۀ ده روانه ده کوشش کوم خو د مطالعه مې ډېره ته ذهن کې یې

لنډۍ یې راولیږله

تالبه خدای که به مولا شې

پۀ کتاب پروت یې یادوې شینکې خالونه

ما ویل چې د دې هم نه کیږي ډېر کوشش کوم خو بس ته یې او ستا تصور دی

ویل یې خېر زه هسې هم نه درنه تښتم ته دې ټول پام درسونو ته واوړوه

ما ویل کوشش کوم ان شاءالله

نن هم تقریباً تر لس نیمو بجو په وټساف کې سره اخته وو نور مو روخصت سره واخېست

ضروري وه چې مطالعه وکړم او اخیرې امتحانات پۀ ښه شان ترسره کړم بېرته مطالعې ته کېناستم

تر څو بجو به ناست وم خو هملته په چوپړ ور ویده شوی وم

سهار راپورته شوم وټساف مې وکوت د متخصصې مسج راغلی ؤ میوو سهار پخېر

هر سهار به مې د هر څۀ مخکې د متخصصې مسج کتلو هومره خوند چې د متخصصې مسج به درلود پۀ بل څۀ کې نه ؤ

لاړم پوهنتون ته د روخصتۍ وروسته مې متخصصه پسې مسج وکړ سلام روغتون کې یې که تللې یې؟

ویل یې یوولس بجې راغلې یم

ما ویل سمهٔ ده

ویل یې څهٔ خبره ده؟

ما ویل هیڅ خبره نشته د پوهنتون روخصت شوم فکر مې وکړ چې ته روغتون کې یې نو روغتون ته څم ګني کور ته څم

اوږده خندا یې راولیږله لیکلي یې وو اوس نو زما بغېر تاته روغتون هم خوند نه درکوي؟

ما ویل باور کړه همداسې ده زما هر څهٔ ته یې زړه مې غواړي چې تل تا سره خبرې وکړم

ویل یې زما هم زړه غواړي مګر د ژوند هره برخه باید ووپالو کورنۍ دنده زده کړې ټولنه او نور..

ما ویل همداسې ده خو زما ذهن کې یوازې ستا انځور دی

لاندې بیت مې ورته ولیګلو

بې ستا د یو څاڅکي خمار خمار نظر جانانه

که مې پهٔ سیند تنده ماتیږي نو کافر دې شمه

خندل یې ویل یې تر امتخاناتو به ټول احساسات کنترول کړې هغه چې ترسره شي بیا به هر څهٔ ښه شي

ما ویل سمهٔ ده

ویل یې لاړ شه کور ته ارام به وکړې او مطالعه به هم وکړې

متخصصې سره مې روخصت واخېست

مازدیګر کې مې د متخصصې د وټساف سټوري ولیده لاندې لنډۍ یې سټوري کړې وه

د یاره زړه صبرول ګران دي

که تعویذونه کړم د غاړې امیلونه

د شپې نهه بجې زنګ راغی چې و مې کتل متخصصه وه ما ویل سلام

ویل یې ع سلام څهٔ حالات دي

ما ویل ارامه ارامي ده بس ژوند روان دی ستومان سره ووسی

نن هم پهٔ ډېرو موضوعاتو وغږیدو روغتون دنده امتخانات او ټولنیز مسایل

د متخصصې سره خبرو ځانګړی خوند درلود پوه او با نزاکته وه هره خبره یې د فکر کولو وروسته کوله

بل ډېره مطالعه یې درلوده د طب ترڅنګ پهٔ نورو برخو کې هم ښهٔ پوهیدله

د نیم ساعت خبرو وروسته مو خدای پاماني وکړه

## نهه ویشتمه برخه

وخت تیریدو زما امتخانات هم ختم شول اوس مې نو باید د متخصصې د خپلولو هڅه کړې وای

روزانه به تماس کې وو اوس خو دومره سره نږدې شوي وو لکه یو وجود

متخصصې سره مې د کوژدې خبره شریکه کړې وه خو د جرګې په ورلیږلو سره جوړ نه وو

ما هر ځل هڅه کوله چې د متخصصې کورنۍ ته جرګه ورولیږم

ما سره مې کورنۍ او ورونیه هم جوړ نه وو ځکه چې زموږ او د متخصصې ژوند فرق درلود د ډېرو ستونزو او مشکلاتو وروسته مې کورنۍ یو څۀ رضا کړه

اوس نو د متخصصې اجازې ته پۀ تمه وم

د اجازې اخیستلو هم زیات وخت ونیوو خبر اجازه یې راکړه د متخصصې د کور ادرس مې معلوم کړ

اونۍ وروسته مې د کورنۍ غړي یو نږدې ملګری او زه کابل ته د متخصصې د غوښتلو لپاره د متخصصې کورنۍ ته ور روان شوو

زه د متخصصې د کور یو څۀ لرې ورته کېناستم کورنۍ مې د متخصصې کور ته ورولیږله

تقریباً څو ساعته وروسته یې زنګ راته وکړ چې ځو کورنۍ سره یو ځای شوم او را روان شوو

د دوی د خبرو داسې معلومیده چې د متخصصې کورنۍ به پۀ هیڅ صورت دا ریشته وو نه مني

ناهیلی او سرګردانه وم خو باید مبارزه مې کړې وای

د متخصصې د کورنۍ ترخنګ به کله کله خپله کورنۍ راته بلا شوه هیڅ به یې نه منل

زه مسلسل د متخصصې سره په جریان کې وم زموږ اوس یوازینی هدف همدا ؤ

شل ورځې تېرې شوې خو د متخصصې د کورنۍ هیڅ اخوال رانکړ

دلته یوه خبره دا وه چې کورنۍ یې زموږ په مینه او اړیکه هم نه پوهیدله

د مشر ورور د وټساف شماره مې یې پیدا کړه مشر ورور یې د هیواده بهر اوسیدلو بس لیونتوب ؤ مستقیم مې مسج پسې وکړ سلام زه خیبر یم د پلاني ځای یم

ویل یې ووبښئ زه تاسو نه پېژنم

ما ویل صبر زه ځان درپېژنم

ویل یې مهرباني

ما مې د زده کړو او دندې خبره ورته وکړه وروسته مې ورته وویل چې د متخصصې لپاره ستاسو کور ته پۀ جرگه درغلي وو خو تر اوسه ستاسو کورنۍ کوم ځواب رانکړ

ویل یې دا ریشته زموږ د کورنۍ نۀ ده خوښه

ما بار بار کوشش کولو چې ورور یې یو څۀ رضا کړم سوال زارۍ بېلابېلې خبرې مگر نتیجه یې منفي وه

اخِېر یې راته ولیکل چې زموږ خور متخصصه ده ته یو عادي ډاکټر شۀ به وي چې نور پۀ دې موضوع خبرې ونکړې

مگر ما بیا هم نه پرېښودو

نیت مې وکړ چې دوهم ځل هم کور ته جرگه ورولیږم کورنۍ په ډېره مشکله رضا کړه چې دوباره په جرگه ورشي

دلته نو متخصصه هم د ډانگ او پړانگ په منځ کې گیره وه حقه او حیرانه وه چې څۀ روان دي

خېر دوهم ځل هم زما کورنۍ پۀ جرگه ورغله خو نتیجه یې همغه منفي وه

د مشر ورور ترځنگ مې یې د دوهم ورور فسبوک ادرس پیدا کړ مسج مې ورته وکړ تقریباً دوه ورځې وروسته یې ځواب راکړ هغې ته مې هم ځان معرفي کړ او د متخصصې د جرگې ورلیږلو خبره مې ورته وکړه

دغه ورور یې اوروپا کې ؤ خو دغه هم د مشر ورور پۀ شان شو هیڅ یې نه منل ان گواښونه یې راته وکړل چې سم نه شې زه به دې سم کړم

باوجود د دومره خبرو او هر څۀ مې خبره نه پرېښوده

اخِېر یې کورنۍ مجبوره شوه د متخصصې یې پوښتنه وکړه چې خیبر څوک دی بار بار جرگې او مسجونه رالیږي

متخصصې ورته ویلي وو چې خیبر موږ سره دنده لري ډېر ښۀ انسان دی

کورنۍ یې ورته ویلي وو چې په هیڅ صورت دا ریشته د منلو نه ده او نه باید نور پرې وغږیږو

د دې ترځنگ د متخصصې وروڼه د حیا سره هم تماس کې شوي وو چې خیبر څوک دی؟

حیا هم ورته ویلي وو چې خیبر ډېر ښۀ ځوان دی خو کورنۍ یې نه پېژنو

زما بار بار کوششونو او تماس نیولو نور هم غوسه کړل بیخي خبره خرابۍ ته لاړه

زه د متخصصې سره مسلسل په صلاح او مشورو بوخت وم څۀ به کوو څه به کیږي او څۀ ډول به کیږي

ما یې بیا ورونو سره اړیکه ونیوه هغوی هم نور سترې شول متخصصې ته یې اخوال ورکړ چې نور دې هلته دندې پرېږدي کور ته دې راشي

خبره نور هم سخته شوه په دې ځای کې د متخصصې د روخصتۍ وخت راغی درې میاشتې وروسته به متخصصه د یوې اونۍ لپاره کور ته پۀ روخصت تلله

متخصصې ویل چې زه سبا کابل ته ځم له نږدې به د کورنۍ سره خبرې وکړم ممکن یو څه حل یې راپیدا شي

متخصصه پر سبا کابل ته لاړه ماسپیښین دوه بجې ورسیده وخت ناوخت به یې اخوال راکولو خو ناځاپي یې د شپې اته بجې وټساف بند شو بیخي اندیښنه کې وم خو د سبا لپاره په تمه وم خو پر سبا هم وټساف بند ؤ د متخصصې شمارې ته مې زنگ وکړ شماره یې هم بند وه دوهمې شمارې ته مې مسج وکړ مگر هغه هم بند وه

بیخي اندیښنو واخیستم لار راڅخه ورکه وه نه پوهیدم چې څۀ وکړم

په دې منځ کې درې څلور ورځې ووتې خو د متخصصې هیڅ اخوال رانغی مجبور شوم حیا ته مې مسج وکړ

سلام حیا دا څو ورځې د متخصصې شمارې وټساف او هر څۀ بند دي ایا کوم خبر یې لرې؟

حیا مسج وکړ چې ع سلام د متخصصې یې موبایل او هر څۀ نیولې دي ممکن نور درسره اړیکه ونلري لتا هم هیله کوم چې د متخصصې خپلول ناممکن دي نور کوشش مۀ کوه متخصصه اوس داسې ورځې تېروي لکه بندي

ستومان

اووف د حیا مسج یا لیونی کړم بیخي وارخطا شوم د متخصصې ښکلي زنده ګي او داسې بد وضعیت هیڅ راته د زغملو نه ؤ

ستومان ورور مو دوعاوو کی یاد ساتی

بله هیڅ کومه چاره نه وه پر سبا کابل ته روان شوم کابل ته د رسیدو وروسته مستقیم د دوی د کور ته پۀ طرف ورغلم ټوله ورځ مې د دوی د کور مخې ته تېره کړه چې ګوندې متخصصه راووځي خو د متخصصې څرک نه ؤ

د ماستختن لاړم کابل کې مې پۀ یوه هوټل کې ځان ته اطاق کرایه کړ

نه پوهېږم څۀ ډول شپه به مې تېره کړې وي هره دقیقه د متخصصې شمارې ته زنګ وهم خو بند وې

وروسته مې فکر شو چې سبا د شنبې ورځ ده متخصصه به ضرور دندې ته ستنیږي که ستنیدله نو د هوایي میدان د لارې به ځې سهار مې ټیکسي ونیوله سیده هوایي میدان ته روان شوم

تقریباً نیمایي مزل به مې کړی وي چې د متخصصې شمارې ته زنګ تېر شو

د لږ ځنډ وروسته یې زنګ ته ځواب راکړ سلام خیبر جان وو مې ښه هیڅ طریقه نه وه چې تا سره تماس ونیسم دا اوس هم لږ مخکې د کور راووتم دهوایي میدان سره یم

ما ویل زه هم کابل ته درپسې راغلی یم او هوایي میدان ته په لاره یم

ناره یې وکړه چې رښتیا؟

ما ویل هو

ویل یې بل ډول حالاتو کې یم نن یې هم موبایل د دې لپاره راکړ چې په لاره او دندې ته د رسیدو اخوال کورنۍ ته ورکړم د هغې وروسته به هلته حیا ته موبایل سپارم

ما ویل څوک درسره دي؟

ویل یې د مواسیسې پۀ موټر کې یم د کورنۍ څوک راسره نشته

ما ویل سمۀ ده زه هم درځم میدان ته

د لږ ځنډ وروسته هوایي میدان ته ورسیدم د متخصصې په موټر پسې ښکته پورته ګورم دا ښۀ وه چې د متخصصې د ورڅلو راوړلو یا ترانزېټ موټر ما پېژندلو

پنځه دقیقې وروسته د متخصصې موټر راغی د لرې مې ولیده چې متخصصه پکې ناسته ده

لکه لیونی پۀ موټر پسې روان شوم انتظار خونې ته نږدې متخصصه د موټر ښکته شوه او موټر لاړ

زه د متخصصې څنګ ته ورغلم چې ور و مې کتل دواړه سترګې یې د اوښکو ډکې وې

زه هم اوښلنې سترګې ورته ودریدم

سترګو کې مو سل زره سوالونه لرل خو د وخت تقاضا دا وه چې بې ځوابه پاتې شو

متخصصې په غریو نیولې انداز زیاته کړه ما ووبښۀ هیڅ لار نه وه چې تماس مې درسره نیولی وه

ما هیڅ نه ویل

متخصصه د ترمینل په طرف روانه شوه ویل یې چې بیا درسره اړیکه نیسم

د دوه قدمونو په اخیستلو به یې شاته راکتل زه لکه یتیم وچې شونډې پسې ګورم

د هر ځل شاته راکتل یې وژل ۀ

تر هغې یې راکتل چې په ترمینل ور ننوته او پنا شوه

شوخه او ښکلې متخصصه نن د معصومیت په انتها کې وه دومره معصومه شوې وه لکه ویشتلې مرغۍ

د متخصصې د پنا کیدلو وروسته زه هم اډې ته لاړم او خپل ولایت ته مې حرکت وکړ

تقریباً یو ساعت وروسته د متخصصې زنګ راغی چې زه راورسیدم ته چیرته یې؟

ما ویل چې زه هم په موټر کې یم در روان یم

ویل یې زه چې خپل ځای ته ورسیږم موبایل حیا ته سپارم کوشش کوم چې یوه لار جوړه شي

روخصت مو سره واخیست

زه هم  څو ساعته وروسته ورسیدم خو د متخصصې سره د اړیکې نیولو لار نه وه

داسې حالت کې وم لکه د دنیا ټولو ستونزو ته چې چا زما ادرس ورکړی وي

حل لارې راڅخه پټې او ورکې وې

بیا هم دوه ورځې د وینو پۀ خوراک تیرې شوې

که دلته حیا یو څۀ همکاري کولای نو دومره سخته نه وه خو کورنۍ یې حیا په متخصصه جاسوسه ګمارلې وه

حیا سره مې بیا خبرې وکړې چې همکاري نۀ شې کولای نو مخه مې نیسه

حیا ویل چې ستاسو کیسه ناممکنه ده که څۀ لار وه نو ما خپله همکاري درسره کوله خو هیڅ چاره نشته ښۀ خبره یې دا ده چې د متخصصې لرې واوسې

عجیبه دلته وه چې د دومره لوړ او ازاد ژوند څښتنه ولې دومره سخت تنګ او لنډ ژوند ته ور ووغورځې

مهمه خبره یې وه چې کورنۍ ګواښ ورته کړی ۀ ورته ویلي یې وو که دې خیبر سره اړیکه ونیوه موږ به تا سره هیڅ ډول اړیکه ونلرو ته به د کورنۍ لپاره مړه وې

تر اوسه یې کورنۍ دومره باور هم نه درلود چې متخصصه به خیبر سره مینه لري هغوی فکر کولو چې هسې یوه دوستانه اړیکه به وي خیبر سرزوري کوي

خبر ناڅاپه متخصصې اړیکه ونیوه ویل یې چې د یو موبایل طریقه راته جوړه کړه چې وخت ناوخت دومره خبر سره اخلو ما ویل سمه ده

لاړم یو موبایل او سیمکارت مې واخیستل وټساف مې پکې فعال کړ په ډېره خواری مې متخصصې ته وسپارو

اوس نو هغه متخصصه نه وه پاتې اندیښنو ډېر بد حالت ته رسولې وه هغه زموږ په اصطلاح نیمه هم نه وه پاتې

اوس بهتره دا شوه چې متخصصې سره مې وخت ناوخت اخوال اخیستلی شو خو متخصصې د حیا د لاسه موبایل دومره پټ کارولو لکه زندان کې چې یو نیم بندي پۀ پټه موبایل کاروي

وخت ناوخت اړیکه نیسو او مشورې کوو په همدې جیګرخونی کې د متخصصې بل روخصت برابر شو چې کور ته لاړه شي

متخصصه کور ته لاړه خو په ورځ کې یو یا دوه مسجونه کوي هغه هم ډېر پټ

درې څلور ورځې بیا هم دومره سرګردانې او د تشویش ډکې تېرې شوې لکه د قیامت ورځې

ستومان ورور مو دعاوو کی یاد ساتی

هغه د خاورین صیب

پۀ منځ کې مو د سترګو د رپ هومره فاصله وه

بیا هم رانه خاورینه څومره لرې وې یو شپه وه

متخصصه بېرته راغله خو تماس نیول بیخي محدود شول هلته کورنۍ ورته ویلي وو چې نور هر څۀ کابل ته رابدل کړه د هغه ځایه تېره شه خو دغه حالت یا د دې ځایه تلل د متخصصې خوښ نه وو ستومان وخت تیرېږي او متخصصه بد وضعیت ته روانه ده نهایي خرابه شوه هغه شوخي نازونه کړنې عملیاتونه هر څۀ صفر ته راغلل حیا د دې حالت په لیدو غمجنه وه وډاره شوه چې ممکن داسې څۀ پیښ شي چې بیا به یې جبرانول شوني نه وي

## دېرشمه برخه

حیا د متخصصې سره کېناسته چې ولې دغه شان حالت ته راغلې دا څۀ حال دی خپل ژوند ته راوګرځه

تر هر څۀ ستا راتلونکی مهم دی ته د دې خبرو باید پروا هم ونکړې مخکې ځۀ

متخصصې ورته ویلي وو چې د خیبر پرته هر څۀ بې مانا دي زه د خیبر سره د ځان هم زیاته مینه لرم

مینه راتلونکی او نور څۀ نه پېژني او بیا خیبر زما لپاره وړ او مناسب کس دی

خیبر ما مطالعه کړی زما لپاره د ټولې نړۍ سره هم جنګیدلی شي او بیا ته یې هم پېژنې خبر که ژوند یې یو څۀ توپیر راسره لري خو توپیرونه د تل لپاره نه وي هر څۀ بدلیدونکي دي بیا ژوند ډېر ژر بدلیږي

ته فکر وکړه زه به ضرور واده کوم خو د داسې کس سره به څۀ وکړم چې یو بل درک نکړو

حیا د متخصصې حالت او هر څۀ درک کړي فکر یې کړی چې باید کورنۍ سره یې خبره شریکه کړم

پۀ همدې جریان کې حیا د متخصصې کورنۍ ته خبر ورکړ چې متخصصه د خیبر سره مینه لري او متخصصه په بد وضعیت کې ده تاسو یې غم ووخورئ

زما چې څومره د وسه کیده کوشش مې وکړ خو متخصصه دا هر څۀ نه مني

زه او متخصصه به پۀ جریان کې وو ډول ډول مشورې او پلانونه به مو جوړول خو داسې څۀ نه سترګو کیدل چې مخکې پکې لاړ شو

بدقسمتي يې ووبلم که د حالاتو جبر یا یو امتحان چې باید صبر مو لرلی وای خو دلته د لویو لویو زنده ګیو خبره وه

ما به د متخصصې سره د مینې مخکې پر بعضو فلمونو او کیسو پسې خندل مطلب ما فکر نۀ کولو چې دوه انسان دې دومره سره ګران وي چې یو د بل یغېر دې ژوند ونکړای شي دا خبره زما لپاره بیخي جالبه وه خو راته جوته شوه چې رښتیا هم ګرانښت حد نۀ لري

د متخصصې سره د صلاح او مشورې وروسته مې پۀ همدې سخت جریان کې د دریم ځل لپاره د متخصصې کورنۍ ته جرګه ورولیږله خو نور مې خپلې کورنۍ هم قسم وکړ چې دا اخِېر ځل شو نور به پۀ جرګه ورنشو

مګر کورنۍ یې بیا هم ځان غلی ونیوو ترخنګ یې زما کورنۍ ته هم ګواښ ډوله غوندې خبرې کړې وې خو کورنۍ به ما په سوال او زاریو رضا کوله چې نور مې د دې تمه هم پرې شوه

کله یې چې مشر ورور د دې کیسې خبر شو چې زه او متخصصه زیاته مینه سره لرو نو خبره بیخي لانجې ته لاړه مشر ورور یې خبر ورکړ چې زه سبا وطن ته درځم او متخصصه دې دندو ته استعفا ورکړي ورور یې تر دې جدي ؤ چې وروستۍ فیصله یې همدا وه

دندو ته استعفا ورکول هم ګرانه خبره وه د متخصصې لپاره وړه خبره نه وه مګر د کورنۍ پرېکړه یې همدا شوه چې دندې پرېږدي او استعفا ورکړي

متخصصه هم نور تنګه شوه وه ممکن د کورنۍ سره د هر ډول اړیکې د پریکون پرېکړه یې کړې وای خو کورنۍ یې پوه شوه چې ممکن د متخصصې سره هومره سختي کول ښې پایلې ونلري د همدې امله یې چلند کې بدلون راوست

مشر ورور یې وطن ته راتګ هم وځنډولو دوی داسې ترتیب سره جوړ کړی چې نه سیخ وسوځي او نه کباب

متخصصه یې پۀ دې رضا کړه چې د اوس لپاره استعفا ورکړه کابل ته راشه د لږ وخت وروسته به هغه څۀ ترسره کړو چې ته یې غواړې

مطلب د متخصصې یې هیله کړې وه چې اوس زموږ وومنه دلته راشه د هغه وروسته به ستا وومنو

متخصصه هم مجبوره وه چې یو څۀ خو ضرور وومني بیا کورنۍ پۀ ژوند کې د مهمو برخو څخه ده عموم کې تر هر څۀ کورنۍ د انسان لپاره د فکر وړ ده

متخصصې د ډېر فکر وروسته دندو ته استعفاوې ورکړې د دې ځایه یې هر څۀ ټول کړل لکه کوم مسافر چې د تل لپاره خپل وطن ته روان شي بیا د مسافرۍ هیڅ پلان ونلري د اخِېر ځل لیدلو موقعې هم برابره نشوه پۀ همدې ورځ کابل ته لاړه

نۀ پوهیدم چې د اخِېر ځل لیدو هڅۀ یې ولې ونکړه کوم څۀ وو چې د اخِېر ځل لیدو مخه یې ونیوه

ایا متخصصې قصداً همداسې غوښتل چې سره و نه وینو یا کوم بل څۀ د نه لیدلو لامل شول دا هغۀ پوښتنه وه چې تر هر څۀ یې سخت ځورولم

ما فکر درلود چې ممکن اړیکه سره ولرو او وخت ناوخت بۀ تماس هم سره نیسو خو د وخت فیصلې نورې وې

بس د دې تګ وروسته د غمونو او دردونو ځلی شوم هر ډول روابط قطعه شول

زه هم هغه حالت ته ورسیدم لکه معتاد کس بدون د متخصصې ژوند کول سخت څۀ چې ناممکن وو

لاړم عمر ته مې زنګ وکړ د ښار پۀ یوه څنډه کې سره کېناستو پۀ اوښلنو سترګو مې ټوله کیسه ورته وکړه عمر هم زیات خفه شو خو یو ډاډ یې دا راکولو چې ستاسو مینه سپېڅلې ده باور لرم چې متخصصه به ضرور درسره اړیکه نیسي

پۀ دې خو زه هم باوري وم چې متخصصه به ضرور اړیکه نیسي مګر ډاریدم پۀ دې چې کوم بل ډول حالات رامنځته نه شي اوس داسې حالت ؤ چې هر څۀ ممکن ؤ

د متخصصې د کورنۍ مې د داسې سخت چلند تمه نه وه لکه دوی چې کوم ډول کړنې ترسره کړې

که رښتیا ووایم زه بیخي د ځان بې پروا وم خو د متخصصې ژوند راته مهم ؤ فکر احساسات هر څۀ مې د متخصصې پۀ طرف ؤ

زما ځوریدل اندیښنې بې خوبي هر څۀ د متخصصې لپاره وو متخصصه د ولس لپاره هم ضروري وه د متخصصې پۀ رکم د ولایتونو پۀ سطخه داسې څوک نه وو

زموږ ټولنه د زده کړو کار او هر څۀ له طرفه تر ډېره د نارینوو په اختیار کې ده کۀ پۀ دې منځ کې کومه نجلۍ تر دې حدودو ځان ورسوي ایا ضایعې یې سخته نه ده

## وروستۍ برخه

ډېر وخت ووتو د متخصصې هیڅ احوال نه ؤ نه پوهیدم څنګه به وي پۀ کوم ډول حالاتو کې به وي

پۀ همدې جریان کې مې د څلورم ځل لپاره خپلې کورنۍ ته سوال او زاری وکړې چې یو ځل بیا هم د متخصصې کورنۍ ته پۀ جرګه ورشي

کورنۍ مې رضا شوه او پر سبا کابل ته روان شول مګر د څلورم ځل ریشته لیږل هم بې ګټې ؤ خو دومره پوه شوم چې متخصصه روغه ده او کورنۍ سره ده

زه هم لکه لیونی د دُنیا ټولې چارې راڅخه پاتې وې یوازې د متخصصې غم ؤ

دوه اونۍ وروسته متخصصه پۀ کابل کې د خپلې کورنۍ سره یو واده ته تللې وه د واده څخه یې د بل چا له موبایله مسج وکړ چې زړګیه زه روغه یم خو د سختو بندیزونو سره مخ یم ان پۀ مرګ ګواښل شوي یم

مګر ته غلی مۀ کېنه هڅې دې جاري وساته بغېر لتا ژوند کول سخت څۀ چې ناممکن دي کاش زما پر توان څۀ پوره وای خو زه هیڅ نۀ شم کولای

ویل یې ته مې د مشر ورور سره تماس جاري ساته

دلته نو د متخصصې یوه ملګرې پیدا شوه چې متخصصې ورسره هر ډول راز شریک کولای شو همدې ملګرې ته یې ټوله کیسه کړې وه

د ملګرې یې هیله کړې وه چې کومک راسره وکړه زما احوال خیبر او د خیبر احوال ماته راکوه

همداسې وشول دغه ملګرې یې به یې وخت ناوخت خبر راکولو

یوه ورځ یې وویل چې متخصصې ته کورنۍ بیا د مرګ ګواښ کړی دی

دلته نو زما حوصله هم نور صفر ته ورسیده لاړم د متخصصې مشر ورور ته مې مسج وکړ چې متخصصه ستاسو سره زما امانت دی کۀ یې یو ویښته ته هم زیان ورسیدو سره ګورو به

وخت تیرېږي او زما کیسه سختېدله د جمهوریت د سقوط میاشت پوره شوه چې متخصصه د مشر ورور لخوا خارج ته ووغوښتل شوه

د متخصصې مسج راغی چې زه د هیواده بهر مشر ورور ته ورځم ته دې همداسې مبارزه کوه زه به هم د مشر ورور ډېره او لمن ونیسم که په زړه بې رحم راغی

متخصصه لاړه بهر ته

تقریباً لس ورځې وروسته یې بیا مسج وکړ چې ته غلی نۀ شې ورور سره مې تماس نیسه ممکن رضا شي یو ځۀ وعده یې هم راکړې ده

خو ورور یې څو ورځې وروسته بیا ناروا شو هر ځۀ یې هېر کړل ویل یې دا هیڅ ممکنه نه ده

متخصصه دا وخت بیخي د سخت حالت سره مخ وه ډکې سترګې د مشر ورور وطن ته راستانه شوه

ستا به زما نه ګیله کیږي

زما د کور پۀ خلکو نه رسي لاسونه

ښۀ خبره دا وه چې ماته به یې ملګرې د هرې خبرې خبر راکولو که دا نه وه بیخي سخته وه

د پنځم ځل لپاره مې کورنۍ بیا رضا کړه چې پۀ جرګه ورځو خو د نیمایي لارې راوګرځېدو دا ځل یې ورونو د جرګې ورلیږل هم نه منل

بس نو داسې وختونه او چارې خورا سختې وې مګر ما یې د متخصصې لپاره زغم درلود

تقریباً د دوو میاشتو پۀ جریان کې د سختې مبارزې او د متخصصې کلک ملاتړ په سبب یې مشر ورور دومره رضا شو چې یوه خبره یې راوکړه

ویل یې چې سمۀ ده موږ به ستا جرګه وومنو خو د هر څه بغېر به نغد پنځوس زره ډالر زموږ کورنۍ ته ورکوې باقي د واده مصارف او نور شیان به هم خپله کوې

ما وخندل ما ویل د دومره لوړ انسان لپاره یوازې دومره قیمت پۀ هر صورت موږ همدا اوس کابل ته حرکت کوو تاسو د دسمال راکولو تیاری ونیسئ

ویل یې نن ناوخت دی او نن زه هم وطن ته رسېږم سبا راشی

ممکن کورنۍ یې پوهیدلې وي چې بدون د دې خبرې د منلو بله لار نشته ځکه چې متخصصه هم پر همدې خبرې کلکه ولاړه وه

اوس به نو شپه پر ما ښۀ تېره شي بیلابېل فکرونه راسره مل وو ډاریدم چې بېرته پښیمان نۀ شي

خبر سبا شو کورنۍ دوه دوستان او یو ملګری مې کابل ته روان شول تر ماښامه ورسره اخته وو پۀ اخِېرو شیبو کې ورسره موافقې ته رسیدلي وو

د پنځوس زره ډالرو خبره یې هم ختمه کړې وه کورنۍ یې پۀ اخِېر کې یو ځۀ نرمښت ښودلی ؤ

چون ولور یو ځۀ لوړ ؤ خو بیا هم ښۀ ؤ

د ملګري زنګ راغی چې مبارک شه د متخصصې دسمال مو درته واخېست

نۀ پوهېږم چې څومره خوشالي به وې بیخي د ځانه ورک شوم پروردګار ته مې سجده وکړه

عمر ته مې زنګ وکړ د دې پر ځای چې ماته څوک مبارکي راکړي ما په نږدې کسانو پسې زنګونه ووهل

شیبه وروسته فسبوک زما د عکسونو او پوستونو ډک شو ملګرو او دوستانو مبارکۍ لیکلې

یوه ښکلې شیبه وه داسې شیبه چې زما ژوند یې بدل کړ هغۀ د پخواني ولسمشر خبره چې څومره یې زه وکړلم خو دوی مې هم کاپي وکړول

مګر دلته اصلي ستونزه دا وه چې مور ذهناً ځوریدلي وو د دې ذهني ځوریدنې تاثیرات تر اوسه موجود وو

متخصصه تر ننه د هغه ذهني ځوریدنې سره لاس او ګریوان ده مګر بیا هم شکر

متخصصه د کوژدې وروسته بېرته دندو ته راوګرځیده دواړه دندې یې بیا واخیستې

شپږ میاشتې وروسته مو د کابل پهٔ ستار هوټل کې د واده مراسم جوړ کړل د کورنۍ یو شرط یې پهٔ هوټل کې واده کول وو

توره لونګۍ سپینې جامې او تور واسکټ مې پر تن وو سم د چم ګاونډ ملک ښکاریدم

د واده مراسم ښکلي ترسره شول او متخصصه د تل لپاره زما د ژوند ملګرې شوه

لاړه پهٔ شا لاړه پهٔ خندا شوله

شکر دی زما شوله

# د ناول پای